



Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library


# د سعادت لاربنود

ليکوال :

## الحاج مولوي عصمت الله عزام

(مُدرس مدرسة العلوم الشرعية کوئټه)

خوښوونکی :

## مفتي غلام قادر نعماني

(رئيس دار الافتاء دارالعلوم حقانية اکوړه خټک )

ketabton.com - The Digital Library


**د کتاب پېژندنه**

**د کتاب نوم** : **د سعادت لاربنود**

**ليکوال** : **الحاج مولوي عصمت الله عزام**

(**مدرس مدرسه العلوم الشرعية کوئټه** )

**خوښوونکي علماء** :

**مفتي غلام قادر نعماني**

**(رئيس دارالافتاء حقانيه اکوړه خټک)**

**مولانا محمد ابراهيم فاني صاحب**

( **مدرس دارالعلوم حقانية اکوړه خټک** )

**مولانا عبدالقيوم حقاني صاحب**

(**مهتمم جامعه ابوهريره نوشهره** )

**د اول چاپ نېټه** : ۱۴۳۳ هجري قمري، ذو الحجه

جديد ايډيشن :۱۴۴۷ هجري قمري کال،ذوالقعدة

**د چاپ حق د ليکوال سره محفوظ دی**

ketabton.com - The Digital Library





| عدد | فهرست | صفحه |
|---|---|---|
| ۱ | د حقانیه (اکوړه خټک )د مشر مفتي تقریظ | ۶ |
| ۲ | د مولانا عبد القیوم حقاني تقریظ | ۷ |
| ۳ | د مولانا ابراهیم فاني صاحب تقریظ | ۸ |
| ۴ | سریزه | ۹ |
| ۵ | د سعادت او نېکمرغۍ اسباب | ۱۱ |
| ۶ | د ایمان شعبې او څانګې | ۱۹ |
| ۷ | د صحیح نیت ارزښت | ۲۹ |
| ۸ | د صحیح نیت له امله په ثواب کې زیاتوالی | ۳۲ |
| ۹ | صحیح نیت څنګه وي ؟ | ۳۳ |
| ۱۰ | په کومو کارو کې نیت ګټه کوي؟ | ۳۵ |
| ۱۱ | په یوه کار کې ډېر نیتونه | ۳۶ |
| ۱۲ | د انسان په ژوند کې د وخت اهمیت | ۳۸ |
| ۱۳ | د وخت ارزښت د قرآن کریم په رڼا کي | ۴۱ |
| ۱۴ | د وخت ارزښت د نبوي احادیثو په رڼا کي | ۴۵ |
| ۱۵ | د وخت ارزښت د علماوو او پوهانو په ویناوو کي | ۵۲ |
| ۱۶ | خپل وختونه څنګه قیمتي کولای شو ؟ | ۵۵ |
| ۱۷ | د لااله الاالله شرطونه | ۵۸ |
| ۱۸ | په عبادت کي مهم شرطونه | ۶۹ |
| ۱۹ | هغه څوک چي الله تعالی به ور سره خبري نه کوي | ۷۹ |
| ۲۰ | د الله تعالی د رضاء نښې | ۸۹ |
| ۲۱ | یوه ګناه چي انسان جنت ته داخلوي | ۹۸ |

ketabton.com - The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| ۲۲ | د لمانځه اهميت | ۱۰۲ |
| ۲۳ | د مسلمان کور بايد څنګه وي ؟ | ۱۰۹ |
| ۲۴ | په اسلام کي د ښو اخلاقو ارزښت | ۱۱۸ |
| ۲۵ | ښه اخلاق څه ته ويل کېږي؟ | ۱۲۴ |
| ۲۶ | د ښو اخلاقو علامات او نښې | ۱۲۵ |
| ۲۷ | ښه اخلاق څنګه په ځان کي راوستلی شو ؟ | ۱۲۶ |
| ۲۸ | د ځان سره حساب | ۱۲۷ |
| ۲۹ | د قبر عذاب چا ته ور کول کېږي ؟ | ۱۳۶ |
| ۳۰ | د قبر له عذابه د خلاصون لاري | ۱۳۹ |
| ۳۱ | ايمان څنګه له انسانه ځي ؟ | ۱۴۶ |
| ۳۲ | شيطان څنګه څوک د الله له لارې اړوي؟ | ۱۵۴ |
| ۳۳ | د يوې ښځي خبرې ټولې قرآني وې | ۱۶۶ |
| ۳۴ | د څلورو مذهبونو شرعي حيثيت | ۱۷۴ |
| ۳۵ | د توبې اهميت | ۱۸۱ |
| ۳۶ | د توبې تعريف | ۱۸۶ |
| ۳۷ | د توبې شرطونه | ۱۸۶ |
| ۳۸ | پای | ۱۸۹ |
| ۳۹ | د ليکوال نور آثار | ۱۹۰ |

ketabton.com - The Digital Library



نگران شعبہ تخصص فی الفقہ والافتاء
جامعہ دارالعلوم حقانیہ
اکوڑہ خٹک ضلع نوشہرہ، پاکستان

مفتی غلام قادر نعمانی
فون نمبر: ۰۹۲۳۶۱۳۰۹۸۰

حوالہ نمبر: ______ تاریخ: ۴ ذی الحجہ ۱۴۳۳ھ

باسمہ تعالیٰ

نحمدہ ونصلی علی رسولہ الکریم ط

أمّا بعد! قال النبی صلی اللہ علیہ وسلّم «الدین النصیحۃ»

دامت مرحومه د افرادو او معاشرے اصلاح او فساد څهٔ نه څهٔ تعلق نيغ په نيغه د علماؤ د کردار سره شته. له دے وجے د امت د اصلاح فکر کول د علماؤ اهمه ذمه داري او لويه فريضه دا. د دے فريضے ادا کولو د پاره د امت علماء په مختلفو شعبو کښې مثلاً تعليم، تدريس تصنيف او تقرير وغيره کښې خپله برخه اخلي.

د محترم مولوی عصمت الله عزام صيب مذکوره رساله هم د دغې سلسلے يوه کړي دا. سره د کمزورو مصروفياتو بنده دغه رساله ځائي په ځائي په سرسري نظر اوکتله او هيله لرم چه د عوام الناس د پاره به مفيده او کاراَمده وي.

الله پاک دِ محترم مولوی عصمت الله عزام ته د خپلے سعي اجر جزيل ورکړي. آمين.

(مفتی) غلام قادر عفی عنہ
صدر دارالافتاء دارالعلوم حقانیہ اکوڑہ خٹک

ketabton.com - The Digital Library


# د مولاناعبدالقیوم حقاني صاحب تقریظ

بسم الله الرحمان الرحیم

الحمد لحضرة الجلالة والصلوة والسلام علی خاتم الرسالة امابعد:
زما ورور مولاناعصمت الله عزام صیب ما ته خپل اولنی او تحقیقي کتاب: ( د سعادت لاربنود ) را واستولو، ما د خپلو مصروفیاتو او مشاغلو با وجود ډېر لږ وقت کښې اوکتلو.
ماشاء الله! مولاناعصمت الله عزام صیب په ډېرو اهمو موضوعگانوباندي لیکل کړي دي.
مولانا صیب د ډېرو لویو لویو علماوو نه استفاده کړې ده چې د هغوی نوم يې ځانته لوی سند دی، په هغي کښي زما مخدوم شیخ الحدیث والتفسیر حضرت مولانا مفتي محمد زرولي خان صیب باني جامعه احسن العلوم کراچي او شیخ الحدیث حضرت مولانا منظور احمد مینگل صیب دی استاذ جامعه فاروقیه کراچي دی.
د دې حضراتو په خدمت کې مولاناعزام صیب پاتي شوی دی او یو پوخ عزم او عقیده لري، حنفیت باندي پابند او د اسلافو په نقش قدم روان دی،الله تعالی دي ورته علمي ترقي نصیب کړي چې دغسي تعمیري کارونه کوي.آمین
داکتاب دعلماؤ،خطیبانو،طالبانو اوعوامو دپاره یوه ښه تحفه ده.
امیدلرم چې دقدر په نظر به کتلی شي.
وصلی الله تعالی علی خیرخلقه محمدوآله واصحابه اجمعین.

**عبدالقیوم حقاني(مهتمم جامعه ابوهریره خالق آبادنوشهره،خیرپښتونخواپاکستان) ۱۵رمضان المبارک ۱۴۳۳هجري**

ketabton.com - The Digital Library


## د حقانيې مدرسې د استاذ مولانا حافظ محمد ابراهيم فاني صاحب- رحمه الله - تقريظ

بسم الله الرحمان الرحيم

الحمدلله وحده و الصلاة و السلام على من لانبى بعده امابعد:

عرض دا دی چې د رسول الله - صلى الله عليه وسلم – ارشادگرامي دی:العلماء ورثة الانبياء علماء د انبياءكرام - عليهم السلام - د وظيفې وارثان دي.

چې څنگه انبياء کرامو د امت او د خپلو قومونو د ايذاء پروا نه کوله، دغه شان د علماوو هم دغه فريضه ده چې د خلقو د اصلاح د عقايدو او د اعمالو به پوره پوره خيال ساتي،چې په نتيجه کښي يوه صالحه او غوره معاشره په وجود کښي راشي.

د الله - جل شانه - فضل او کرم او احسان دی چې زمونږ علماوو دغه فريضه ډېره په احسن طريقې سره اداء کړې ده او دغه سلسله جاري او ساري ده او تر قيامته پوري به جاري او روانه وي.

محترمو لوستونکيو: ستا په لاس کښي چې کوم کتاب دی، دا هم د دغه لړۍ يوه کړۍ ده،محترم مولانا عصمت الله عزام صيب په مختلفو موضوعاتو او رنگارنگ عنواناتو سره دا زرين او قيمتي خطبات امت مسلمه ته وړاندي کړي.

زما دُعاء ده چې الله کريم دي دغه خطباتو ته قبوليت او مقبوليت ور کړي او امت دي ترې الله - جل شانه – مستفيد کړي. آمين

**کتبه: محمد ابراهيم فاني عفى عنه خادم العلم بجامعه دارالعلوم حقانيه اکوړه خټک نوښار صوبه خيبر پښتونخوا.**

**ذی قعده: ۱۵سنه ک۱۴۳۳هجري قمري.**

ketabton.com - The Digital Library



# سریزه

بسم الله الرحمن الرحیم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ نَحْمَدُهُ، وَنَسْتَعِينُهُ، وَنَسْتَغْفِرُهُ، وَنَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا، وَمِنْ سَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَهْدِهِ اللّٰهُ، فَلاَ مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْ، فَلاَ هَادِيَ له.وَأَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللّٰهُ _ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ _ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّداً عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

صلی الله تعالی علیه وعلی آله واصحابه ومن تبعهم باحسان الی یوم الدین.

امابعد: د الله تعالی په فضل او توفیق سره زما کتاب: الارشاد الی سعادة العباد (چې په پښتو کې یې نوم: د سعاد لاربنود دی) په خیر او عافیت بشپړ شو. دا زما لپاره د زړه له کومې د شکر، مسرت او روحاني خوښۍ یو ستره لحظه ده.

بې له شکه، د دنیا او آخرت حقیقي سعادت او کامیابي یوازې د هغه چا په برخه کېږي چې خپل ژوند د دین د سپېڅلو لاربنوونو سره سم تنظیم کړي. د آخرت نېکمرغي خو هر مسلمان ته څرګنده ده چې له دینداری پرته هېڅکله هم نه ترلاسه کېږي، خو دا یو مهم حقیقت دی چې د دنیا ارامي، سکون او حقیقي خوشحالي هم د دین له برکته حاصلېږي.

مال او شتمني، که څه هم د اړتیاوو د پوره کولو وسیله ده، خو په خپله نه شي کولی انسان ته قلبي سکون او دوامداره خوشحالي وروبخښي. بلکې ډېر ځله همدا مال د اندېښنو، تشویشونو او بې قرارۍ سبب ګرځي. که موږ د هغو کسانو ژوند ته ځیر شو چې د دنیا له شتمنیو څخه برخمن دي، نو دا حقیقت به راته لا روښانه شي چې هغوی ډېر ځله له بې وسو او نادارو خلکو څخه زیات په فکري اضطراب او ذهني فشار کې راګیر وي. دا سې شتمن خلک شته چې

ketabton.com - The Digital Library


د خپل آرام خوب لپاره درملو ته اړتیا لري، او له دې پرته د فکرونو او اندېښنو له امله د آرام شپه نه شي تېرولی.

برعکس، ډېر بېوسه او غریب خلک، سره له دې چې مادي امکانات یې محدود وي، خو د زړه له سکون، قناعت او اطمینان څخه برخمن وي، او ژوند یې له نسبي خوښۍ او آرامۍ ډک وي. له همدې څخه دا حقیقت په ډاګه کېږي چې د دنیا خوشحالي او نېکمرغي له مال او دولت سره تړلې نه ده، بلکې دا یوه روحي او ایماني سرمایه ده چې په دین کې نغښتې ده.

دا کتاب چې ستاسو په مخ کې دی، د هغو ګټورو او اصلاحي مقالو مجموعه ده چې د عملي کولو په صورت کې انسان ته د دنیا او آخرت د بریا او سعادت لاره هواروي. په دې کې داسې موضوعات راټول شوي چې د هر مسلمان لپاره مهم، ګټور او د ژوند د سمون سبب ګرځي. همدا راز، په دې کتاب کې راغلي احادیث صحیح او معتبر دي.

هیله ده چې درانه لوستونکي به دا کتاب په مینه، شوق او د عمل په نیت سره مطالعه کړي، څو ترې اعظمي ګټه پورته کړي.

الله تعالی دې دا عاجزانه هڅه زما، ستاسو او د ټولو لوستونکو لپاره د هدایت، سعادت او نېکمرغۍ وسیله وګرځوي، او دا دې زموږ د آخرت لپاره یوه غوره زادِ راه او نه ختمېدونکې صدقهٔ جاریه وګرځوي. آمین یا رب العالمین.

ketabton.com - The Digital Library


# د سعادت او نېکمرغۍ اسباب

د زړه سکون، باطني راحت، او رښتيني خوشحالي او همدارازد غمونو، اندېښنو او پرېشانيو ختمېدل، همدا حقيقي سعادت او نېکمرغي ده. هر انسان دا هيله لري چې نېکمرغه شي، آرام او اطمينان ومومي، او له دردونو او کړاوونو څخه خلاص ژوند ولري؛ نو ځکه د همدې مقصد د ترلاسه کولو لپاره بېلابېلې هڅې او کوښښونه کوي.

خو د انسانانو لارې سره بېلې دي: څوک نېکمرغي په واک، رياست او مشرۍ کې لټوي؛ څوک يې په مال او شتمنۍ کې؛ څوک يې په لوبو، تفريحي مشغولو او عبثو کارونو کې پسې ګرځي؛ او نور بيا هر يو په خپل ګومان بېلابېلې لارې غوره کوي. که له دغو کسانو څخه وپوښتل شي: «ته څه لټوې؟ ستا مقصد څه دی؟» نو ځواب به يې يو وي: «زه نېکمرغي غواړم، د زړه سکون غواړم، آرام او راحت غواړم، او له غمونو او اندېښنو څخه خلاصون غواړم.

نو ښکاره ده چې هدف د ټولو يو دی — او هغه د سعادت او نېکمرغۍ ترلاسه کول دي — خو د فکرونو، درک او عقلونو توپير د دې سبب ګرځي چې هر څوک يې په هغه لاره کې ولټوي چې ده ته سمه او ګټوره ښکاري. همدا وجه ده چې ډېر خلک خپله نېکمرغي په داسې چارو کې لټوي چې په حقيقت کې پکې د هغوی بدمرغي، تاوان او د دنيا او آخرت بربادي نغښتې وي.

ketabton.com - The Digital Library


د دنیا د ژوند د سمولو او بهبود لپاره کوښښ کول هم د شریعت خلاف نه دی. الله تعالی د نېک بختانو خلکو دا صفت بیان کړی چې هغوی د خپلې دنیا د ژوند سمېدل هم غواړي، لکه څنګه چې په قرآن کریم کې فرمايي: وَمِنۡهُم مَّن يَقُولُ رَبَّنَآ ءَاتِنَا فِي ٱلدُّنۡيَا حَسَنَةٗ وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِ حَسَنَةٗ وَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ (سورة البقرة:۲۰۱)

ژباړه: او له هغوی څخه ځیني دا سي چې وايي: اې زموږ ربه ! موږ ته په دُنیا کې هم ښېګڼه راکړه او په آخرت کې هم او موږ د اور له عذابه وژغوره !!

له دې مبارک ایت څخه دا معلومېږي چې د دُنیوي ژوند د سمېدلو آرزو او غوښتنه کول ناجائز نه دي بلکې اسلام موږ ته د داسې جامع ژوند لارښوونه کوي چې هم مو روح ارامه وي او هم مو مادي ژوند له عزت څخه برخمن وي.

الله تعالی پر خپلو بندګانو ستر احسان کړی دی: د سعادت او نېکمرغۍ لارې او اسباب يې په خپل مبارک کتاب کې په روښانه ډول بیان کړي دي، او همدا راز د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مبارکو احادیثو کې دا لارې په ډېره ښکلې، واضح او عملي بڼه تشریح شوې دي. نو هر څوک چې د غه الهي لارښوونې په اخلاص او عمل سره ومني، ان شاء الله تعالی هغه به رښتینی سعادت ومومي، نېکمرغه به شي، او له هر ډول خطرونو او تباهیو څخه به خوندي پاتې شي.

له همغو اسبابو څخه ځینې، په مختصره او لنډه توګه ستاسو حضور ته وړاندې کوو:

ketabton.com - The Digital Library



## ۱: ایمان.

## ۲: نېک عمل.

الله تعالی فرمايلي دي: مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُمْ بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ [النحل:۹۷]،

ژباړه: چا چې نېک عمل وکړ، که نارینه وي او که ښځینه خو چې مؤمن وي، نو حتمًا به ښه ژوند ور باندي تېر کړو او په آخرت کې د هغو ښو عملونو چې دوی به کول، لا ښه بدله ور کړو!!

همدا راز الله تعالی فرمايلي دي: إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ كَانَتْ لَهُمْ جَنَّاتُ الْفِرْدَوْسِ نُزُلًا [الكهف:۱۰۷]،

ژباړه: یقینًا هغو کسانو چې ایمان راوړی او نېک کارونه یې کړي، د هغوی لپاره به د فردوس باغونه مېلمستیا وي!!

له دې آیتونو معلومه شوه چې د ایمان او ښه عمل له امله د دُنیا او آخرت نېکمرغي تر لاسه کېږي.

ایمان د سعادت او نېکمرغۍ اساس دی، کله چې ایمان په چا کې وي، هغه کس نېکمرغه دی، که څه هم نور اسباب د نېکمرغۍ په هغه کې نه وي.

کله چې ایمان او نېک عمل په چا کې نه وي، هغه نېکمرغه نه دی، که څه هم نور ټول د نېکمرغۍ اسباب پکې وي.

ځکه ایمان اساس او بنسټ دی او له اساس او بُنیاد پرته ابادي نه شي

ketabton.com - The Digital Library


دربېدلی.

کله چې بُنیاد موجود شي، بیا نور منزلونه ور باندي جوړېدلی شي، که بُنیاد نه وي، نو نور منزلونه خو په هوا کې نه شي دربېدلی.

## ۲: د سعادت او حقیقي نېکمرغۍ له بنسټیزو اسبابو څخه یو مهم سبب د علم حاصلول دي.

علم هغه رڼا ده چې د انسان د ژوند تیاره لارې روښانه کوي، حق له باطل څخه جلا کوي، او انسان ته دا بصیرت وربخښي چې د دنیا او آخرت د کامیابۍ سمه لاره وپېژني. بې له علمه انسان د هر ځله په ناپوهۍ کې سرګردانه وي، د باطل شیان حق ګڼي او خپل زیان په ګټه تعبیر کړي.

په ځانګړي ډول، د دین علم هغه ستر نعمت دی چې انسان ته د خپل رب پېژندنه، د ژوند صحیح مقصد، او د نېکمرغۍ اصلي لارې ورښیي. د همدې علم په برکت انسان خپل اعمال سموي، نیت اصلاح کوي، او د الله تعالی رضا ته ځان نږدې کوي.

علم یوازې د معلوماتو راټولول نه دي، بلکې هغه پوهه ده چې د عمل سره مله وي. هغه علم چې په عمل بدل شي، هماغه د سعادت زینه ګرځي؛ خو که علم وي او عمل نه وي، نو بیا انسان ته ګټه نه رسوي، بلکې کله کله د وبال سبب هم ګرځي.

ketabton.com - The Digital Library



نو څوک چې د اخلاص، عمل او د الله د رضا په نیت علم حاصل کړي، بېشکه چې هغه د نېکمرغۍ پر لوریو ستر ګام اخلي، او د دنیا او آخرت د کامیابۍ دروازې ورته پرانېستل کېږي.

الله تعالی د علم حاصلول په دُنیا او آخرت کې د لوړوالي سبب ګرزولی دی: الله تعالی فرمایلي دي: يَرْفَعِ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ (المجادلة:١١)

ژباړه: الله – تعالی – په تاسو کې د هغو کسانو درجې لوړوي چې ایمان یې راوړی او علم ور کړی شوی، او الله – تعالی – په هغه کارو چې تاسو یې کوئ ښه خبر دی!!

٣: **تقوی او پرهېزګاري**: الله تعالی فرمایلي دي: وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مَخْرَجًا، وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ [الطلاق:٢-٣]،

ژباړه: او څوک چې له الله – تعالی – وېره کوي، ( الله تعالی ) به هغه ته د خلاصون لار پیدا کړي او له یوه داسي لوري به روزي ور کوي چې دی یې ګومان نه کوي!!

٤: **پر الله تعالی توکل**:

الله تعالی پر هغه توکل د بنده لپاره د کفایت او الهي مرستي لامل ګرزولی دی. الله تعالی فرمایلي دي: وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ [الطلاق:٣].

ژباړه :او څوک چې پر الله توکل وکړي، نو هماغه یې کافي او بس دی!!

ketabton.com - The Digital Library


معلومه خبره ده چې د چا لپاره الله – **جل جلاله** – کافي شي، د هغه د دُنیا او آخرت نېکمرغي په برخه شوه.

**۵: د احسان دواړه قسمونه:** د الله تعالی صحیح عبادت او د مخلوق سره ښه ژوند کول هم د سعادت او د الله تعالی د رحمت د حاصلېدو سبب دی:

الله تعالی فرمایلي دي: إِنَّ رَحۡمَتَ ٱللَّهِ قَرِيبٞ مِّنَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ [الأعراف:۵۶]

ژباړه: یقینًا د الله – تعالی – رحمت نېکانو ته ور نږدې دی!!

له دې مبارک آیت څخه معلومېږي چې احسان د الله تعالی د رحمت سبب دی.

په چا چې د الله تعالی رحمت وشي، هغه نېکمرغه دی.

**۶: صبر او تقوی:** په دې سره ښې نتیجې په دُنیا او آخرت کې په لاس راځي.

الله تعالی فرمایلي دي: وَٱلۡعَٰقِبَةُ لِلتَّقۡوَىٰ [طه:۱۳۲] ژباړه: او ښه انجام د تقوی خاوندانو لره دی!!

**۷: بل سبب د سعادت او نېکمرغۍ دُعاء ده.**

په دُعاء سره الله تعالی د دُنیا او آخرت کامیابي او نېکمرغي ور کوي او الله تعالی بندګانو ته د دُعاء غوښتلو امر کړی او د قبلولو وعده یې ور کړې ده.

الله تعالی فرمایلي دي: وَقَالَ رَبُّكُمُ ٱدۡعُونِيٓ أَسۡتَجِبۡ لَكُمۡ [غافر:۶۰]،

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: او ستاسو رب ویلي دي چې ما در وبولئ، سوال به مو قبول کړم!!

له الله تعالی څخه دُعاء غوښتل چې الله تعالی مو د دُنیا او آخرت نېکمرغي په برخه کړي، خصوصًا هغه دُعاء چې په مسلم شریف کې ذکر شوې ده چې رسول الله – صلی الله علیه وسلم– به کوله « اللَّهُمَّ أَصْلِحْ لِي دِينِيَ الَّذِي هُوَ عِصْمَةُ أَمْرِي وَأَصْلِحْ لِي دُنْيَايَ الَّتِي فِيهَا مَعَاشِي وَأَصْلِحْ لِي آخِرَتِي الَّتِي فِيهَا مَعَادِي وَاجْعَلِ الْحَيَاةَ زِيَادَةً لِي فِي كُلِّ خَيْرٍ وَاجْعَلِ الْمَوْتَ رَاحَةً لِي مِنْ كُلِّ شَرٍّ » ( مسلم ص: ۳۴۹ ج: ۲ )

ژباړه: یا الله! زما لپاره زما دین اصلاح کړه، کوم چې زما د کار ساتنه ده او زما لپاره زما دُنیا اصلاح کړه په کومه کې مې چې ژوند دی، او آخرت مې راته اصلاح کړه، په کوم کې مې چې بیا را ګرزېدل دي، ژوند راته په هر خیر کې د زیاتوالي سبب وګرزوه او مرګ راته له هر شر څخه د راحت سبب وګرزوه!!

همدا راز نوري مسنوني دُعاګانې کول.

## ۸: استغفار او له ګناهونو بخښنه غوښتل:

الله تعالی د استغفار لپاره ګڼې فائدې بیان کړې دي.

الله تعالی فرمایلي دي: فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا، يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَارًا، وَيُمْدِدْكُمْ بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ وَيَجْعَلْ لَكُمْ جَنَّاتٍ وَيَجْعَلْ لَكُمْ أَنْهَارًا ﴾ [نوح: ۱۰-۱۲].

ژباړه: او ورته ومې ویل چې له خپل رب څخه مو بخښنه وغواړئ، هغه

ketabton.com - The Digital Library


يقينا ډېر بخښونكى دى، اسمان به ډېر اورونكى در باندي را خوشي كړي، او په مالونو او زامنو به ستاسو مرسته وكړي، باغونه او ويالې به در ته پيدا كړي!!

چا ته چې د استغفار دغه فائدې حاصلي شي، هغه پرته له شكه نېكمرغه دى.

**۹: د الله تعالى ذكر او يادول هم يو مُهم سبب دى.**

الله تعالى فرمايلي دي: أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ (الرعد:۲۸)

ژباړه: خبر شئ! زړونه د الله په ياد ډاډه كېږي!!

**۱۰: پر انسان د الله تعالى نعمتونه د ځان سره يادول:**

په دې سره هم د انسان زړه خوشحالېږي، غم او پرېشاني ترې ځي.

**۱۱: د غم او پرېشانى د ختمېدو او د خوشحالى او نېكمرغى** لپاره يو مُهم اصل دا هم دى چې انسان فكر حاضر كار ته راغونډ كړي، تېره پرېشاني او راتلونكي سوچونه له پامه وغورزوي.

**۱۲: د الله تعالى د مخلوق سره ښېگڼه كول:** هر ډول ښېگڼه چې د انسان په وس وي، كه مرسته وي او كه ښه خبره وي، په دې سره الله تعالى له بنده غمونه او مصيبتونه گرزوي.

**۱۳: په يوه كار ځان مصروفول :**

كله چې څوك په يوه زړه پوري كار مصروف وي، نو په دې سره هم له پرېښانيو خوندي كېږي.

ketabton.com - The Digital Library


۱۴: **ښه کور، نېکه ښځه او ښه سورلۍ** : دا هم د انسان د ژوند په سمېدو کې ښه رول لري او په ځينو روايتونو کې د نېکمرغۍ له اسبابو څخه شمېرل شوي دي.

دا هغه مهم او بنسټيز اسباب دي چې په رښتيني ډول د انسان د دنيا او آخرت د سعادت او نېکمرغۍ ضامن ګرځي، په دې شرط چې په اخلاص، صدق او دوام سره عملي شي. ځکه يوازې پوهه او خبرې کافي نه دي، بلکې حقيقي بدلون هغه وخت راځي چې انسان دا لارښوونې په خپل عملي ژوند کې ځای پر ځای کړي.

الله تعالی دي د عمل توفيق راکړي او زموږ زړونه دي د ايمان په رڼا روښانه کړي، له غمونو، اندېښنو او بې‌لارۍ څخه مو وساتي، او د دنيا او آخرت رښتينی سعادت او تلپاتې نېکمرغي مو په برخه کړي. آمين يا رب العالمين.

# د ايمان شُعبې او څانګې

په دې خبره کې هيڅ د عقل خاوند اختلاف او شک نه لري چې په دُنيا او آخرت کې فلاح او کاميابۍ ته يوازې هغه څوک رسيدلی شي چې هغه په ځان کې د ايمان اوصاف راوستلي وي او ځان يې په ايمان پوه کړی او د ايمان ټولي شُعبې يې په عمل کې را وستې وي.

**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم-: الإِيمَانُ بِضْعٌ وَسَبْعُونَ شُعْبَةً فَأَفْضَلُهَا قَوْلُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَأَدْنَاهَا إِمَاطَةُ الأَذَى عَنِ الطَّرِيقِ وَالْحَيَاءُ شُعْبَةٌ مِنَ الإِيمَانِ.** (متفق عليه، مشکاة المصابيح ص: ۱۲ ج: ۱)

ژباړه: له حضرت ابوهريره - رضی الله عنه - څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه و سلم و فرمايل: ايمان څو اويا شُعبې (شاخونه) دي تر ټولو غوره (لويه) شُعبه يې د لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ اقرار کول دي او تر ټولو

ketabton.com - The Digital Library



وړه شُعبه يې له لارې د تکليف ورکوونکي شي لرې کول دي او حياء هم د ايما ن يوه شُعبه ده!!

په دې حديث شريف کې د ايمان شُعبې څو اويا ګڼل شوې دي، خو په بل روايت کې څو شپيته ګڼل شوې دي.

د دې احاديثو تطبيق داسي دی چې کله کله هره يوه شُعبه بېله شمېرل شوې ده، نو ځکه زياتې شي او کله يې بعضې په بعضو کې داخلې کړې دي.

په دې حديث مبارک کې د ايمان درې شُعبې بيان شوې دي، يوه يې اعلی او تر ټولو لوړه ده چې هغه د **لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ** وينا ده.

بله شُعبه يې تر ټولو وړه ده او هغه: **إِمَاطَةُ الأَذَى عَنِ الطَّرِيقِ.** يعني له لارې د داسې شي لرې کول چې چا ته تکليف رسوي لکه ډبرې، ازغي، خښتې او داسې نور...

دريمه يې متوسطه او منځوی شُعبه ده او هغه حياء ده.

له لارې د تکليف ور کوونکي شي لرې کول، که څه هم خلګ ډېر معمولي کار ګڼي، له همدې امله عمل کوونکي پر ې کم دي، په داسي حال کې چې دا د ايمان شُعبه ده او بايد عملي کړل شي.

په دې حديث کې د ايمان شُعبې په مختصر ډول ټولې بيان شوې او هغه داسي چې يوه يې اعلی، بله يې متوسطه او بله يې ادنی ذکر شوې ده.

نو د سر او پای او مينځ په ذکر کولو سره اکتفاء وشوه نورې هم پکې راغلې.

ketabton.com - The Digital Library



د ایمان ټولي (۷۷) اوه اویا شُعبې په نورو احادیثو کې ذکر شوي دي.

هر مسلمان باید د ایمان شُعبې زده او عمل پرې وکړي، د دې لپاره چې د دُنیا او آخرت نېکمرغي او سر لوړي مو په برخه شي.

له دې امله موږ دلته د ایمان ټولې هغه شُعبې په لنډ ډول لیکو، کومې چې له مختلفو احادیثو څخه علماوو را ایستلې دي.

ځیني شُعبې د زړه سره تعلق لري، ځیني د ژبې سره او ځیني د بدن سره.

همدا راز ځیني د ځان سره او ځیني د ټولني او عوامو سره.

## د زړه سره تعلق لرونکې شُعبې

دا دېرش شُعبې دي:

۱: پر الله تعالی ایمان: په دې کې د الله تعالی په ذات، صفاتو او توحید چې د ده په څېر هیڅ شی نه دی، ایمان راوړل داخلېږي (په داسې عقیدي سره چې الله تعالی د دې عالم ساتونکی، پیداکوونکی، إله او معبود دی.

د الله تعالی سره په دې کې هیڅ ډول شریک او د برخي خاوند نشته، نه په پیدا کولو کې، نه په پالني او چلولو کې.

الله پاک هر څه اوري او په هر څه خبر دی، د سینو په خبرو هم پوه دی، نه په زمکه کې یو شی ترې پټیدلی شي او نه په اسمانو کې.

الله تعالی د کمال، عزت، جلال، جمال او د لویي په صفاتو سره متصف دی.

الله تعالی اسماء حُسنی(ښائسته نومان) او لوی لوی صفات لري.

ketabton.com - The Digital Library


د الله پاک صفات د چا سره ورته والی او مُشابهت نه لري، لکه څنګه چې يې ذات د نورو ذواتو سره مشابهت او ور ته والی نه لري.

مورږ د الله تعالی په ټولو نومونو او صفتونو ايمان لرو، کوم چې الله تعالی د ځان لپاره بيان کړي او يا هم د الله پيغمبر - صلی الله عليه وسلم – د الله په هکله بيان کړې دي).

۲: په دې خبره ايمان لرل چې دا مخلوقات ټول حادث او د الله تعالی مخلوق دي.

۳: په ملائکو ايمان راوړل.

۴: په ټولو اسماني کتابونو او صحيفو ايمان راوړل.

۵: د الله پاک په ټولو پيغمبرانو- عليهم الصلاة والسلام- ايمان راوړل.

۶: په دې خبره ايمان راوړل چې د خير او شر تقدير د الله – تعالی – له لوري دی.

۷: د قيامت په ورځ ايمان راوړل،په دې کې په قبر کې سوال، د قبر عذاب، پس له مرګه را ژوندي کېدل، د الله – تعالی – حضور ته را غونډېدل، د بندګانو سره د حساب کېدل، د اعمالو د تللو لپاره ترازو او پُل صراط د ټولو منل داخلېږي.

۸: په جنت او د جنت په همېشوالي ايمان راوړل.

۹: په دوزخ او د دوزخ په همېشوالي ايمان راوړل او په دې چې جهنم نه ختمېږي.

۱۰: محبة الله( د الله تعالی سره محبت کول)

ketabton.com - The Digital Library


۱۱: الحب في الله و البغض في الله( خالص دالله پاک لپاره د چا سره مینه کول او د الله پاک لپاره د چا سره بُغض کول.

په دې کې د مهاجرینو او انصارو ټولو صحابه کرامو- رضی الله عنهم –او د نبي - علیه السلام - د اهل سره محبت کول داخلیږي.

۱۲: د رسول الله - صلی الله علیه وسلم – سره ( تر بل هر چا زیات ) محبت کول.

په دې کې په رسول الله - صلی الله علیه وسلم – باندي درود ویل او د ده د سنتو تابعداري کول هم داخلیږي.

۱۳: اخلاص: په دې کې د ریاء ( ځان ښودني ) او منافقت پرېښودل هم داخلیږي.

۱۴: توبه او پښېمانتیا ( په خپلو گناهونو باندي )

۱۵: خوف ( له الله پاکه د زړه وېره چې په ظاهر او باطن دواړو اثر وکړي )

۱۶: رجاء. یعني د الله پاک د رحمت امید لرل.

۱۷: ( له الله - جل جلا له – څخه ) د نا اُمیدۍ پرېښودل.

۱۸: تل د الله پاک شکرونه کول.

۱۹: په وعده وفاداري کول.

۲۰: صبر کول.

۲۱: تواضع: یعني له زړه عاجزي کول او ځان تر نورو کم گڼل.

( عاجزي یوازي دا نه ده چې په خوله سړی د عاجزۍ الفاظ وایي )

په دې کې د مشرانو عزت او درناوی کول هم داخلیږي.

۲۲: ( د الله تعالی پر ټولو مخلوقاتو ) رحمت او شفقت کول، په دې کې پر کشرانو شفقت او مهرباني هم داخلیږي.

۲۳: په قضاء او تقدیر باندي راضي کېدل.

ketabton.com - The Digital Library


**۲۴**: پر الله - تعالی - توکل کول.

( د یادوني وړ ده چې توکل د کار لپاره د اسبابو د پرېښودلو په معنی نه دی بلکي اسباب استعمالول او نتیجه یې الله ته سپارل دي )

**۲۵**: ترک عجب: له خودپسندۍ او ځان خوښوني ځان ساتل.

په دې کې د ځان د ستاینې او پاکوالي بیانولو پرېښودل هم داخلېږي.

**۲۶**: ترک حسد: د حسد او کې نې پرېښودل.

**۲۷**: د مسلمان سره له دُښمنۍ کولو ځان ساتل.

**۲۸**: ترک غضب: یعني په دُنیوي کارونو کې له غُصې کولو ځان ساتل.

**۲۹**: ترک غش: له بدخواهۍ او دوکو ځان ژغورل.

په دې کې له بدګمانۍ او مکر ( فریب او چمو) ځان ساتل هم داخلېږي.

**۳۰**: د دُنیا د محبت پرېښودل.

د دُنیا د محبت پرېښودل د دوو شیانو د محبت په پرېښودلو سره راځي: د مال محبت او د مُرتبې او اقتدار محبت.

دا دېرش شُعبې د ایمان هغه دي کومي چې د زړه سره تعلق لري.

اوس هغه شُعبې لیکو، کومي چې د ژبې سره تعلق لري، هغه اوه شُعبې دي:

## د ژبې سره تعلق لرونکي ایماني شُعبې

**۳۱**: په توحید سره تلفظ کول، همدا راز د نبي - علیه السلام - د پیغمبرۍ اقرار کول.

**۳۲**: د قرآن کریم تلاوت کول.

ketabton.com - The Digital Library


۳۳: د ديني علم تعلم او زده کړه کول: ځکه علم هم نور (رڼا) ده، ايمان هم نور دی، دواړه سره لازم دي.
۳۴: د دين تعليم: يعني د ديني علم بل چا ته ور ښودل.
۳۵: دُعاء کول: مؤمن به د الله تعالی څخه د خپلو حاجتونو د حل لپاره دُعاگاني غواړي.
۳۶: د الله تعالی ذکر کول، په دې کې استغفار هم داخلېږي.
۳۷: اجتناب لغو: له عبث او بې فائدې خبرو څان ژغورل.
دا اوه شُعبې د ژبې سره تعلق لري، اوس هغه شُعبې چې د بدن د نورو اندامونو سره اړيکه لري، هغه ټولي څلوېښت دي، چې شپاړس يې د بنده د ذات سره تعلق لري، شپږ يې د بنده د کورنۍ، اولاد او خادمانو سره تعلق لري او پاته اتلس شُعبې د عامو مسلمانانو سره تعلق لري:

## د بدن سره تعلق لرونکې ايماني شُعبې

۳۸: طهارت او پاکوالی: په دې کې د بدن، جامو، ځای ټول طهارتونه داخلېږي.
او د بدن په پاکوالي کې له بې اودسۍ څخه اودس کول، له جنابت، حيض او نفاس څخه غُسل کول( او تيمم د اوبو د نشتوالي په وخت کې کول) داخلېږي.
(همدا راز باطني اوظاهري دواړه صفايي ضروري دي).
۳۹: اقامة الصلاة: د لمانځه پابندي کول: په دې کې فرض او نفل دواړه داخلېږي. همدا راز د قضايي لمونځونو اداء کول هم داخلېږي.

ketabton.com - The Digital Library



۴۰: د زکات اداء کول: په دې کې ( نفلي ) صدقه او خیرات هم داخلېږي، سرسایه هم پکې داخلېږي، په دې باب کې سخاوت، ډوډۍ ور کول ( مسلمانانو ته ) او د مېلمه اکرام او عزت کول هم داخلېږي.
۴۱: روژه: که فرضي وي او که نفلي.
۴۲: حج: په دې کې عُمره کول هم داخلېږي.
۴۳: اعتکاف کول: په دې کې د لیلةُ القدر لټون هم داخلېږي.
۴۴: الفرار بالدین من الفتن: د خپل دین د ساتلو لپاره د فتنو له ځایه تېښته کول، په دې کې د شرک له ټاټوبي د توحید ټاټوبي ته هجرت کول هم داخلېږي.
۴۵: د نذرونو پوره کول او ور ته پام کول.
۴۶: د قسم په اړه فکر، له بې ځایه قسمونو ځان ساتل.
۴۷: د کفارې اداء کول( که هر ډول کفاره وي )
۴۸: په لمانځه کې د ننه او د باندې د عورت پټول.
۴۹: قُرباني: اختری کول( همدا راز نذري حیوان حلالول ).
۵۰: القیام بامرالجنائز: د جنازو د کار پابندي کول: یعني د مړه مسلمان تجهیز، تکفین، تدفین او د جنازې لمونځ کول.
۵۱: اداء الدین: د قرضونو اداء کول.
۵۲: الصدق في المعاملات: په معاملو او کاروبارونو کې صداقت او رښتینولي او له ځان ښودنې ځان ساتل )
۵۳: د حق خبرې شاهدي ور کول ( او د کوم دُنیوي یا نفساني مصلحت له امله یې ) له پټولو ځان ساتل.
دا شپاړس شُعبې د انسان د ذات سره تعلق لري.

ketabton.com - The Digital Library



اوس هغه شُعبې چې د کورنۍ د نورو افرادو او خادمانو سره تعلق لري، هغه شپږ دي:

## د کورنۍ سره تعلق لرونکې ایماني شُعبې

۵۴: التعفف بالنكاح: په نکاح سره ځان پاک لمنه کول (ځان له ګناه او بد نظرۍ څخه ژغورل)

۵۵: د اهل او عیال حقوق پوره کول: او په دې کې د خادمانو سره نرمي کول هم داخلیږي.

۵۶: د مور او پلار سره نیکي کول او له نافرمانۍ یې ځان ساتل.

۵۷: د اولاد (د شریعت مطابق) تربیت او روزنه کول.

۵۸: صلهٔ رحمي کول: د خپلوانو سره ښه ګوزاره او نېکي کول.

۵۹: د بادارانو تابعداري کول (دا حکم د غلام لپاره خاص دی)

اوس هغه شُعبې چې د عامو خلګو سره تعلق لري، د دغو تعداد اتلس دی:

## د عامو خلګو سره تعلق لرونکې ایماني شُعبې

۶۰: د حکومت او امارت په حالت کې عدل او انصاف کول. (همدا راز په دې کې دا هم داخلیږي چې هر څوک به په هر کار کې له عدل او انصاف څخه کار اخلي)

۶۱: د مسلمانانو د جماعت او ډلي تابعداري کول: یعني د صحابه کرامو - رضی الله عنهم – د جماعت چې کومه طریقه وه، پر هغې روانیدل.

۶۲: د أُولوا الامر (د واکمنو مشرانو) تابعداري کول (په دې شرط چې د دوی خبره د شریعت مخالفه نه وي)

ketabton.com - The Digital Library


۶۳: د خلګو تر منځ اصلاح او جوړ جاړی کول (کله چې یې تر منځ اختلاف او جګړه پیدا شي).
په دې کې د اسلامي حکومت د باغیانو سره جنګ کول هم داخلېږي.
۶۴: د خیر او نېکۍ په کار کې اعانت او مرسته کول.
۶۵: امر بالمعروف او نهي عن المنکر (د ښو کارو امر او له بدو کارو منعه د خپل وس مطابق کول.
۶۶: د شرعي حدودو قائمول.
۶۷: د الله – تعالی - په لار کې جهاد کول. په دې کې د الله عزوجل په لار کې پیره کول هم داخلېږي.
۶۸: د امانت (خپل خاوند ته) اداء کول: په دې کې د خُمس (او نورو شرعي حقونو) اداء کول هم داخلېږي.
۶۹: حاجت مند ته قرض ور کول او د قرض اداء کول.
۷۰: د ګاونډي عزت او درناوی کول (او ښه ژوندون ور سره تېرول).
۷۱: حُسن المعاملة: معامله او کاروبار په سمه توګه سر ته رسول: په دې کې دا هم داخلېږي چې مال به له حلال مال څخه راغونډوي.
۷۲: مال په خپل محل او موقع استعمالول: په دې کې له بې ځایه لګښتونو او اسراف څخه ځان ژغورل هم داخلېږي.
۷۳: د سلام جواب ور کول.
۷۴: د عاطس (د پرنجېدونکي) ځواب ور کول (یعني که پرنجېدونکی (نړونکی) الحمد لله و وایي، نو په ځواب کې ور ته یَرحَمَکَ الله ویل).
۷۵: له خلګو څخه د تکلیف بندول.
۷۶: له لهو او لعب (له داسي بې فائدې کارونو چې نه دیني فائده لري او نه دُنیوي) څخه ځان ساتل.

ketabton.com - The Digital Library


۷۷: له لاري څخه د تکلیف ور کونکي شي لري کول (لکه ازغي، ډبري او نورو تکلیف ورکوونکو شیان، په دې کې د خرابو لارو جوړول هم داخل دي).

دا ټولي اوه اویا شُعبې شوې چې د بخاري په شرح عُمدة القاري ص: ۲۱۲ج: ۱) کې ذکر شوې دي.

دغه شُعبې چې په څومره اندازه په مسلمان کې موجودي وي، هغومره به د کامل ایمان خاوند وي، که په چا کې ټولي راغلې، کامل مؤمن دی، که په چا کې بالکل نه وي، هغه پوره بدبخت دی.

الله پاک دي موږ ټولو ته توفیق راکړي چې د ایمان شُعبې په ځان کې راولو. آمین یا رب العالمین

# د صحیح نیت اهمیت

په عبادت کې نیت ډېر زیات رول لري، تر دې چې عبادت په نیت پوري تړلی دی، که د چا نیت صحیح وو، هغه ته به د ده د عبادت ګټه او ثواب په لاس ورځي، خو که د چا نیت غلط وو، عبادت یې هم بې ګټې دی، په آخرت کې به د داسي عبادت هیڅ فائده په لاس نه ورځي.

عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- «إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ وَإِنَّمَا لاِمْرِئٍ مَا نَوَى فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ فَهِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ وَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ لِدُنْيَا يُصِيبُهَا أَوِ امْرَأَةٍ يَتَزَوَّجُهَا فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ». (متفق عليه، مشكات ص: ۱۱ ج: ۱)

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: له حضرت عمر بن خطاب - رضی الله عنه - څخه روایت دی چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم – وفرمایل: اعمال په نیت پوري تړلي دي او هر سړي ته به هغه څه په لاس ورځي د کوم چې ده نیت کړی وي: د چا چې هجرت د الله او د هغه د پیغمبر لپاره وي، نو د ده هجرت د الله او د هغه د پیغمبر لپاره دی او د چا چې هجرت د دُنیا د لاس ته راوړلو او یا د ښځي د نکاح کولو لپاره وي، نو د ده هجرت د هغه څه لپاره شو د کوم شي (په نیت) یې چې هجرت کړی وي!!

په دې حدیث کې دا خبره په څرګند ډول بیان شوې چې د عبادت ثواب او فائده په نیت پوري ارتباط لري او دا چې هر چا ته به د ده د نیت مطابق بدله ور کول کېږي.

که د چا نیت په عبادت کې صحیح وو، یوازي د الله تعالی رضاء یې مقصد وه، هغه ته به الله پاک ثوابونه ور کړي او که یې نیت خراب وو، عبادت یې د قبلېدلو وړ نه دی.

په عبادت کې د نیت مثال د انسان د روح په څېر دی.

کله چې په انسان کې روح وي، انسان ډېر ارزښتناک وي، هر څوک یې خیال ساتي او مُثبت کارونه کولای شي او کله چې یو ځای ته لاړ شي، خلګ وایي چې فلانی راغی، خو که د انسان له بدنه روح ووته، بیا هغه انسان دی، خو په خلګو یې ساتنه تکلیف وي، په تلوار سره یې له کوره د خاورو په لور وړي.

او دغه انسان بیا هغه کارونه نه شي کولی، کوم چې یې مخکي کولی شول.

ketabton.com - The Digital Library


او که په یوه ځای کې وي، نو خلګ وایي چې د فلاني لاش دلته پروت دی، داسي نه وایي چې فلانی سړی پروت دی، ځکه چې اصل په انسان کې روح ده، بدن تابع دی.

همدا راز په عبادت کې هم اصلي شی نیت دی، که نیت صحیح وو، عبادت به یې فائده مند وي، که صحیح نه وي، عبادت خو به یې کړې وي خو بې ګټې به وي.

په عبادتونو کې نیت ډېر نا اشنا تأثیرونه لري چې په عبادت کې ښکارېږي.

تر دې چې مُباح کار د صحیح نیت له امله د ثواب مُستحق ګرزي او د غلط نیت له امله د ثواب کار بې فائدې ګرزي.

یوه عالم لیکلي دي چې الله تعالی ته د نږدې خلګو مُباح کارونه د دوی په حق کې عبادتونه ګرزېدلي دي، په هغو سره الله عز و جل ته نږدې کېږي. (الفرقان بین اولیاء الرحمان و اولیاء الشیطان ص: ۱۲۵)

عن أبي عبدِاللهِ جابر بن عبدِاللهِ الأنصاريِّ رَضي اللهُ عنهما، قَالَ: كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- فِي غَزَاةٍ، فَقَالَ: إِنَّ بالمدِينَةِ لَرِجَالاً ما سِرْتُمْ مَسِيراً، وَلاَ قَطَعْتُمْ وَادِياً، إلاَّ كَانُوا مَعَكُمْ حَبَسَهُمُ الْمَرَضُ. وَفِي رِوَايَة: إلاَّ شَرَكُوكُمْ فِي الأَجْرِ (رواهُ مسلم، رياض الصالحين ص:۲۱ ج:۱).

ژباړه: له حضرت جابر بن عبد الله – رضی الله عنه – څخه روایت دی چې موږ د نبي – صلی الله علیه وسلم – سره په یوه غزا کې ملګري وو، نو وئې فرمایل: په مدینه کې داسي سړي شته چې تاسو یو مزل نه دی کړی او نه مو یو مانده پرې کړی دی، مګر دوی ستاسو سره (په

ketabton.com - The Digital Library



ثواب کې ) ملګري دي، (ځکه ) دوی (د راتګ څخه ) مرض بند کړي دي. په بل روایت کې دي چې مګر دوی ستاسو سره په اجر کې شریک دي!!

له دې حدیث څخه د نیت فضیلت معلوم شو چې څوک د جهاد یا د بل ښه کار نیت وکړي، بیا ور ته عذر پېښ شي چې د هغه کار لپاره خنډ شي، نو ده ته به د هغه ښه کار د کولو په څېر ثواب ور کول کېږي او څومره چې دی یې په پاته کېدو تأسف زیات کوي، ثوابونه به یې زیاتېږي

## د صحیح نیت له امله په ثواب کې زیاتوالی راځي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم-: مَنْ هَمَّ بِحَسَنَةٍ فَلَمْ يَعْمَلْهَا كُتِبَتْ لَهُ حَسَنَةً وَمَنْ هَمَّ بِحَسَنَةٍ فَعَمِلَهَا كُتِبَتْ لَهُ عَشْرًا إِلَى سَبْعِمِائَةِ ضِعْفٍ وَمَنْ هَمَّ بِسَيِّئَةٍ فَلَمْ يَعْمَلْهَا لَمْ تُكْتَبْ وَإِنْ عَمِلَهَا كُتِبَتْ.(رواه مسلم ص:٧٨ ج:١)

ژباړه: له حضرت ابوهریره – رضی الله عنه – څخه روایت دی چې رسول الله –صلی الله علیه وسلم – وفرمایل: څوک چې د یوې نېکۍ اراده وکړي، بیا یې و نه کړي، د هغه لپاره یوه نېکۍ لیکل کېږي او څوک چې د نېکۍ اراده وکړي، بیا یې وکړي، د هغه لپاره لس نېکۍ لیکل کېږي تر ( ۷۰۰ ) اوه سوه چنده پورې.

او څوک چې د بدۍ اراده وکړي، بیا یې و نه کړي، هغه بدي نه لیکل کېږي، که یې وکړي، هغه (یوه ) بدي لیکل کېږي!!

ځینو عالمانو فرمایلي دي: چې د هر ځله وړوکی عبادت وي، نیت یې غټ کړي او د هر ځله لوی عمل وي، خو نیت یې وړوکی کړي!!

ketabton.com - The Digital Library



صحابه کرام – رضي الله عنهم – ځکه دومره لويي مرتبې ته و رسېدل چې د دوی نيتونه په اعلی درجه ښه وو.

يوه عالم فرمايلي دي: نيت تر عبادت مخکي وکړه! او تر څو چې ته د خير نيت لرې! نو ته په خير او ثواب کې مصروف يې!!

يوه بل عالم فرمايلي دي: الله پاک له انسان څخه د ده نيت او اراده غواړي. (يعني د عبادتونو ډېروالی نه غواړي چې په هغو کې نيت ګډوډ وي، بلکي صحيح نيت غواړي، که څه هم عبادت کم وي).

يوه بل عالم فرمايلي دي: د زړه روغتيا په ښو کارو سره کېږي او د کارو ښه کېدل د نيت په سمېدلو سره کېږي.

يوه عالم فرمايلي دي: نيت زده کړئ! ځکه نيت تر عبادت ډېر مؤثر دی.

يوه بل عالم ويلي دي: خير ټول په سم نيت کې را غونډ شوی او دا (د ښه نيت) خير ستا بس دی، که څه هم ته نه يې ورباندي ستړی شوی!!

يعني په سم نيت کې ډېر خير او ثوابونه شته، سره د دې چې په نيت سړی نه ستړی کېږي.

## صحيح نيت څنګه وي ؟

علماوو ليکلي دي چې څوک عبادت کوي، نو د صحيح نيت يې درې حالته دي:

اول: دا عبادت د الله د وېرې له امله کول.

دا د غلامانو او بندګانو عبادت دی.

ketabton.com - The Digital Library


دوهم: عبادت د جنت د تر لاسه کولو او له دوزخه د خلاصون لپاره کول.

دا د تجارانو عبادت دی.

دريم: عبادت له دې امله کول چې له الله - جل جلاله - څخه شرمېږي، د الله د بندګۍ د حق او شُکر د اداء کولو په خاطر، د دې سره بيا هم ځان پړ ګڼي، په خوف او ډار کې اوسېږي چې معلومه نه ده چې دا به قبول شي او که نه ؟

دا د ازادو خلګو عبادت دی، دې ته رسول الله - صلی الله عليه وسلم – اشاره کړې، کله چې يې پښې مبارکې د شپې په عبادت و پړسېدلې او حضرت عائشې - رضی الله عنها – ور ته وفرمايل: اې د الله رسوله! - صلی الله عليه وسلم - ته دومره تکليف په ځان تېروې، په داسې حال کې چې تا ته الله پاک مخکينۍ او وروستنۍ ګناوې ټولې در بخښلې دي ؟

رسول الله - صلی الله عليه وسلم – وفرمايل: أَفَلاَ أَكُونُ عَبْدًا شَكُورًا. (آيا د الله شکر ګذاره بنده نه شم ؟) (يعني زه په دې عبادت سره د الله پاک شکر اداء کول غواړم) (شرح الاربعين للنواوي ص: ۷)

دا درې قسمه خلګ چې ذکر شول، دا اقسام د هغه چا دي چې اخلاص لري، دوی ټول پر حق دي.

کله چې په يوه انسان کې اخلاص وي، نيت يې هم صحيح وي، نو بيا شيطان د هغه د عبادت د بربادولو لپاره کوشش کوي چې د ده په زړه

ketabton.com - The Digital Library


کې لويي راشي، ور ته وايي: ته خو داسي ښه عبادتونه کوې! ته خو ډېر ښه سړی يې!

تر نورو خلګو غوره يې! هغوی ستا په څېر ښه کارونه نه کوي، په دې توګه هغه مُخلص انسان هم په خپل دام کې د رانيولو هڅه کوي.

نو له دې څخه به هم انسان غفلت نه کوي.

## په کومو کارو کې نيت ګټه کوي ؟

د انسان ټول کارونه په دريو برخو وېشل کېږي:

۱: طاعات او عبادتونه.

۲: معاصي او ګناهونه.

۳: مباح کارونه چې په کولو کې يې نه ثواب شته او نه هم ګناه.

د عبادت ثواب په نيت پوري اړه لري، د صحيح نيت له امله ثواب وي، د غلط نيت له امله ثواب نه وي بلکي که رياء او ځان ښودنه يې په نيت کې وي، نو نه يوازي دا چې له ثوابه بې برخي کېږي بلکي ګناهګار هم دی.

ګناه په سم نيت سره له خپله حالته نه بدلېږي، نه ترې عبات جوړېږي اونه رواکېږي، که هر څومره څوک نيت په ګناه کې سم کړي، بيا هم ګناه ده.

که څوک د چا غيبت د دې لپاره کوي چې بل مسلمان ور باندي خوشحال کړي، په دې نيت غيبت نه ورته روا کېږي.

ketabton.com - The Digital Library



یا غلا وکړي، روپۍ یې خیرات کړي، د غریبانو سره مرسته وکړي، په دې سره له ګناه څخه نه خلاصیږي او نه ور ته روا کېږي.

همدا راز نوري ګناوي هم دي.

په ګناه کې نیت په دې ډول دخل لري چې کله د ګناه سره ډېر نیتونه چې ناسم وي، یو ځای شي، پېټې او وزن یې زیاتېږي.

مُباح کار (چې کول یې نه ثواب لري او نه هم ګناه) د صحیح نیت له امله د ثواب وړ ګرزي.

د بېلګې په توګه د عطرو استعمال د خوند لپاره مُباح دی،د نبي علیه السلام د سنت د عملي کولو په نیت او دا چې مسلمانانو ته یې په ښه بوی سره خوند ورسېږي او له بد بوی څخه یې و نه ځورېږي،نو ثواب دی.

که څوک یې په دې نیت سره وکړي چې پر خلګو د مال په ډېروالي سره فخر کوي او یا بل ناوړه نیت ولري، نو بیا ګناه ده.

# په یوه کار کې ډېر نیتونه

په دې کې شک نشته چې په یوه عمل کې ډېر نیتونه که څوک وکړي، په دې سره یې ثوابونه زیاتېږي .

له دې امله علماوو فرمایلي دي چې باید په یوه عبادت کې ډېر نیتونه وکړل شي، د دې لپاره چې ثواب یې زیات شي.

ketabton.com - The Digital Library



په دې اړه د انسان سره د زړه بیداري، د خیر پر کارو حرص او د هغو ښو نیتونو علم کوم چې د یوه کار سره مناسب وي، مرسته کولی شي.

لکه د بېلګې په توګه په مسجد کې ځوک په کښېناستلو کې لاندیني نیتونه ټول کولی شي:

۱: دا د الله تعالی کور دی، ور ته داخلېدونکی یې د الله تعالی سره ملاقات کوونکی دی.

نو په دې کې د الله تعالی د ملاقات نیت کول.

۲: د لمانځه انتظار تر بل لمانځه وروسته.

۳: د اعتکاف په څېر د خپلو اندامونو د کنټرول نیت.

۴: الله تعالی ته فکر فارغه کول او د آخرت فکر.

۵: د الله تعالی ذکر او عبادت ته ځان له نورو کارو فارغول.

۶: د ګناهونو پرېښودل، ځکه په مسجد کې په ناسته سره له ډېرو ګناهونو انسان ژغورل کېږي.

۷: چاته د ښو کارونو امر کول او له بدو منع کول.

۸: د ملائکو د دُعاء تر لاسه کول.

ketabton.com - The Digital Library



همدا راز نور د خير نيتونه.

دا په داسي حال کې چې د الله تعالى د راضي کولو او د جنت د حاصلولو نيت به د خير په هر کار کې انسان لري.

همدا راز په نورو کارو کې همداسي ګڼ نيتونه کېدای شي، چې په دې سره به ان شاء الله تعالى په يوه کار سره الله تعالى موږ او تاسو ته ډېر ثوابونه راکړي.

الله – جل جلاله – دي توفيق راکړي چې خپل نيتونه سم کړو.

## د انسان په ژوند کې د وخت اهميت

وخت د انسان عُمر دی، په ژوند کې يې پانګه او سرمايه ده، که کوم انسان د خپل وخت له هر ضائع کېدونکي ساعته ګټه واخلي او هغه د علم په زده کړه کې او يا په داسي يوه کار کې ولګوي کوم چې ده ته ګټه رسوي، نو په دې سره به ډېر خه تر لاسه کړي او د سُستيا له مرض څخه به وژغورل شي.

انسان په دُنيا کې د وخت په ضمن کې ژوند کوي، خپله انسان له وخت څخه تعبير کوي، ځکه ته لس کاله يا شل کاله مخته داسي نه وې لکه څرنګه چې نن يې! نه په شکل، نه په علم او پوهه کې او نه په بدن او طاقت کې.

همدا راز لس يا شل کاله بعد به هم دغسي نه يې څرنګه چې نن يې!

ketabton.com - The Digital Library



نو د وخت په تېرېدو سره د انسان چاپېره هر شی بدلون مومي.

هره ورځ چې پر انسان تېرېږي، په دې سره يې عُمر کمېږي او مرګ ته نږدې کېږي.

نو عقلمند بايد خپل وخت غنيمت وګڼي او دغه وخت چې الله تعالی ور کړی، په هغه څه کې ولګوي، په کوم چې الله تعالی راضي کېږي او د ځان لپاره په دُنيا او آخرت کې سعادت او نېکمرغي تر لاسه کړي.

الله - جل جلاله – پر انسانانو بې شمېره احسانات کړي دي، بې شمېره نعمتونه يې ور کړي او هغه ټول ډېر ستر ستر نعمتونه دي او د ټولو قدر کول ضروري دي، خو ځيني نعمتونه ډېر زيات ستر دي د هغو خوا ته پام کول ډېر ضروري دی.

دا ځکه چې خلګو ته د هغو قېمت او ارزښت نه معلومېږي، که چا ته معلوم وي، د هغه يې د قدر کولو خوا ته يا خو پام نه وي او که وي، .نو پوره پاملرنه يې نه وي ور ته کړې

له هغو ډېرو غټو نعمتونو څخه يو وخت دی .

په وخت سره ورځ، اونۍ، مياشت او کال معلومېږي او په دې سره د انسان عُمر معلومېږي.

ketabton.com - The Digital Library



همدا راز په وخت سره د عبادتونو وختونه پېژندل کېږي، د کومو لپاره چې په شریعت کې وخت مقرر شوی دی، په ځانګړې توګه لمونځ، د کوم چې الله تعالی په خاصو وختو کې اداء کول فرض کړي دي.

الله تعالی فرمايي: إِنَّ الصَّلَاةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَابًا مَوْقُوتًا (النساء: ۱۰۳)

ژباړه: په یقیني توګه لمونځ پر مؤمنانو وختناکه فرض شوی دی!!

وخت په دُنیا کې د انسان لپاره یوه موقع دی چې الله تعالی له ځانه راضي کړي او راتلونکی تلپاتی ژوند د ځان لپاره سم کړي.

همدا راز په وخت سره د هغو پېښنو تاریخ معلومېږي کومي چې په دُنیا کې شوې او کېږي، له کومو چې موږ په اوسني ژوند کې عبرت او ګټه اخیستلی شو.

د وخت د قدر او ترې صحیح استفاده کول کس او ټولني ته ډېري زیاتي ګټې رسولی شي.

وخت یو داسي لوی نعمت دی چې د ارزښت په هکله يې مسلمانان او کافران ټول متفق دي، هیڅوک يې د قیمت په اړه سوال نه لري ځکه د انسان وخت د ده عمر دی، او د ده د ابدي ژوند د نیکمرغۍ او اسانۍ ماده ده، خو متاسفانه ډېر خلک د وخت پروا نه لري او قدر يې صحیح نه پېژني، نو ځکه يې په عبث او بې فائدې کارو کې تېروي.

ketabton.com - The Digital Library


د حیرانتیا خبره خو دا ده چې ډېرى خلک په دې خوشحالېږي چې وختونه ژر پرې تېرېږي، په داسي حال کې چې دوى ته هم معلومه ده چې د وخت تېرېدل مرګ ته نږدې کېدل او له دُنیا لرې کېدل دي.

یو شاعر وایي : يَسُرُّ الْمَرْءَ مَا ذَهَبَ اللَّيَالِي...وَكَانَ ذَهَابُهُنَّ لَهُ ذَهَابَا

یعني سړى د شپو تلل ( تېرېدل ) خوشحالوي، په داسي حال کې چې د شپو تګ د ده لپاره هم تګ دى !!

نو موږ باید د انسان په ژوند کې د دغه ستر نعمت قدر وپېژنو او باید قدر یې شروع کړو او په استعمالولو کې یې له پوره احتیاط څخه کار واخلو، څو دغه نعمت زموږ لپاره ډېر مُفید او مؤثر ثابت شي.

د دې دا مطلب هم نه دى چې موږ دې خپل ځان او بدن هیڅ هوساینه او آرام نه ور کوي او نه دې څه د دماغ د تقویې لپاره څه تفریح کوو.

بلکې مطلب دا دى چې تفریح او د ځان هوساینه به تر ضرورت زیاته نه کوو چې په پایله کې مو وختونه ضائع او بې ګټې تېر شي.

## د وخت ارزښت د قرآن کریم په رڼا کې

په قران کریم کې الله پاک په ډېرو ځایونو کې په وخت باندې قسمونه اخیستي دي، په دې کې د وخت اهمیت او ارزښت ته اشاره ده چې یو له هغو مقاماتو څخه سورة العصر دى.

ketabton.com - The Digital Library


الله تعالی فرمائلي دي چې ټول انسان په تاوان کې دي پرته له هغه چا چې دا څلورصفتونه ولري: وَالْعَصْرِ، إِنَّ الْإِنْسَانَ لَفِي خُسْرٍ، إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ (العصر: ۱-۲-۳)

په دې مبارک سورت کې الله پاک د انسان یو مرض، د هغه مرض سبب او څلور علاجونه ذکر کړي دي.

مرض یې دا دی چې انسان په خساره او تاوان کې دی، د دې سبب دا دی چې ده خپل عُمر او وختونه ضائع کړي دي.

د دې مرض لپاره څلور علاجونه دي او په دې څلورو کارو سره انسان له دې مرضه خلاصیږي:

۱: پر الله تعالی ایمان راوړل

۲: عمل صالح: یعني ښه کارونه چې د نبي - علیه السلام - په طریقه برابر وي.

۳: د حق وینا کول.

۴: د حق په لار کې تکلیفونه راځي، پر دې تکلیفونو د صبر کولو وینا کول.

دا څلور کارونه چې په چا کې راغلل، هغه به له دې مرضه خلاص وي.

دا سورت مختصر خو جامع سورت دی.

ketabton.com - The Digital Library



علامه ابن کثیر - رحمه الله - لیکلي دي چې د رسول الله - صلی الله علیه وسلم – ملګري داسي وو، چي کله به دوو کسانو ملاقات سره وکړ، نو د دې سورت له لوستو پرته به نه سره بېلېدل. ( تفسیر ابن کثیر: ۵۳۳\ج: ۶ )

دا سورت یې له دې امله یوه او بل ته لوستی، ځکه په دې کې پوره وعظ او نصیحت پروت دی.

په دې سره به یې دې ته پام ور اړوی چې که دا څلور علاجونه و نه کړو، د خُسران او تاوان په مرض به اخته شو.

امام شافعي - رحمه الله - فرمائلي دي: که خلګ په دې سورت کې فکر وکړي، نو دا سورت د دوی ( د کامیابۍ ) لپاره کافي او بس دی. ( تفسیر ابن کثیر ص: ۵۳۳ ج: ۶ )

حضرت امام شافعي - رحمه الله - د دې سورت په مقصد پوه شوی وو، ځکه یې دا خبره کړې ده.

امام فخر الدین رازي – رحمه الله - فرمایلي دي: د عصر په تفسیر کې یې قول دا دی چې زمانه ترې مُراد ده: ( مطلب دا چې الله پاک په دې سورت کې په زمانې قسم کړی دی ( معلومه خبره ده چې دا زمانه د انسان عُمر دی، بیا دا چې ولې په زمانې سره الله پاک قسم اخیستی دی، د دې څو سببه دي، ځیني یې په مختصره توګه دا دي: )

ketabton.com - The Digital Library


ځکه چې په زمانه کې ډېر عجائب راځي: خوشحالي، خفګان، صحت، رنځ، مالداري او غریبي ټول پکې راځي.

بله وجه دا ده چې د عُمر سره په قیمت کې هیڅ شی برابر نه دی، عمر تر هر شي د انسان لپاره فائده مند او قدر مند دی، که ته زر کاله په عبثو کارو کې ضائع کړې او بیا توبه و باسې، سعادت او نیکمرغي دې د عمرپه اٰخر کې په برخه شي، نو ته به تل تر تله په جنت کې یې! معلومه شوه چې ستا لپاره تر هر څه زیات قدر من په دې آخري شېبه کې ستا ژوند وو. (چې له امله دې تلپاته نېکمرغي په برخه شوه)

نو زمانه د اصلي نعمتو له جُملې څخه ده، له دې امله الله پاک ور باندې قسم کړی او خبرداری یې ور کړی چې شپه او ورځ دا یو فُرصت دی چې انسان یې له لاسه ور کوي.

بله وجه دا ده چې زمان (وخت) تر مکان (ځای) ډېر عزتمند دی، له دې امله الله تعالی په دواړو کې په زیات عزتمند قسم کړی دی.

بله وجه دا ده چې خلګو به تاوان زمانې ته منسوبوی، نو الله تعالی په زمانې سره قسم واخیستی چې زمانه (وخت) یو داسې نعمت دی چې په ده کې هیڅ ډول عیب او تاوان نشته، تاواني او عیبناک انسان دی.

ketabton.com - The Digital Library


بله وجه دا ده چې د زماني په تېرېدو سره ستا عمر کمېږي، نو کله چې د دې کمېدو په مقابل کې گټه نه وي، نو دغه د عُمر کمېدل په تاوان کې داخل شول. (التفسير الكبير ملخصًا ص: ۲۷۷ ج: ۱۱)

د وخت د ارزښت په هکله گڼ آياتونه په قرآن کريم کې موجود دي، خو چې خبره اوږده نه شي، په دې سورت اکتفاء کوو.

## د وخت ارزښت د نبوي احاديثو په رڼا کې

عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَزُولُ قَدَمُ ابْنِ آدَمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ عِنْدِ رَبِّهِ حَتَّى يُسْأَلَ عَنْ خَمْسٍ عَنْ عُمُرِهِ فِيمَ أَفْنَاهُ وَعَنْ شَبَابِهِ فِيمَ أَبْلَاهُ وَعَنْ مَالِهِ مِنْ أَيْنَ اكْتَسَبَهُ وَفِيمَا أَنْفَقَهُ وَمَاذَا عَمِلَ فِيمَا عَلِمَ (رواه الترمذی ص: ۶۷ ج: ۲ والحديث صحيح للشواهد)

ژباړه: له حضرت ابن مسعود – رضي الله عنه – څخه روايت دی چې رسول الله – صلی الله عليه وسلم – وفرمايل: د قيامت په ورځ به د انسان قدم د الله پاک له حضور څخه نه شي زائلېدی، تر څو چې د پنځو خبرو په اړه ترې پوښتنه کېږي: (۱) د عمر په اړه چې په څه کې يې ختم کړی دی؟ (۲) د ځوانۍ په اړه چې په څه کې يې زړه کړې وه؟ (۳) د مال په اړه يې چې له کومه يې گټلی دی (۴) او په څه کې يې مصرف کړی دی؟ (۵) او په هغه علم کې چې لری يې، څه عمل کړی دی؟!!

ketabton.com - The Digital Library



په دې کې دوه سواله د عُمر په هکله دي: یو دا چې عمر دي په څه کې تېر کړ ؟ او بل دا چې ځواني دي (چې د انسان په عُمر کې مُهم وخت دی) په څه کې تېره کړه ؟

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم-: «نِعْمَتَانِ مَغْبُونٌ فِيهِمَا كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ الصِّحَّةُ وَالْفَرَاغُ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ ص: ۹۴۹ ج: ۲)

ژباړه: له ابن عباس - رضی الله عنهما - څخه روایت دی چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم – وفرمایل: دوه نعمتونه دي چې ډېر خلک د هغو په هکله په تاوان کې دي: یو روغ بدن او بل اوزګارتیا !!

تشریح: له دې حدیث څخه د دغو دوو نعمتونو قدر او اهمیت معلومېږي چې دا معمولي نعمتونه نه دي، بلکي دا د الله تعالی له لوري ډېر ستر نعمتونه دي، باید له ضائع کولو یې په کلکه ځان وژغورل شي .

دا دوه نعمتونه یو دا چې انسان په بدن روغ وي، رنځورتیا و نه لري او بل دا چې فارغ او اوزګار وي د ښو کارو کولو وخت ولري، کولای .شي چې یو ښه کار وکړي

نو دا لوی نعمتونه دي، باید ګټه ترې واخیستل شي .

خو متاسفانه چې موږ اکثره د دغو دوو نعمتونو سم عزت او قدر نه کوو ، بلکي قدر مو یې صحیح پېژندلی هم نه دی، که مو پېژندلی وی، نو باید چې سمه استفاده مو ترې کړې وی .

ketabton.com - The Digital Library



په یوه حدیث کې راغلي دي: اِغْتَنِمْ خَمْسًا قَبْلَ خَمْسٍ، شَبَابَكَ قَبْلَ هِرَمَكَ، وَصِحَّتَكَ قَبْلَ سَقَمِكَ، وَفَرَاغَكَ قَبْلَ شغْلِكَ، وَغِنَاكَ قَبْلَ فَقْرِكَ، وَحَيَاتِكَ قَبْلَ مَوْتِكَ (رواه الترمذی مرسلا، مشکاة المصابیح ص: ۴۴۱ ج: ۲)

ترجمه: پنځه شیان د پنځو نورو تر راتګ مخکې غنیمت وګڼه:
ځواني تر بوډاوالي مخکې، صحت تر رنځورتیا مخکې، شتمني تر فقیري مخکې، اوزګارتیا تر مشغولتیا مخکې او ژوند تر مرګ مخکې!!

مطلب دا دی چې ځواني تل نه وي، نه سړی د تل لپاره په یوه حالت وي، ځواني ختمېدونکې ده، یا به ترې وروسته بوډاوالی راځي او یا مرګ، دریمه لار نشته، له دې امله باید د ځوانۍ تر تلو مخکې ترې سمه ګټه واخیستل شي.

کوم وس او طاقت چې د ځوانۍ په عُمر کې د انسان سره وي، هغه دې غنیمت وګڼي او په داسي کارو کې دې استعمال کړي په کومو چې الله – جل جلاله - راضي کېږي.

ځکه یو وخت داسي راځي چې بیا به دا ځواني نه وي، بیا به دغه وس او طاقت د انسان سره نه وي.

شیخ سعدي شیرازي – رحمه الله- لیکلي دي:

در جوانی توبه کردن شیوهٔ پیغمبری است
وقتِ پیری گرگِ ظالم میشود پرهیزگار

ketabton.com - The Digital Library


ترجمه: په ځوانۍ کې توبه کول د پیغمبرانو طریقه ده، په بوډاتوب کې خو ظالم لېوه هم پرهېزګار شي.

یعنې اصل کمال دا دی چې انسان په ځوانۍ کې له ګناهونو ځان وساتي، ځکه په هغه وخت کې نفس زورور وي. که څوک یوازې په زړښت کې ځان سم کړي، دا دومره لوی کمال نه دی، ځکه هغه وخت قوتونه کمزوري شوي وي — لکه لېوه چې بوډا شي او د حیوانانو له وژلو لاس اخلي، ځکه چې د ښکار په کولو یې وس نه رسېږي.

که څوک په بوډاوالي کې هم الله تعالی ته توبه و نه باسي، نو هغه خو بیا ډېر بد مرغه انسان دی.

له دې امله نبي علیه السلام فرمائلي دي چې ځواني تر بوډاوالي مخکې غنیمت وګڼئ! یعني صحیح استفاده ترې وکړئ!

صحت تر رنځورتیا مخکې غنیمت وګڼئ!
کله چې ته جوړ او روغ یې! له هر ډول تکلیف او مرضه خلاص یې! نو له دې موقع استفاده وکړه، مخکې تر دې چې داسې وخت راشي، چې بیا به څه نه شې کولی.

ځکه په دُنیا کې رنځورتیا پر انسان راځي او د رنځورتیا وخت هم له مخکې څخه معلوم نه وي، نا څاپه راځي.

نو باید چې کله انسان روغ وي، له دې موقع په استفادې داسې کارونه وکړي کوم چې د الله پاک د رضاء سبب ګرزي.

ketabton.com - The Digital Library


بیا که رنځور شي، نو هم به ور ته الله پاک د هغو عبادتونو ثواب ورکوي، کوم چې یې مخکي کول او اوس یې د رنځ له کبله نه شي کولی .

مالداري ترغُربت مخکي غنیمت وګڼه !

کله چې الله پاک مالي پراخي در کړې وي،نو له دې موقع استفاده وکړه او په خپلي مالدارۍ کې داسي څه وکړه چې د الله پاک د رضاء سبب ګرزي .

د دُنیا حالات بدلېږي، یوه ورځ سړی مالدار وي، بله ورځ غریب وي. ډېر خلګ داسي په دُنیا کې شته چې یو وخت مالدار وو ، خو اوس غریبان دي .

له دې امله چې څوک مالدار وي، دا دې نه وایي :چې بل وخت به خیراتونه او صدقې وکړم، بلکي له دغې موقع دې استفاده وکړي.

خپله وزګارتیا تر مشغولتیا مخکي غنیمت وګڼه !

کله چې ستا سره وخت شته، اوزګار یې! د عبادت لپاره فُرصت لرې !

له دې فُرصته په استفاده داسي کارونه وکړه چې د الله پاک د رضاء سبب ګرزي، وروسته معلومه نه ده کېدی شي داسي مصروف شې چې بیا به عبادت کولو ته وخت نه لرې .

ketabton.com - The Digital Library



نو همدا نن فرصت له لاسه مه ورکوه او کار د سبا په طمع مه پرېږده !

ژوند تر مرگ مخکي غنیمت وگڼه !

په خپل ژوند کې د الله پاک په عبادت کې کوشش وکړه مخکي تر دې چې مرگ در ته راشي، بیا به هیڅ نه شې کولی !

ځکه د عبادت وخت همدا دی، په دې ژوند سره خپل تلپاته ژوند ښائسته کړه! که مرگ راشي، بیا به افسوزونه گټه نه در ته کوي .

نو له دې موقع استفاده وکړه او د خپل تلپاته او نه ختمېدونکي ژوندانه لپاره تیاري وکړه !!

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مِنْ حُسْنِ إِسْلَامِ الْمَرْءِ تَرْكُهُ مَا لَا يَعْنِيهِ. (رواه الترمذی ص:۵۸ ج:۲)

ژباړه: له حضرت ابوهریره - رضی الله عنه - څخه روایت دی چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم – وفرمایل: د سړي د اسلام له ښه والي څخه دا ده چې عبث کارونه پرېږدي!!

په کوم کار کې چې نه د دین گټه وي او نه هم د دُنیا ، باید له هغه څخه مسلمان ځان وساتي .

مطلب دا دی چې کامل مسلمان خپل وخت په گناهونو کې نه تېروي، نه یې په بې فائدې، عبث کارونو کې تېروي او نه یې په

ketabton.com - The Digital Library


غفلت او سُستیا کې تېروي، بلکي هغه د الله پاک په عبادت او مُهمو کارو کې خپل وخت تېروي.

د وخت په بې ځایه کارو کې د تېرولو مثال داسي دی لکه یو چا ته چې د یوه پاچا له خوا وویل شي چې څومره خزانه ایستلی شې، و یې باسه! هغه ستا ده !

تر هغه وخته یې باسه چې کله زه د بس کولو غږ در باندي کوم !

نو اوس که دا سړی په آرامه کښېني او ووایي چې سبا به یې را وباسم، نن به خوب وکړم، سبا ته ور باندي غږ و شي، چې ستا وخت پوره دی، تا ته نور له خزانې څخه د سامان د ایستلو اجازه نشته !!

نو دغه سړی به څومره افسوز کوي او هرڅوک به ور باندي ملامتیا وایي چې تا ولي وختونه هسي تېرول ؟؟

دا مثال د دُنیا د ژوند هم دی، په دې ژوند کې انسان کولی شي چې د آخرت لپاره ذخیره برابره کړي.

خو که څوک خپل ژوند په بې ځایه کارونو کې تېروي، نو نا څاپه به مرګ ور باندي راشي، بیا به ارمانونه کوي، خو هیڅ ګټه به نه کوي.

ketabton.com - The Digital Library


# د وخت ارزښت د عُلماوو او پوهانو په ویناوو کې

زموږ د دین مشرانو د وخت قدر پېژندلی وو، ځکه به یې د وخت ډېر خیال ساتی .

جلیل القدر صحابي حضرت عبد الله بن مسعود - رضی الله عنه - فرمائلي دي: مَا نَدِمْتُ عَلَى شَيْءٍ نَدَمِيْ عَلَى يَوْمٍ غَرَبَتْ شَمْسُهُ، نَقَصَ فِيْهِ أَجَلِيْ، وَ لَمْ يَزِدْ فِيْهِ عَمَلِيْ. (قيمة الزمن عند العلماء ص: ٢٧)

ژباړه: زه په هیڅ شي دومره نه یم پښیمانه شوی څومره چې په هغي ورځي پښېمان شوی یم چې لمر یې ولویدی، زما عُمر پکي کم شو او عمل مي پکي زیات نه شو!!

عمر بن عبد العزیز - رحمه الله - فرمائلي دي: إِنَّ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ يَعْمَلَانِ فِيكَ، فَاعْمَلْ فِيهِمَا (قيمة الزمن عند العلماء ص: ٢٧)

ژباړه: ورځ او شپه په تا کې خپل عمل او کار کوي (عمر دې کموي) نو ته هم په دې دواړو (شپه او ورځ) کې کار وکړه

د الله پاک عبادت وکړه او خپل د آخرت د سفر لپاره د ځان سره توښه برابره کړه .

یعني داسي کار وکړه چې هغه ستا په ګټه وي .

ketabton.com - The Digital Library



حسن بصري - رحمه الله فرمايلي دي: يَا ابْنَ آدَمَ! إِنَّمَا أَنْتَ أَيَّامٌ، فَإِذَا ذَهَبَ يَوْمٌ ذَهَبَ بَعْضُكَ ( قيمة الزمن عند العلماء ص: ۴۸ )

يعني اې د آدم زويه! ته ورځې يې! کله چې يوه ورځ ولاړه، ستا بعضې ( بدن لاړو ) !!

همدا راز ويلي يې دي: أَدْرَكْتُ أَقْوَامًا كَانُوا عَلَى أَوْقَاتِهِمْ أَشَدَّ مِنْكُمْ حِرْصًا عَلَى دَرَاهِمِكُمْ وَدَنَانِيرِكُمْ (قيمة الزمن عند العلماء ص: ۴۹)

ژباړه: ما داسي خلک موندلي دي چې څومره تاسو په روپو او اشرفو باندي حارصان ياست، تر دې زيات هغوی په خپلو وختونو حارصان وو !!

يعني څومره چې تاسو د خپلو روپو سره احتياط کوئ، تر دې به هغوی زيات د خپل وخت سره احتياط کاوو، چې بې ځايه او بې فائدې تېر نه شي .

امام شافعي - رحمه الله – فرمايلي دي: صَحِبْتُ الصُّوفِيَّةَ فَلَمْ أَسْتَفِدْ مِنْهُمْ سِوَى حَرْفَيْنِ، أَحَدُهُمَا قَوْلُهُمْ: الْوَقْتُ سَيْفٌ، فَإِنْ لَمْ تَقْطَعْهُ قَطَعَكَ. وَذَكَرَ الْكَلِمَةَ الْأُخْرَى: وَنَفْسُكَ إِنْ لَمْ تَشْغَلْهَا بِالْحَقِّ، وَإِلَّا اشْتَغَلَتْكَ بِالْبَاطِلِ. (الجواب الكافی ص: ۱۰۹)

ژباړه: ما د صوفيانو سره ملګرتيا وکړه، نو يوازې دوه خبرې مې ترې زده کړې: يوه د دوی دا خبره (چې دوی به ويل) وخت توره ده، که يې ته پرې نه کړې، تا به پرې کړي او بله يې دا خبره ياده کړه چې که ته

ketabton.com - The Digital Library


خپل نفس په حق کار کې اخته نه کړې، تا به په ناروا کار کې اخته کړي!!

هوښیارانو ویلي دي چې وخت د الله - **جل جلا له** – یو امانت دی، د هغه ضائع کول خیانت او بربادي ده .

په زړه کې د داسي شي سره رغبت او مینه باید و نه ساتل شي چې د وخت د ضائع کېدو لامل گرځي .

د دُنیا ټول سره او سپین د وخت په وړاندي هیڅ ارزښت نه لري ، په تېر شوي وخت پسې افسوز او پښیماني څرگندول هیڅ ارزښت نه لري، وخت د دُنیا روح ده .

څوک چې وخت ضائع کړي، پوه شئ چې وخت به هم هغه ضائع او زیانمن کړي.

وخت تر وربځي هم په تېزۍ سره تېرېږي، نو کوم وخت چې د الله پاک په عبادت او د هغه د رضاء په لټه کې تېر شي، هغه د انسان عمر او ژوند دی، له دې پرته ژوند ژوند نه دی، که څه هم یو څوک ډېر عُمر ژوندی و اوسي، بلکي د داسي چا لپاره مرگ ښه دی ځکه په ژوند سره یې نور هم د آخرت پېټی درنېږي، نور څه ده ته ترې په لاس نه ور ځي .

حضرت حماد بن سلمه – رحمه الله - یو مشهور مُحدث دی، د هغه په هکله یې شاگرد عبدالرحمان بن مهدي وایي: که حماد بن سلمه ته

ketabton.com - The Digital Library


ویل شوي وی چې ته سبا مرې! نو په دې به نه وی توانېدلی چې په خپل عبادت کې زیاتوالی وکړي ( قیمة الزمن عند العلماء ص: **۵۴**)

ځکه هغه خپل وخت داسي په پابندۍ کې تېروی چې دومره خلاص وخت یې بالکل نه وو چې پر ده دې عبث تېرېدی .

او په پایله کې حماد بن سلمه - رحمه الله - په داسي حال کې مړ شو چې په مسجد کې په لمانځه ولاړ وو ( سیر أعلام النبلاء ص: **۴۴۸** ج: **۷**)

نو باید موږ هم د دوی له حالته زده کړه وکړو او د وخت له ضائع کولو ډډه وکړو ځکه ټولي ګټي له وخته تر لاسه کېږي، کله چې وخت ضائع شي نو هيڅ به هم تر لاسه نه کړای شي.

## خپل وختونه څنګه قیمتي کولی شو ؟

د دې لپاره چې وختونه مو په بې فائدې کارونو کې تېر نه شي، باید دا لاندیني کارونه وکړو :

**۱** : په هر کار کې خپل نیت صحیح کول: په دې سره مُباح کارونه هم د ثواب لامل ګرځي .

**۲**: د امیدونو کمول: داسي دي نه وایي چې اوس زه ځوان یم، بیا به وروسته ښه کارونه کوم .

ketabton.com - The Digital Library



يعني د نن کار دي سبا ته نه پرېږدي، بلکي چې څومره يې وس کار کوي، ښه کار دي ژر تر سره کوي او ځان دې داسې وګڼي چې کې دی شي دا مي د عُمر آخيرنۍ ورځ وي .

حضرت معاذ بن جبل - رضی الله عنه - ته رسول الله - صلی الله علیه وسلم –و ويل: اې دالله پيغمبره! –صلی الله علیه وسلم –ما ته وصيت وکړه! رسول الله –صلی الله علیه وسلم – وفرمايل: اعْبُدَاللّٰهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ وَاعْدُدْ نَفْسَكَ مِنَ الْمَوْتَى، وَاذْكُرَ اللّٰهَ عِنْدَ كُلِّ حَجَرٍ وَشَجَرٍ، وَإِذَا عَمِلْتَ السَّيِّئَةَ فَاعْمَلْ بِجَنْبِهَا حَسَنَةً: السِّرُّ بِالسِّرِّ وَالْعَلَانِيَةُ بِالْعَلَانِيَةِ.(المصنف لابن ابی شيبة ص: ۲۲۵ ج: ۱۳)

ژباړه: د الله جل جلاله داسې عبادت کوه لکه ته چې الله وينې، ځان په مړو کې حساب کړه! د الله ذکر د هري ډبري او ونې سره کوه! او کله دي چې ګناه وکړه، نو د هغې سره په څنګ کې نېکي وکړه! د پټې په مقابل کې په پټه او د ښکاره په مقابل کې په ښکاره نېکي وکړه !!

۳: د خپل وس مطابق د دُنيوي مشغوليتونو کمول او د عبادت لپاره وخت ايستل .

۴: په خپل کور کې ډېر وخت تېرول:

عن عقبة بن عامر -رضی الله عنه- قَالَ: قُلْتُ: يَا رسولَ اللهِ مَا النَّجَاةُ؟ قَالَ: أَمْسِكْ عَلَيْكَ لِسَانَكَ، وَلْيَسَعْكَ بَيْتُكَ، وابْكِ عَلَى خَطِيئَتِكَ.(رواه الترمذی وقال حديث حسن- رياض الصالحين ص: ۳۳۶)

ketabton.com - The Digital Library


ژباړه: له حضرت عقبه ابن عامر - رضی الله عنه - څخه روایت دی چې ما وویل: اې د الله پیغمبره! - صلی الله علیه وسلم - (د الله پاک له عذابه) خلاصون (په) څه (کې) دی؟

رسول الله - صلی الله علیه وسلم – وفرمایل: (د خلاصون لپاره درې کارونه کول ضروري دي:) خپله ژبه بنده کړه! (کنترول یې کړه) تا دي خپل کور ځای کړي) (یعني په خپل کور کې ډېر اوسه!) او په خپله گناه ژاړه!!

باید دا هڅه وکړل شي چې پرته له ضرورته انسان له کوره و نه وزي ځکه له کوره په وتلو کې ډېري فتنې شته، چې په هغو کې د اخته کېدلو خطره شته.

**۵**: په مسجد کې ډېر وخت تېرول.

**۶**: له بې ضرورته خوب او استراحت څخه باید ځان وژغورل شي ځکه په دې سره ډېر وخت ضائع کېږي.

**۷**: د الله پاک ذکر ډېر کول: ذکر داسې عبادت دی چې سړی یې د کاروبار سره هم کولای شي، په ناسته،ولاړه، په پروته او په ټولو حالاتو کې کېدلی شي.

**۸**: دُعاگاني ډېري کول.

ketabton.com - The Digital Library



۹: تقوی او پرهېزګاري په ځان کې راوستل: ځان له ګناهونو ژغورل.

ځکه په دين کې مهم کار له ګناهونو څخه ځان ژغورل دي .

۱۰: فرض لمونځ په جماعت سره اداء کول.

۱۱: د کوم عبادت وخت چې راغی، د هغه د اداء کولو هڅه کول: د بېلګي په توګه د جنازې وخت راغی، يا د مريض د پوښتني وخت راغی او داسي نور..

نو د هر عبادت په وخت کې هڅه کول چې هغه عبادت اداء کړل شي.

۱۲: د خلګو سره تعلقات کمول: په ډېرو تعلقاتو سره هم ډېر قېمتي وختونه له انسان څخه ضائع کېږي .

۱۳: قرآن کريم ته ډېر وخت ور کول .

۱۴: د ديني کتابونو مُطالعه کول .

دا کارونه که څوک وکړي، ان شاء الله تعالی د هغه وخت به له ضائع کېدلو وساتل شي.

## د لا اله الا الله شرطونه

په دې کې شک نشته چې د جنت کې لي لا إله إلاّ الله ده.

ketabton.com - The Digital Library



خو پوښتنه دا ده چې څوک کلمه ووايي، بس جنت ته به ننوزي، که څه هم هر ډول ګناوې کوي ؟

دا سوال له وَهبِ بنِ مُنَبِّهٍ – رحمه الله – شوی دی، ( چې د حضرت ابوهريره – رضي الله عنه – شاګرد وو ) چا ور ته وويل: أَلَيْسَ لَا إِلَهَ إِلاَّ الله مِفْتَاحُ الجَنَّةِ؟ قَالَ بَلَى وَلكِنْ لَيْسَ مِفْتَاحٌ إِلاَّ لَهُ أَسْنَانٌ فَإِنْ جِئْتَ بِمِفْتَاحٍ لَهُ أَسْنَانٌ فُتِحَ لَكَ وَإِلاَّ لَمْ يُفْتَحْ لَكَ (رواه البخاری فی ترجمة باب، مشكاة المصابيح ص: ١٦ ج: ١)

ژباړه: آيا لا اله الا الله د جنت کې لي نه ده ؟ وهب بن منبه ور ته وفرمايل: هو دا د جنت کې لي ده، خو هيڅ کې لي داسي نه وي چې هغه غاښونه نه لري، که دي داسي کې لي راوړله چې غاښونه يې در لودل، نو ( د جنت دروازه به ) در ته خلاصه شي،که داسي نه وي نو بيا نه در ته خلاصيږي!!

يعني کلمه د جنت کې لي ده، خو دغه کې لي هم بايد غاښونه ولري.

د دې کې لي(کلمې) غاښونه د دې کلمې شرطونه دي، که په چا کې دا شرطونه موجود وو، نو داسي کې لي يې تر لاسه کړې چې غاښونه لري، نوان شاء الله تعالی د جنت لار به ور ته آسانه شي.

د کلمې اته شرطونه دي، هر مسلمان يې بايد وپېژني او په ځان کې دي د دغو شرائطو د شتون او نه شتون په هکله فکر وکړي، که په چا کې وي، د الله پاک شکر دي اداء کړي او که په چا کې نه وي، په ځان کې دي يې راولي.

هغه دا دي:

ketabton.com - The Digital Library



**۱ : د دې کلمې په معنی باندې علم لرل:** چې له الله تعالی پرته بل څوک د هیڅ ډول عبادت لیاقت او وړتیا نه لري او د عبادت یوازینی حقدار الله - **جل جلاله** - دی، که څوک د دې کلمې په معنی نه پوهیږي، نو یوازې په ویلو سره نه شي کامیابېدلی او نه یوازې وینا فائده ور کوي.

ځکه که یو عجمي کافر له چا لا اله الا الله واوري، دی هم دا الفاظ ووايي، په دې سره تر هغه پورې مسلمان نه شي ور ته ویل کېدی، تر څو چې د دې کلمې په معنی پوه نه شي او عقیده ور باندې و نه ساتي.

الله - **جل جلاله** - فرمائلي دي :فَاعْلَمْ أَنَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللَّهُ(الآية،سورة محمد:١٩)

یعني په دې خبره ځان پوهه کړه چې ( په زمکه او اسمان کې ) د عبادت حقدار له الله **جل جلاله** پرته بل څوک نشته !!

په بل ځای کې فرمایي:وَلَا يَمْلِكُ الَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِهِ الشَّفَاعَةَ إِلَّا مَن شَهِدَ بِالْحَقِّ وَهُمْ يَعْلَمُونَ(الزخرف:٨٦).

ترجمه: هغه کسان چې دوی یې له الله تعالی پرته رابولي، واک د سفارش نه لري، مګر هغه څوک ( به سفارش کولی شي ) چې د حق اقرار یې کړی وي او دوی پوهیږي !!

ابن عباس –رضي الله عنهما – د حق د شاهدۍ په تفسیر کې فرمایلي دي چې دا د لا الله الا الله او محمد رسول الله شاهدي ده .

( تفسیر قرطبي ص: ۱۰۶ ج: ۱۶ )

ketabton.com - The Digital Library


امام قرطبي د دې آیت په تفسیر کې لیکلي دي چې له دې آیت څخه معلومیږي چې د ټولو شاهدیو لپاره دا شرط دی چې شاهد به پرې پوه وي (تفسیر قرطبي ص: ۱۰۶ ج: ۱۶)

په حدیث کې راغلي دي:

عَنْ عُثْمَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم-: مَنْ مَاتَ وَهُوَ يَعْلَمُ أَنَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ دَخَلَ الْجَنَّةَ. (رواه مسلم ص: ۴۱ ج: ۱)

ژباړه: له حضرت عثمان – رضي الله عنه – څخه روایت دی چې رسول الله – صلی الله علیه وسلم – وفرمایل: څوک چې په داسي حال کې مړ شي چې په دې پوهیږي چې له الله پرته بل څوک د عبادت او بندګۍ حقدار نشته، جنت ته به داخل شي.

په دې ټولو نصوصو کې دا خبره په ښکاره ذکر شوې ده چې د ایمان لپاره د کلمې په معنی ځان پوه کول اړین او ضروري دي.

**۲: د کلمې په معنی باندي داسي یقین او باور درلودل چې د شک سره منافي او ټکر وي، زړه یې د کلمې په معنی باندي مطمئن وي او هیڅ ډول شک یې په زړه کې نه وي.**

الله جل جلاله د مؤمنانو صفت داسي بیان کړی: إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوا (الآية، الحجرات: ۱۵).

ژباړه: په یقیني توګه مؤمنان هغه څوک دي چې پر الله تعالی او د هغه پر رسول – صلی الله علیه وسلم - یې ایمان راوړی او بیا یې شک نه دی کړی!!

د منافقانو په هکله فرمايي: وَارْتَابَتْ قُلُوبُهُمْ فَهُمْ فِي رَيْبِهِمْ يَتَرَدَّدُونَ (التوبة: ۴۵)

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: د دوی زړونو شک کړی، نو دوی په خپل شک کې حیران دي!!

رسول الله - صلی الله علیه وسلم - فرمایلي دي: أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَأَنِّي رَسُولُ اللَّهِ لاَ يَلْقَى اللَّهَ بِهِمَا عَبْدٌ غَيْرَ شَاكٍّ فِيهِمَا إِلاَّ دَخَلَ الْجَنَّةَ.(رواه مسلم ص:۴۲ ج:۱)

ژباړه: زه د دې خبرې شاهدي ورکوم چې له الله تعالی پرته څوک د عبادت او بندګۍ حقدار نشته او زه د الله رسول او پیغمبر یم، په دې عقیده چې څوک د الله تعالی سره په داسې حال کې ملاقات وکړي چې په زړه کې یې په دې هکله شک او شُبهه نه وي، خامخا به جنت ته ننوزي.

یعني یوازې تلفظ کفایت نه کوي، تر څو چې یقین ور سره ملګرې نه وي، که یقین نه وي، دې ته منافقت ویل کېږي.

۳: **قبول**: که د دې کلمې په معنی څوک پوهېږي او یقین یې هم ور باندې وي، خو د عناد او تکبر له امله کلمه نه لولي، نو دا ایمان مقبول نه دی لکه د یهودو احبار (ملایان) چې د هغوی په هکله الله تعالی فرمايي: وَدَّ كَثِيرٌ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ لَوْ يَرُدُّونَكُمْ مِنْ بَعْدِ إِيمَانِكُمْ كُفَّاراً حَسَداً مِنْ عِنْدِ أَنْفُسِهِمْ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْحَقُّ (البقرة:۱۰۹)

ژباړه: د زیاترو اهل کتابو دا خوښه ده چې تاسو له خپل ایمانه بېرته کفر ته وګرځوي، (او دا) د هغه حسد (کې نې) له امله دوی سره دی، (او) له هغه وروسته چې حق (هم ښه) ور ته ښکاره شو!!

ketabton.com - The Digital Library



هغوی ته معلومه وه چې دا نبي علیه السلام پر حق دی، خو قبول یې نه وو، نو دې یقین او پوهې فائده ور نه کړه، ځکه د کلمې یو مُهم او اړین شرط موجود نه وو.

د مشرکینو د مشرانو هم دا عقیده وه چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم – رښتینی دی، خو د دې سره یې د حق له قبلولو انکار کوی، د دوی په هکله الله تعالی فرمایي: إِنَّهُمْ كَانُوا إِذَا قِيلَ لَهُمْ لا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ يَسْتَكْبِرُونَ (الصافات:۳۵)

ژباړه: په یقیني توګه دوی (مشرکین) داسي ووکله به چې ور ته وویل شول چې له الله تعالی پرته بل څوک د عبادت او بندګۍ حقدار او جوګه نشته، نو دوی به تکبر او لویي کوله!!

او د تکبر له امله به یې له کلمې انکار کاوو.

په بل ځای کې فرمایي: قَدْ نَعْلَمُ إِنَّهُ لَيَحْزُنُكَ الَّذِي يَقُولُونَ فَإِنَّهُمْ لَا يُكَذِّبُونَكَ وَلَكِنَّ الظَّالِمِينَ بِآيَاتِ اللَّهِ يَجْحَدُونَ (الأنعام:۳۳)

ترجمه: یقینًا موږ پوهېږو چې تا هغه خبري چې دوی یې کوي، خفه کوي، دوی تا دُرواغجن نه ګڼي لیکن دا ظالمان د الله له آیاتونو انکار کوي!!

**۴: د الله تعالی احکاماتو ته انقیاد، غاړه ایښودل او هغو ته تسلیمېدل:** الله تعالی فرمایي: وَأَنِيبُوا إِلَى رَبِّكُمْ وَأَسْلِمُوا لَهُ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَأْتِيَكُمُ الْعَذَابُ ثُمَّ لَا تُنْصَرُونَ ( الزمر: **۵۴** )

ketabton.com - The Digital Library


ژباړه: او خپل رب ته ور وګرزئ ( په توبه کولو سره ) او هغه ته غاړه کېږدئ، تر هغه مخکي چې تاسو ته عذاب راشي بيا به ستاسو سره څه مرسته نه کېږي!!

په بل ځای کې فرمايي : وَمَنْ يُسْلِمْ وَجْهَهُ إِلَى اللَّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَى وَإِلَى اللَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ ( لقمان: ۲۲ )

ژباړه: څوک چې الله تعالی ته خپل مخ تابع کړي او دی نېک عمله هم وي، په يقيني توګه ده مضبوطه کړی کلکه ونيوله او د ( ټولو ) کارونو انجام د الله په لور دی!!

## ۵: په دې کلمې باندي داسي تصديق او باور لري چې د تکذيب سره منافي او ټکر وي.

که څوک کلمه لولي، خو تصديق او باور ور باندي نه لري، نو دا لوستل قبول نه دي.

الله تعالی فرمايي: وَلَقَدْ فَتَنَّا الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَلَيَعْلَمَنَّ اللَّهُ الَّذِينَ صَدَقُوا وَلَيَعْلَمَنَّ الْكَاذِبِينَ (العنکبوت:۳)

ترجمه: خامخا به الله تعالی رښتيني او دُرواغجن معلوموي ( ښکاره کوي ) ! !

په بل ځای کې فرمايي: وَالَّذِي جَاءَ بِالصِّدْقِ وَصَدَّقَ بِهِ أُولَئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ. ( الزمر:۳۳)

ترجمه: هغه څوک چې په رښتيا سره راغلی دی او د هغه تصديق يې وکړو ، دغه کسان متقيان دي ! !

ketabton.com - The Digital Library



ابن عباس - رضي الله عنهما - د صدق په تفسير کې فرمايي: مَنْ جَاءَ بِلَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ (تفسير ابن کثير ص: ۴۰۹ ج: ۵)

ترجمه: له رښتيا څخه مُراد د لا اله الا الله کلمه ده ! !

يعني مُتقي هغه څوک دی چې څوک د لا اله الا الله تصديق کوي.

د مُنافقانو حالت په قرآن کريم کې داسي بيان شوی چې دوی په ظاهره کلمه لولي، خو په زړه کې ور باندي تصديق نه لري.

نو د مؤمن کړنلاره بايد د مُنافق د کړنلاري سره توپير و لري، بيا به يې ايمان صحيح او قبول وي.

## ۶: اخلاص: د بل چا له شريکولو او د شرک له ټولو شوائبو څخه د عمل صفا کول.

اخلاص دې ته ويل کېږي چې عبادت يوازي د الله تعالی لپاره کول، د بل چا قصد او اراده په عبادت کې نه لرل.

اخلاص وايي د نيت په سمولو سره له هر ډول شرک څخه خپل عمل خلاصول، که ښکاره شرک وي او که پټ، کوم خلګ چې لا اله الا الله لولي او بيا هم شرک کوي، د مخلوقاتو عبادت کوي، او مخلوقاتو ته يې داسي صفات ور کړي وي چې هغه د الله پاک خاص صفات دي، لکه د علم غيب اثبات، د مافوق الاسباب تصرفاتوعقيده د مخلوق لپاره لرل، نو داسي ايمان قبول نه دی.

الله - سُبحانه و تعالی - فرمايي: فَادْعُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ (غافر: ۱۴)

ketabton.com - The Digital Library



ترجمه: نو را بوله الله تعالى، خالص كوونكى يې د هغه لپاره د بلني، كه څه هم دا كار كافران بد ګڼي!!

په بل ځاى كې فرمايي: فَاعْبُدِ اللَّهَ مُخْلِصاً لَهُ الدِّينَ. أَلا لِلَّهِ الدِّينُ الْخَالِصُ (الزمر: ٢-٣)

ترجمه: عبادت كوه د الله لپاره، خالص كړه د هغه لپاره بندګي، خبر شئ! خاص د الله تعالى لپاره دين (عبادت) خالص دى!!

يعني بل څوک ور سره شريک نشته.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّهُ قَالَ: قِيلَ يا رَسولَ اللهِ مَن أَسْعَدُ النَّاسِ بشَفَاعَتِكَ يَومَ القِيَامَةِ؟ قالَ رَسولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عليه وسلَّمَ: لَقَدْ ظَنَنْتُ يا أَبَا هُرَيْرَةَ، أَنْ لا يَسْأَلَنِي عَنْ هَذَا الْحَدِيثِ أَحَدٌ أَوَّلُ مِنْكَ لِما رَأَيْتُ مِن حِرْصِكَ علَى الحَديثِ أَسْعَدُ النَّاسِ بشَفَاعَتِي يَومَ القِيَامَةِ، مَن قالَ لا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، خَالِصًا مِن قَلْبِهِ، أَوْ نَفْسِهِ. (رواه البخاري ص: ٢٠ ج: ١).

ژباړه: له حضرت ابو هريره - رضي الله عنه – څخه روايت دى چې له رسول الله - صلى الله عليه وسلم – څخه پوښتنه وشوه چې ستا په شفاعت سره څوک تر ټولو زيات نېکمرغه دى ؟

رسول الله - صلى الله عليه وسلم – وفرمايل: اې ابوهريره! يقينًا زما دا ګومان وو چې د دې خبري په اړه به تر تا څوک مخته له ما څخه پوښتنه نه كوي ځكه چې ما ستا حرص په حديث ليدلى دى، زما په شفاعت سره تر ټولو نېكمرغه هغه څوک دى چې لا إله إلا الله د زړه له اخلاصه ووايي!!

په حديث قدسي كې راغلي دي:

ketabton.com - The Digital Library



عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم-: قَالَ اللَّهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى أَنَا أَغْنَى الشُّرَكَاءِ عَنِ الشِّرْكِ مَنْ عَمِلَ عَمَلاً أَشْرَكَ فِيهِ مَعِي غَيْرِي تَرَكْتُهُ وَشِرْكَهُ.(رواه مسلم ص: ۴۱۱ ج:۲)

ژباړه: له حضرت ابوهريره –رضي الله عنه– څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه و سلم – فرمايلي دي چې الله تعالى فرمايي: زه په ټولو شريکانو کې له شراکت څخه ډېر وېزاره يم، څوک چې يو عمل وکړي، په هغه کې را سره بل څوک شريک کړي، نو دی او شرک مي سره پرېښي دي!!

نو مطلب دا دی چې له اخلاص پرته د کلمې وينا قبوله نه ده.

۷: **د دې کلمې سره محبت او مينه لرل:** مسلمان به د الله تعالى او د هغه د رسول - صلى الله عليه و سلم - سره مينه لري، که څوک کلمه ولولي او له کلمې څخه نفرت و لري او د کوموکارونو غوښتنه چې کلمه کوي، له هغو سره مينه نه لري، نو دا ايمان مُعتبر نه دی.

الله تعالى فرمايي: فَسَوْفَ يَأْتِي اللَّهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُ(المائدة: ۵۴)

ژباړه: ژر دی را به ولي الله تعالى داسي قوم چې الله تعالى به د دوی سره مينه کوي او دوی به د الله تعالى سره مينه کوي!!

عَنْ أَنَسٍ -رضى الله عنه- قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ثَلاَثٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ وَجَدَ بِهِنَّ حَلاَوَةَ الإِيمَانِ مَنْ كَانَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِمَّا سِوَاهُمَا وَمَنْ أَحَبَّ عَبْدًا لاَ يُحِبُّهُ إِلاَّ لِلَّهِ وَمَنْ يَكْرَهُ أَنْ يَعُودَ فِي الْكُفْرِ بَعْدَ أَنْ أَنْقَذَهُ اللَّهُ مِنْهُ كَمَا يَكْرَهُ أَنْ يُلْقَى فِي النَّارِ.( متفق عليه، مشكاة المصابيح ص: ۱۲ ج:۱)

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: له حضرت انس - رضی الله عنه - روايت دی چې رسول الله - صلى الله عليه وسلم – وفرمايل: درې داسي کارونه دي په چا کې چې موجود شول، د هغو له امله به د ايمان خوند محسوس کړي:

۱: چا ته چې الله او د هغه رسول تر بل هر چا محبوب وي.

۲: څوک چې د يوه بنده سره محبت يوازي د الله لپاره کوي.

۳: څوک چې له کُفر څخه تر وتلو وروسته بېرته ورګرزېدل داسي بدګڼي لکه څنګه چې په اور کې لوېدل بد ګڼي!!

۸: **پر طاغوت کُفر کول:** طاغوت هر هغه څوک دی چې له الله پرته يې عبادت کېږي. الله - **جل جلاله** - فرمايي: فَمَنْ يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِنْ بِاللَّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَى لَا انْفِصَامَ لَهَا وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ (البقرة:۲۵۶)

ژباړه: څوک چې پر طاغوت باندي کُفر وکړي او پر الله تعالى ايمان راوړي، نو يقيناً مضبوطه کړۍ يې ونيوله،چې د هغې پرېکېدل نشته!!

په حديث کې راغلي دي: مَنْ قَالَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَكَفَرَ بِمَا يُعْبَدُ مِنْ دُونِ اللَّهِ حَرُمَ مَالُهُ وَدَمُهُ وَحِسَابُهُ عَلَى اللَّهِ.(رواه مسلم ص:۳۷ ج:۱)

ژباړه: څوک چې لا اله الا الله و وايي او له الله پرته چې د چا عبادت کېږي پر هغه کُفر (انکار)وکړي، د ده مال او وينه حرامه او عزتمنده شوه او د ده حساب پر الله – تعالى – دی !!

يعني دا مسلمان دی.

ketabton.com - The Digital Library



مطلب دا شو چې که څوک دا کار ( پر طاغوت کُفر )و نه کړي، مسلمان نه دی.

دا اته شرائط که په چا کې موجود شول، هغه رښتینی مسلمان دی،که چا کلمه لوستلي وي، د دې سره د بل چا لپاره عبادت کوي او یا یې د کلمې نور شرطونه پر ځای کړي نه وي، نو هغه رښتینی مؤمن نه دی.

الله - رب العزت - دې مونږ صحیح او رښتیني مؤمنان وګرزوي.

## په عبادت کې مُهم شرطونه

د الله - جل جلاله - په نزد د عبادت د مقبولیت لپاره اته مُهم شرطونه شته، کله چې دا شرطونه په یوه عبادت کې موجود نه وو، هغه عبادت پرته له دې چې کوونکی یې ورباندې ستړی شوی، نور ثواب او فائده نه لري.

دې شرطونو ته دې هر هغه څوک د عبادت کولو په وخت کې پاملرنه کوي څوک چې د دې لپاره عبادت کوي چې الله پاک ما ته ثواب راکړي.

شرطونه دا دي :

( ١ ) په الله تعالی ایمان لرل او د هغه په وحدانیت او یووالي عقیده ساتل :

ketabton.com - The Digital Library



الله - سبحانه و تعالی - په خپل عظیم الشان کتاب کې فرمائلي دي:

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ كَانَتْ لَهُمْ جَنَّاتُ الْفِرْدَوْسِ نُزُلاً. خَالِدِينَ فِيهَا لاَ يَبْغُونَ عَنْهَا حِوَلاً (سورة الكهف: ١٠٧\١٠٨)

ژباړه: یقینًا هغو کسانو چې ایمان راوړی او ښه کارونه یې کړي دي، د هغوی لپاره به د فردوس باغونه مېلمستیا وي،تل به پکې اوسېدونکي وي، له هغو ځایو به بدلېدل نه غواړي!!

په دې آیت مبارک کې د ایمان د خاوندانو لپاره زېری دی او اشاره ده چې په جنت کې د هیڅ نعمت کمی نشته، ځکه به جنتیان له هغه ځایه بدلېدل نه غواړي.

فردوس په ټولو جنتو کې اعلی او افضل جنت دی.

په دې آیت کریمه کې الله تعالی جنت ته داخلیدل په دوو شرطونو پوري مربوط کړی دی :

یو پر الله جل جلاله ایمان او بل نېک عمل ( د پیغمبر - صلی الله علیه وسلم – د طریقې مطابق کار کول ).

عَنْ سُفْيَانَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ الثَّقَفِيِّ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ قُلْ لِي فِي الإِسْلاَمِ قَوْلاً لاَ أَسْأَلُ عَنْهُ أَحَدًا بَعْدَكَ - وَفِي حَدِيثِ أَبِي أُسَامَةَ غَيْرَكَ - قَالَ « قُلْ آمَنْتُ بِاللَّهِ فَاسْتَقِمْ ».(رواه مسلم، مشکات ص:١٦ ج:١).

ژباړه: له حضرت سفیان بن عبدالله الثقفي - رضی الله عنه – څخه روایت دی، وايي ما پوښتنه وکړه چې اې د الله پیغمبره! - صلی الله علیه وسلم – ما ته د اسلام په هکله داسي خبره وکړه چې په هکله یې له تا وروسته له هیچا څخه پوښتنه نه کوم ؟

ketabton.com - The Digital Library



رسول الله - صلی الله علیه وسلم – وفرمایل: داسي ووایه چې ما پر الله ایمان راوړی او بیا پر دې خبره کلک و دریږه! !

یعني پر الله تعالی داسي ایمان راوړه، څرنگه ایمان راوړل چې لازم دی، او بیا پر دې صحیح ایمان کلک و دریږه!

له دغه ایمان څخه مه په ښا کیږه! ځکه ایمان تر ټولو لومړی ضروري کار دی، که ایمان نه وي، نور عبادتونه هم گټه نه لري.

**( ۲ ) اخلاص: عبادت یوازي د الله د رضاء لپاره کول، له ریا او ځان ښودني ځان ژغورل.**

الله تعالی فرمائلي دي: فَاعْبُدِ اللَّهَ مُخْلِصًا لَّهُ الدِّينَ. أَلَا لِلَّهِ الدِّينُ الْخَالِصُ (سورة الزمر:۲\۳)

ژباړه : عبادت کوه یوازي د الله لپاره، د هغه لپاره په عبادت کې اخلاص کوونکی شه، خبر شئ! د الله لپاره خالص بندگي ده!!

گڼو مُفسرینو لیکلي دي چې د دین د لفظ په دې ځای کې د عبادت او طاعت په معنی دی، په دې کې ټول دیني احکام او عبادات داخل دي.

او له اخلاص څخه مُراد توحید دی.

مطلب دا شو چې هر عبادت خالص او یوازي د الله لپاره کوه !

د دې آیت په اولنۍ جمله کې رسول الله - صلی الله علیه وسلم – ته حکم شوی چې د الله پاک عبادت او طاعت خالص د هغه لپاره وکړه،

ketabton.com - The Digital Library



چې په هغه کې له الله پرته د بل هیچا د شرک یا ریاء او ځان ښودنې لپاره ځای نه وي.

په دوهمه جمله کې د مخکینی حکم تاکید دی، چې د عبادتونو وړ او حقدار یوازې الله پاک دی، له الله تعالی پرته یې بل هیڅوک حقدار نه دی.

په دې آیت کې اشاره ده چې هر عبادت په نیت پورې تړلی دی.

د عبادت قبولیت د اخلاص په اندازه وي:

ګڼ آیتونه په دې خبره دلیل دي چې الله پاک به د بندګانو د اعمالو حساب په تول سره کوي، په شمېرلو سره یې نه کوي.

یعنې ډېرښت ته اعتبار نشته، درنښت ته کتل کېږي او یو عبادت هغه وخت درنېږي کله چې په اخلاص سره وي.

څومره چې په یوه کار کې اخلاص وي، هغومره به وزنې او درونډ وي.

صحابه کرام چې د دې اُمت د اول صف خلګ دي، د دوی د پر مختګ یوازینی لامل دا دی چې د دوی په عملونو کې اخلاص په ډېره لوړه کچه موجود وو.

جُنید بُغدادي - رحمه الله - فرمایلي دي: اخلاص د الله او د بنده تر منځ راز دی، چې نه پرې ملائکې خبرېږي چې و یې لیکي او نه پرې شیطان خبرېږي، چې خراب یې کړي (مدارج السالکین ص: ۷۰ج: ۲)

خلاصه خبره دا ده چې له اخلاص پرته عبادت نه قبلېږي.

ketabton.com - The Digital Library


## ( ۳ ) د رسول الله - صلی الله علیه وسلم – د طريقې سره مُطابق عبادت کول:

الله - جل جلاله – فرمايي: لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِمَنْ كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا (سورة الاحزاب آيت:۲۱)

ترجمه: يقينًا ستاسو لپاره د الله تعالی په رسول کې د تابعدارۍ ښائسته نمونه شته، د هغه چا لپاره چې د الله تعالی او د آخرت د ورځې هيله لري او الله ډېر يادوي!!

علامه ابن كثير – رحمه الله – ليکلي دي: هذه الآية الكريمة اصل كبير فى التأسى برسول الله - صلى الله عليه وسلم - فى اقواله و افعاله و احواله (تفسير ابن كثير ص: ۴۷۴ ج:۳)

يعني دا آيت کريمه په رسول الله – صلی الله عليه وسلم – پسې د ده په ټولو خبرو، کارو او حالاتو کې په اقتداء کولو کې لوی دليل دی!!

يعني د امت لپاره په دې هر څه کې الله تعالی نمونه نبي - عليه السلام - ګرزولی دی، چې دوی يې بايد په نقش او قدم روان شي، پرته له هغه څه نه چې په نبي عليه السلام پوري خاص وي.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- مَنْ أَحْدَثَ فِي أَمْرِنَا هَذَا مَا لَيْسَ مِنْهُ فَهُوَ رَدٌّ. (بخاری ص: ۳۷۱ ج:۱،مسلم ص: ۷۷ ج:۲،ابوداود ص :۶۳۵ ج:۲،ابن ماجه ص:۳ ج:۱،مشكاة المصابيح ص:۲۷ ج:۱)

ژباړه: چا چې زموږ په دې دين کې داسي نوی کار وکړ، چې له دې دين څخه نه وو، هغه مردود دی!!

ketabton.com - The Digital Library


دا خو په هغه صورت کې دی چې په خپله یو نوی عبادت له ځانه د لومړي ځل لپاره جوړ کړي او پر خپل جوړ کړي کار عمل وکړي.

که د بل چا په جوړ کړي بدعت باندي عمل وکړي، د هغه په هکله فرمايي: مَنْ عَمِلَ عَمَلاً لَيْسَ عَلَيْهِ أَمْرُنَا فَهُوَ رَدٌّ (رواه مسلم ص: ۷۷ ج: ۲)

ترجمه: چا چې داسي کار وکړو چې پر هغه زموږ امر موجود نه وي، هغه عمل مردود دی!!

یعني څوک چې یو داسي عمل وکړي، چې د هغه په هکله د رسول الله - صلی الله علیه وسلم – طریقه او لارښوونه موجوده نه وي، یا خو بالکل هغه عمل په دین کې ثابت نه وي، چا له ځانه جوړ کړی وي، یا یې داسي عمل وکړو چې په دین کې ثابت وو، خو دې سړي په داسي طریقه وکړو، چې هغه طریقه په دین کې ثابته نه وه، له ځانه یې یو قید ور زیات کړ.

د مثال په توگه یو عبادت داسي وي چې هر وخت یې کول صحیح وي، خو یو څوک هغه عبادت په یوه ورځ یا یوه وخت پوري داسي خاص وگرزوي،چې په دغه وخت کې یې ضروري گڼي،په بل وخت کې یې نه کوي او یا په دې وخت کې کول یې د زیات ثواب لامل گڼي،په داسي حال کې چې د دې خبري ثبوت په شریعت کې نه وي، نو دا بدعت دی او داسي عمل او عبادت مردود دی، هغه د الله -جل جلاله - په دربار کې د قبلېدلو لائق نه دی.

ketabton.com - The Digital Library


زموږ د مذهب نامتو عالم حضرت ملا علی قاري -رحمه الله – لیکي:
وَالْمُتَابَعَةُ كَمَا تَكُونُ فِي الْفِعْلِ تَكُونُ فِي التَّرْكِ أَيْضًا، فَمَنْ وَاظَبَ عَلَى فِعْلٍ لَمْ يَفْعَلْهُ الشَّارِعُ فَهُوَ مُبْتَدِعٌ (مرقاه المفاتیح ص:۴۱ ج۱).

یعنی لکه څرنګه چې ( د نبي علیه السلام ) تابعداري په کولو کې وي، همدا راز د یوه کار په پرېښودلو کې یې هم تابعداري وي ( نو کوم کار چې نبي - علیه السلام - پرېښی وي، که څه هم منع نه وي ترې راغلې، بیا به یې هم سړی له دې امله پرېږدي چې نبي - علیه السلام - نه دی کړی) نو څوک چې یو داسي کار تل کوي چې نبي علیه السلام نه وي کړی، دا بدعتي دی!!

نو په عبادت کې دا ضروري ده چې د نبي - علیه السلام - په طریقه به وي.

( یادونه: د سنت او بدعت د تفصیل د لوستلو لپاره الاعتصام د علامه شاطبي یا د مُحقق العصر، ترجمان دیوبند حضرت مولانا سرفراز خان صفدر صاحب کتاب: راه سنت.ته مراجعه وکړئ! )

**(۴) شرط احتساب دی.**

یعني عبادت د ثواب په نیت سره کول.

که څوک هسې د عادت په توګه یو کار کوي او دې ته یې فکر هم نه وي چې دا کار ثواب لري، نو داسي کار ثواب نه لري.

لکه د بېلګي په توګه څوک د مریض پوښتني ته لاړ شي، په دې نیت چې بیا سبا ګیله را ته و نه کړي، یا یې سیل او تفریح مقصد وه، دې

ketabton.com - The Digital Library



ته يې فکر هم نه وي چې د مريض پوښتنه ثواب لري، نو دا کار د ثواب مُستحق نه دی.

دا شرط هم په ډېرو احاديثو کې راغلی دی.

**( ۵ ) عبادت کونکی به خپل ايمان په داسي شي سره نه خرابوي چې د ايمان سره په ټکر کې وي، شرک يا کفر وي.**

ځکه د شرک او کفر سره د انسان ټول عبادتونه له منځه ځي او په شتون کې يې هيڅ عبادت فائده نه لري.

په قرآن کريم کې يوازي د پنځويشتو پيغمبرانو – عليهم السلام - نومونه ذکر شوي دي، د نورو يادونه په: الانبياء، الرسل او النبيين سره شوې ده.

په دغو پنځويشتو کې د اتلسو پيغمبرانو يادونه د سورة الانعام په يوه رکوع کې شوې ده او د دوی د نومونو له يادولو وروسته بيا هم اجمالًا د ټولو پيغمبرانو - عليهم السلام – ذکر شوی دی، ور پسې الله پاک فرمايلي دي: وَلَوْ أَشْرَكُوا لَحَبِطَ عَنْهُمْ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ(الانعام:۸۸)

ژباړه: که دوی شرک کړی وی، خامخا به هغه څه چې دوی کړي دي، ترې برباد شوي وی!!

معلومه شوه چې شرک دومره خطرناک شی دی چې ور سره د پيغمبرانو عملونه هم بې فائدې کېږي او د دو ی له ښې وزي.

په بل ځای کې الله پاک فرمايي: وَلَقَدْ أُوحِيَ إِلَيْكَ وَإِلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكَ لَئِنْ أَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ (سورة الزمر۶۵)

ketabton.com - The Digital Library


ژباړه: یقینًا تا ته وحي شوې او هغو کسانو ته هم چې تر تا مخکې وو ( د دې خبري چې: ) که دي شرک وکړ، نو خامخا به ستا عبادت بربادېږي او ته به د تاوانیانو په ډله کې شاملېږې!!

د شرک سره د پیغمبر هم ټول عبادتونه ختمیږي، په داسي حال کې چې د پیغمبر هر عبادت مقبول وي او د اُمت عبادتونه هغي درجې ته ور رسېدلی نه شي، خو بیا یې هم شرک له منځه وړي.

له پیغمبر څخه خو د شرک کېدل ناشونی کار دی، خو الله پاک د اُمت د پوهولو لپاره داسي وفرمایل،یعني که تاسوشرک وکړئ، هر څه عبادتونه به مو برباد شي.

دا ځکه چې تر مُشرک د الله پاک لوی باغي او نافرمان نشته ځکه به تل تر تله په عذابونو کې وي.
مطلب مو دا وو چې د عبادت د مقبولیت لپاره ضروري ده چې انسان ځان له شرک او کفر څخه وساتي.

(۶) **خوف**: د عبادت د کولو په وخت کې وېرېدل چې دا عبادت به قبول شي او که نه ؟

(۷) **رجاء**: د عبادت د کولو په وخت کې اُمید لرل چې الله پاک مهربان ذات دی، د هغه له مهربانۍ څخه دا اُمید دی چې زما دا کمزوری عبادت به قبول کړي.

(۸) دا د عبادت د بقاء لپاره شرط دی چې که څوک غواړي چې عبادت مي دي قبول شي، روغ سلامت دي را سره پاته شي او ما ته

ketabton.com - The Digital Library



دي د قيامت په سخته ورځ په کار را شي، نو هغه دي د بندګانو حقونه پر ځان نه پرېږدي.

د چا غيبت دي نه کوي، پر چا دي تُهمت نه لګوي، چا ته دي تکليف نه ور رسوي او د چا حق دي نه خوري.

که داسي نه وي، بيا به يې عبادت کړی وي، قبول شوی به هم وي، خو بيا به هم د قيامت په ورځ ترې ولاړ شي، د ده مُدعي ته به ور کول شي او د هغه ګناهونه به پر ده باندي واچول شي او د ده برخليک به دوزخ شي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ: أَتَدْرُونَ مَا الْمُفْلِسُ ». قَالُوا الْمُفْلِسُ فِينَا مَنْ لاَ دِرْهَمَ لَهُ وَلاَ مَتَاعَ.

فَقَالَ « إِنَّ الْمُفْلِسَ مِنْ أُمَّتِي يَأْتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِصَلاَةٍ وَصِيَامٍ وَزَكَاةٍ وَيَأْتِي قَدْ شَتَمَ هَذَا وَقَذَفَ هَذَا وَأَكَلَ مَالَ هَذَا وَسَفَكَ دَمَ هَذَا وَضَرَبَ هَذَا فَيُعْطَى هَذَا مِنْ حَسَنَاتِهِ وَهَذَا مِنْ حَسَنَاتِهِ فَإِنْ فَنِيَتْ حَسَنَاتُهُ قَبْلَ أَنْ يُقْضَى مَا عَلَيْهِ أُخِذَ مِنْ خَطَايَاهُمْ فَطُرِحَتْ عَلَيْهِ ثُمَّ طُرِحَ فِي النَّارِ. (رواه مسلم ص: ۳۲۰ ج: ۲)

ژباړه: له حضرت ابو هريره - رضی الله عنه - څخه روايت دی چې رسول الله - صلی الله عليه وسلم - ( يوه ورځ صحابوو ته ) وفرمايل: تاسو پوهېږئ! مُفلس څوک دی ؟

صحابه کرامو – رضي الله عنهم – و ويل: په موږ کې مُفلس هغه څوک دی د چا سره چې نه روپۍ وي او نه سامان !

رسول الله - صلی الله عليه وسلم – وفرمايل: زما په اُمت کې ( اصلي ) مفلس هغه څوک دی: څوک چې به د قيامت په ورځ ( له دُنيا څخه د

ketabton.com - The Digital Library



ځان سره قبول شوي ) لمونځ، روژه او زکات راوړي، خو په داسي حال کې به راشي چې چا ته یې ښکنځل کړې دي،پر چا یې تُهمت ( نا سم تور ) لګولی، د چا یې مال خوړلی، د چا یې وینه توی کړې او څوک یې وهلی دی.

نو د ده له نېکیو څخه به هر یوه مظلوم ته د ده د ظُلم په اندازه نېکۍ ور کول شي،که د ده نېکۍ مخکي تر دې چې پر ده باندي حقونه اداء شي، ختمي شي، نو د هغوی ګناهونه به را واخیستل شي او پر ده به واچول شي، بیا به په دوزخ کې وغورځول شي!!

په دې کې دي سړی فکر وکړي چې دا به څومره زیات د تأسف او افسوز ځای وي، چې قبول شوي عبادتونه یې ( چې آخرت ته یې له ځان سره وړي وي) له لاسه ووزي.

دا په عبادت کې مهم شرطونه دي، که دا شرطونه مراعت کړل شي، نو ان شاء الله تعالی عبادتونه به مو د قبول وړ وي.

الله - جل جلاله - دي زموږ عبادتونه قبول کړي آمین

## هغه څوک چې الله تعالی به ور سره خبري نه کوي ؟

په قرآن کریم او نبوي احادیثو کې ځیني داسي کسان ذکر شوي چې د هغو په اړه ویل شوي، چې د دوی سره به الله – تعالی – د قیامت په ورځ خبري نه کوي، له ګناهونو به یې نه پاکوي او د دوی لپاره به دردناک عذاب وي.

دا څوک دي ؟ کومي ګناوي یې کړې دي ؟

ketabton.com - The Digital Library



غواړو چې د هغو ګناهونو يادونه وکړو د کومو له امله چې څوک د داسي سختو عذابونو مستحق کرزي.

دوی ګڼ شمېر کسان دي.

الله - سُبحانه و تعالی - فرمايي: إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَا أَنزَلَ اللّهُ مِنَ الْكِتَابِ وَيَشْتَرُونَ بِهِ ثَمَنًا قَلِيلاً أُولَئِكَ مَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ إِلاَّ النَّارَ وَلاَ يُكَلِّمُهُمُ اللّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلاَ يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ (البقرة١٧٤)

ژباړه: يقيناً هغه کسان چې هغه خبري پټوي چې الله له خپل کتابه نازلي کړې دي او په دې (پټولو) سره لږ قيمت حاصلوي (ټوله دُنيا هم د الله تعالی د آياتونو په بدله کې لږ ده)،دغه کسان په خپلو نسونو کې اور اچوي،د دوی سره به الله پاک د قيامت په ورځ خبري نه کوي،نه به دوی له ګناهونو پاکوي او د دوی لپاره دردناک عذاب دی!!

يعني کوم خلګ چې هغه علم پټوي،کوم چې الله -جل جلاله – د خلګو د هدايت او لارښووني لپاره را لېږلی دی.

دوی يې پټوي او په دې سره خلګ د الله پاک له لاري بې لاري او ګمراه کوي او دوی په دې هم بسنه نه کو ي، بلکي په دې امانت کې په خيانت کولو سره دُنيوي ګټې لاس ته راوړي، دوی بايد پوه شي چې کوم مال د دين د خرڅولو او د حق د پټولو له لاري لاس ته راځي، هغه په حقيقت کې د دوی لپاره ګټه نه بلکي تاوان دی.

ketabton.com - The Digital Library


دغو د حق پټوونکو خلگو ته چې حق پټوي او په دې توگه پیسې تر لاسه کوي او یا له دې وېرې حق نه بیانوي چې په خلگو کې بد نام نه شي، الله - جل جلاله – څلور ډوله عذابونه ور کوي:

(۱) دوی چې کوم حرام مال له دې لارې لاس ته کوي او خوري یې، نو دوی په حقیقت کې اور په خپلو نسونو کې اچوي، دا ځکه چې د دوی د دې ناوړه کړو پایله همدا ده او بعضو مُحقیقینو علماوو فرمایلي دي چې حرام مال په حقیقت کې د جهنم اور دی، که څه هم د دې اور کېدل په دُنیا کې نه معلومېږي، خو د مرگ وروسته به د ده دا کار د اور په شکل کې مخې ته راشي (تفسیر معارف القرآن ص: ۴۲۹ج: ۱ ملخصاً)

(۲) د دوی سره به الله تعالی د قیامت په ورځ د رحمت او په نرمۍ خبرې نه کوي.

په دې کې اشاره ده چې الله - سُبحانه و تعالی - به له دوی څخه ډېر زیات ناراض وي او پر دوی به ډېر سخت په غُصه وي، تر دې چې د دوی سره به په نرمۍ او د رحمت خبرې نه کوي.

دا په حقیقت کې د اور تر عذاب هم سخت عذاب دی.

(۳) دوی به الله تعالی له گناهونو او بدو صفاتو څخه نه پاکوي لکه څنگه چې الله پاک گناهگارو مسلمانانو ته د څه وخت لپاره په دې موخه عذاب ور کوي، څو هغوی له گناهونو پاک او د جنت وړ و گرزي، خو د حق پټوونکو ته به عذاب د دې لپاره ورکول کېږي چې

ketabton.com - The Digital Library


کړاوونه او تکليفونه وګالي لکه څنګه چې الله تعالی فرمايلي دي: وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ. (د دوی لپاره دردوونکی عذاب دی)

(۴) د دوی لپاره به دردناک عذاب وي.

په بل ځای کې فرمايي: إِنَّ الَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ اللّهِ وَأَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيلاً أُوْلَئِكَ لاَ خَلاَقَ لَهُمْ فِي الآخِرَةِ وَلاَ يُكَلِّمُهُمُ اللّهُ وَلاَ يَنظُرُ إِلَيْهِمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلاَ يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ (آل عمران:۷۷)

ژباړه: په يقيني توګه هغه کسان چې د الله تعالی پر لوظ او خپلو قسمونو لږ بدله (د دُنيا مالونه) اخلي، دغه کسان داسي دي چې د دوی لپاره په آخرت کې هيڅ حصه (د ثواب) نشته،د دوی سره به الله تعالی خبري نه کوي او نه به دوی ته (په رحمت او مهربانۍ) سره ګوري او د دوی لپاره دردناک عذاب دی!!

د آيت مطلب دا دی چې کوم خلګ دُنيا په دين سره اخلي، د دُنيا لږ فائدې ته د آخرت په مقابل کې ترجيح ور کوي او هغې ته ځانونه د وعدو په ماتولو او د دُرواغو قسمونو په کولو سره رسوي، نو د دغو کسانو سره به الله تعالی په قيامت کې خبري نه کوي.

يعني د دوی لپاره د الله تعالی عذاب لازم دی، د الله تعالی له رحمتونو او ثوابونو محروم دي، د ګناهونو له پاکېدلو محروم دي، په داسي حال کې به قيامت ته ځي چې په خپلو جرائمو به ملوث او لړلي وي او دردناک عذاب به ور ته تيار وي.

نو په داسي سختو عذابونو به هغه کس مُبتلاء وي، چا چې په دُنيا کې حق پټ کړی او له دې لاري يې دُنيوي فائدې تر لاسه کړې وي.

ketabton.com - The Digital Library



په احاديثو کې هم ګڼ داسي کسان ذکر شوي، چې د يادو عذابونو مستحق دي:

عَنْ أَبِي ذَرٍّ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ: ثَلاَثَةٌ لاَ يُكَلِّمُهُمُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلاَ يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ وَلاَ يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ » قَالَ فَقَرَأَهَا رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- ثَلاَثَ مِرَارٍ. قَالَ أَبُو ذَرٍّ خَابُوا وَخَسِرُوا مَنْ هُمْ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ « الْمُسْبِلُ وَالْمَنَّانُ وَالْمُنَفِّقُ سِلْعَتَهُ بِالْحَلِفِ الْكَاذِبِ. (رواه مسلم ص:۷۱ ج:۱)

ژباړه: له حضرت ابوذر - رضی الله عنه – څخه روايت دی چې رسول الله - صلی الله عليه وسلم – وفرمايل: درې کسان داسي دي چې د قيامت په ورځ به الله - جل جلاله - نه د دوی سره خبري کوي، نه به ور ته ګوري، ( د رحمت په نظر سره ) نه به يې له ګناه پاکوي او د دوی لپاره دردناک عذاب دی.

ابوذر - رضی الله عنه – وفرمايل: دا کسان له خيره محروم او تاوانيان شول، دا څوک دي اې د الله رسوله - صلی الله عليه وسلم - ؟

نبي - عليه السلام – وفرمايل: (۱) هغه څوک چې پايڅې يې تر ګېټو ( بجلکو )ښکته وي.

( ۲ ) احسان کوونکی( چې چا ته څه ور کړي او بيا يې ور په زړه کوي او ور باندي احسان اچوي )

(۳ ) هغه څوک چې خپل سامان په دُرواغ قسم سره چلوي.

( مسلم، ابوداؤد ، ترمذي، نسائي، احمد ، ابن حبان، بيهقي ).

په دي حديث کې دا درې ګناوي ذکر شوې دي :

ketabton.com - The Digital Library


۱: د پایڅو تر ګېټو (بجلکو) کښته ساتل: دا د تکبر او لویي علامه ده او لویي کول لویه ګناه ده.

دا یوه بې خونده ګناه ده چې خوند او لذت نه لري خو عذاب یې ډېر سخت دی.

د تاسف خبره دا ده چې دا ګناه دومره عامه ده چې ډېر خلګ ور ته د ګناه په سترګه نه ګوري.

له دې گناه باید بنده په کلکه ډډه وکړي ځو د یوې بې خونده گناه له کبله په سختو عذابونو کې اخته نه شي.

د یادوني وړ ده چې دا حکم د سړو لپاره دی چې پایڅې به تر بجلکو پورته کوي، که په لمانځه کې وي او که له لمانځه بهر وي.

د ښځو لپاره حکم دا دی چې پایڅې به کښته کوي.

۲: پر چا احسان اچول: چې د چا سره ښه وکړي، هر وخت یې ور په یادوي چې په فلاني وخت کې مي داسي ښه در سره وکړل، دا نه یوازي دا چې د هغو ښو ثواب له منځه وړي، بلکي بر عکس ګناه هم ور پسي لیکل کېږي چې پایله یې په آخرت کې د الله پاک د رحمت له خبرو محرومتیا او سخت عذابونه دي.

۳: هغه ځوک چې خپل سامان په دُرواغ قسم سره خرڅوي.

یو شی یې ارزانه اخیستی وي، خو بل چا ته په قسم سره وایي چې دا مي په دومره روپو اخیستی دی!!

ketabton.com - The Digital Library



تر اصلي قيمت زيات ور يادوي، يا ور ته وايي چې دا شی اصلي دی او هغه اصلي نه وي، خو دی ور باندي قسم هم اخلي.

داسي شخص د الله - رب العزت – د نوم څخه غلطه استفاده کوي او سپکاوی يې کوي، نو ځکه ور ته داسي سخت عذابونه ور کول شول.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- «ثَلاَثَةٌ لاَ يُكَلِّمُهُمُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلاَ يُزَكِّيهِمْ -قَالَ أَبُو مُعَاوِيَةَ وَلاَ يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ -وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ شَيْخٌ زَانٍ وَمَلِكٌ كَذَّابٌ وَعَائِلٌ مُسْتَكْبِرٌ».(رواه مسلم ص:۷۱ ج:۱).

ژباړه: له حضرت ابوهريره - رضی الله عنه – څخه روايت دی چې رسول الله - صلى الله عليه وسلم – وفرمايل: درې کسان دي چې د هغو سره به الله جل جلاله د قيامت په ورځ نه خبري کوي او نه به يې له ګناهونو پاکوي ( ابومعاويه راوي وايي ) او نه دوی ته ( په رحمت سره ) ګوري او د دوی لپاره دردناک عذاب دی: ( ۱) بوډا زنا کار ( ۲ ) دُرواغجن باچا ( ۳ ) کبرجن مسکين!!

دغو درو کسانو ته دغسي سخت عذابونه ولي ور کول کېږي ؟

په دې هکله قاضي عياض ويلي دي چې ځکه دوی هر يوه په داسي حال کې يادي شوې ګناوي کړې دي چې ترې لري وو، اړتيا يې نه ور ته لرله او هڅوونکي سببونه يې ور سره کمزوري وو، که څه هم د ګناه له امله هيڅوک معذور نه وي خو د دوی لپاره په يادو حالاتو کې ګناه کول عناد او ضد کولو ته ور ته دی او د الله پاک حق ته سپک کتل دي او د الله تعالی د نافرمانۍ قصد دی پرته له بل ضرورته، ځکه

ketabton.com - The Digital Library



د بوډا او سپین ږیري عقل او پوهه له دې امله پوره وي چې ډېره زمانه پرې تېره شوې ده، د ده د زنا کولو لپاره هیڅ پلمه نه جوړېږي.

ځوان خو که زنا کوي د عقل د کمزورۍ، د شهوت د غلبې او د عمر د کموالي له امله یې کوي.

همدا راز باچا په خپل رعیت کې له چا وېره او ډار نه لري.

دُرواغ خلک له چا د ډار او وېرې له امله وایي، نو باچا خو مطلقًا اړتیا نه ور ته لري.

همدا راز کبرجن مسکین مال او سر مایه نه لري، د فخر، لویي او ځان تر نورو لوړ ګڼلو سبب د مال زیاتوالی او د نورو خلکو ده ته اړتیا وي، د مسکین سره خو د لویي سبب (مال) نشته، نو دی ولې تکبر او لویي کوي ؟ او ولې نور سپک ګڼي ؟

نو د ده کړنه، همدا راز د بوډا زنا کار کړنه او د دروغجن باچا کړنه پرته له دې چې د الله پاک د حق سپک ګڼل دي، نور څه نه شو. (شرح النووي علی مسلم ملخصًا ص: ۷۱ ج: ۱)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رضی الله عنه- عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: قَالَ اللَّهُ ثَلَاثَةٌ أَنَا خَصْمُهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ رَجُلٌ أَعْطَى بِي ثُمَّ غَدَرَ وَرَجُلٌ بَاعَ حُرًّا فَأَكَلَ ثَمَنَهُ وَرَجُلٌ اسْتَأْجَرَ أَجِيرًا فَاسْتَوْفَى مِنْهُ وَلَمْ يُعْطِهِ أَجْرَهُ (رواه البخاری ص: ۲۹۷ ج: ۱، و احمد ص: ۳۱۸ ج: ۱۴).

ژباړه: حضرت ابوهریره - رضی الله عنه - له رسول الله - صلی الله علیه وسلم - څخه روایت کوي چې الله - جل جلاله - فرمائلي دي: درې کسان داسي دي چې د قیامت په ورځ به زه د هغوی دُښمن یم: (۱) یو هغه

ketabton.com - The Digital Library



سړی چې یو شي د الله پاک په نامه ور کول شي، بیا په هغه کې دوکه وکړي.

(۲) هغه څوک چې یو ازاد سړی یې خرڅ کړ او د هغه روپۍ یې وخوړلې.

(۳) بل هغه څوک چې یو مزدور یې ونیوی، کار یې ترې پوره واخیست او مزدوري یې ور نه کړه. ! !

دا درې هم لويې ګناوې دي.

اولنی سړی چې د الله تعالی په نوم څه ورکړي او بیا دوکه پکې کوي.

داسې شخص د الله تعالی د نوم قدر نه لري، بلکې سپکاوی یې کوي، نو ځکه د سخت عذاب مستحق شو.

د ازاد سړي خرڅوونکی ځکه د سخت عذاب جوګه دی چې یو انسان آزاد وي او بیا څوک ترې غلام جوړ کړي، دا د هغه انسان سره ډېر لوی ظلم دی، له دې امله د دې کار مُرتکب د سخت عذاب مُستحق دی.

په دې کې هغه څوک هم داخل دی څوک چې ازاد خلک وتښتوي، او بیا پرې روپۍ اخلي.

د دې حدیث په رڼا کې دا خبره معلومېږي چې د داسې خلکو لپاره سخت عذاب دی.

له مزدوره کار اخیستل او بیا یې مزدوري نه ور کول دا لوی ظلم دی، هغه بېچاره ځان ستړی کړي او بیا ور ته مزدوري نه ور کول کېږي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -وَهَذَا حَدِيثُ أَبِي بَكْرٍ -قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « ثَلاَثٌ لاَ يُكَلِّمُهُمُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلاَ يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ وَلاَ يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ رَجُلٌ عَلَى

ketabton.com - The Digital Library



فَضْلِ مَاءٍ بِالْفَلَاةِ يَمْنَعُهُ مِنِ ابْنِ السَّبِيلِ وَرَجُلٌ بَايَعَ رَجُلاً بِسِلْعَةٍ بَعْدَ الْعَصْرِ فَحَلَفَ لَهُ بِاللَّهِ لَأَخَذَهَا بِكَذَا وَ كَذَا فَصَدَّقَهُ وَهُوَ عَلَى غَيْرِ ذَلِكَ وَرَجُلٌ بَايَعَ إِمَامًا لَا يُبَايِعُهُ إِلَّا لِدُنْيَا فَإِنْ أَعْطَاهُ مِنْهَا وَفَى وَإِنْ لَمْ يُعْطِهِ مِنْهَا لَمْ يَفِ».

(رواه البخاري ص: ۳۱۷ ج: ۱، و مسلم ص: ۷۱ ج: ۱ واللفظ له)

ژباړه: له حضرت ابوهريره - رضی الله عنه - روايت دي چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم – وفرمایل: درې کسان دي، د دوی سره به الله پاک دقیامت په ورځ نه خبري کوي، نه به ورته ګوري او نه به يې له ګناهونو پاکوي او د دوی لپاره دردناک عذاب دی:

(۱) يو هغه سړی چې په صحراء کې په داسي اوبو ولاړ وي چې د ده تر حاجت زياتي وي، (خو بيا يې هم) له مسافرو منع کوي.

(۲) بل هغه سړی چې په چا باندي يو شی د مازديګر (تر لمانځه) وروسته خرڅ کړي او داسي قسم ورته وکړي چې دا ما په دومره روپۍ اخيستی دی، هغه سړي د ده په خبره باور وکړي، په داسي حال کې چې د ده خبره صحيح نه وه.

(۳) هغه څوک چې د يوه امام (مشر) سره د دُنيوي غرض پر بنسټ بيعت وکړي، که څه ور کوي، وفاداري کوي، که څه نه ور کوي، بيا وفاداري نه کوي!!

د داسي سختو عذابونو خاوندان نور کسان هم شته چې الله - جل جلاله - به د قيامت په ورځ خبري نه ور سره کوي چې په هغو کې د مور او پلار نافرمان، د سړو سره مُشابهت کوونکې ښځه او ديوث (بې غيرته انسان) هم شامل دي.

ketabton.com - The Digital Library


له دغو کارو څخه باید ځانونه وساتو، څو له دغوعذابو څخه خوندي شو.

## د الله پاک د راضي کېدو علامات

د الله پاک رضاء یوه ډېره لویه خبره ده چې د حاصلولو لپاره یې تل مسلمان کوښښ کوي، ځکه مسلمان عبادتونه د همدې لپاره کوي چې الله تعالی ترې راضي شي او له ګناهونو هم د دې لپاره ځان ساتي څو دغه ستر هدف ته ځان ورسوي.

کله چې له چا څخه الله تعالی راضي شي، نو هغه انسان په یقیني توګه نېکمرغه دی او په دُنیا او آخرت کې بریالی دی چې په پایله کې به یې د ابدي راحت او خوشحالۍ څښتن کېږي کومه چې جنت ته په ننوتو سره د الله تعالی په حکم سره تر لاسه کېږي.

الله پاک اسمانونه، زمکي او دا لوی نظام د دې لپاره پیداکړی، چې هغه څوک معلوم او ښکاره کړي له چا چې الله پاک راضي کېږي او له چا ناراضه کېږي.

همدا راز جنت او دوزخ یې هم د دې مقصد لپاره پیدا کړي، چې څوک الله پاک له ځانه راضي کړي، هغوی ته انعامونه ورکړي او څوک چې یې (العیاذ بالله ) ناراض کړي، هغوی ته سزا ورکړي.

حساب،پُل صراط،مېزان او تله یې هم د دې لپاره پیداکړي چې د انسانانو سره د خپلي رضامندۍ په اندازه معامله وکړل شي. که له چا څخه الله رب العزت راضي شي،دا د ده لپاره لویه نېکمرغي او ستر بریالیتوب دی،که ترې ناراض شي،دا یې لویه تباهي، حقیقي

ketabton.com - The Digital Library


بدمرغي، تلپاتې شرمندګي او د سختو عذابونو لامل او سبب دی.
مطلب دا دی چې زموږ لپاره په ژوندانه کې تر ټولو لومړنی مُهم کار دا دی چې الله - جل جلاله - له ځانو راضي کړو.

نو د انسان لپاره تر هر څه مُهمه خبره دا ده چې الله پاک د رضاء په لټه کې شي او له هر هغه څه څخه په کلکه ډډه وکړي چې د الله پاک د ناراضتیا سبب ګرزي.

دا د اسلام د دین اصل او بُنیاد دی،د دې مقصد لپاره الله پاک پیغمبران - علیهم الصلاة والسلام – را لیږلي دي.

دا سوال به رسول الله - صلی الله علیه وسلم – ډېر ځله له الله - جل جلاله - څخه کوی او د الله پاک له ناراضتیا څخه به یې پناه غوښتله، لکه څرنګه چې په حدیث کې راغلي دي: «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ وَبِمُعَافَاتِكَ مِنْ عُقُوبَتِكَ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْكَ لَا أُحْصِي ثَنَاءً عَلَيْكَ أَنْتَ كَمَا أَثْنَيْتَ عَلَى نَفْسِكَ». (مسلم ص: ۱۹۲ ج:۱)

ژباړه: یا الله ! زه ستا په رضاء سره ستا له ناراضتیا څخه پناه غواړم او ستا په سلامتیا سره ستا له عذابه پناه غواړم او تا ته ستا ( له عذاب ) څخه پناه در وړم، زه ستا ستاینه نه شم کولی، ته هغسي یې څرنګه دي چې د خپل ځان ستاینه کړې ده ! !

یو عالم وايي: ما په دې هکله فکر وکړ، چې تر ټولو زياته فائده منده دُعاء کومه يوه ده ؟

نو بالآخره دې نتيجې ته ورسېدم چې تر ټولو فائده منده او غوره دُعاء د الله پاک د راضي کېدلو سوال دی ! !

ketabton.com - The Digital Library


يعني د بنده لپاره تر ټولو مُفيده دُعاء دا ده چې دا سي دُعاء وکړي چې يا الله ! ته له ما څخه راضي شه !
او س څنګه پوه کېداى شو چې الله رب العزت له موږ راضي دى، که ناراضه ؟

د دې لپاره ځونښې او اسباب شته، په دغو نښو کې ځيني ټولنيزي دي، چې د ټولني سره تعلق لري او ځينې يې ځانګړې دي، چې د يوه شخص سره تعلق لري.

دا بايد هر مسلمان په غور سره ولولي او بيا دي د ځان او ټولني په هکله فکر وکړي چې څومره دا نښې په موږ کې شته، که وي، د الله تعالى شکر دي اداء کړي او پر هغو دي ثابت و اوسي، که نه وي په ځان کې د راوستو کوښښ دي وکړي.

هغه دا دي:

**۱ : کله چې الله – تعالى - يو انسان د خير په کارو کې استعمالوي**، په خپل طاعت او عبادت کې يې استعمالوي، دا د الله پاک د رضاء علامه ده، چې الله پاک له دې انسانه راضي دى.
او کله چې يو څوک د ګناه په کارو کې استعمالوي، د الله تعالى په نافرمانۍ کې مصروف وي، دا له هغه انسانه د الله تعالى د ناراضتيا نښه ده .
دې خبرې ته الله پاک په خپل کتاب کې اشاره کړې ده، الله - جل جلاله – فرمايي: وَالَّذِينَ اهْتَدَوْا زَادَهُمْ هُدًى وَآتَاهُمْ تَقْوَاهُمْ (سورة محمد: ۱۷)

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: او کومو خلګو چې لار موندلې ده، الله به يې هدايت ور زيات او تقوی به ور کړي!!

يعني کومو خلګو چې سمه لار موندلې ده، الله پاک د دوی لار موندنه نوره زياتوي، يعني نور يې هم پر دين کلکوي، پر دين د عمل کولو توفيق ور کوي او دوی ته د تقوی او پرهېزګارۍ توفيق ور کوي.

نو څوک چې د دين مطابق روان وي، له دې معلومېږي چې له ده څخه الله - **جل جلاله** - راضي دی.

الله - سُبحانه و تعالی – فرمايي: وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا وَإِنَّ اللَّهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِينَ (سورة العنكبوت: ٦٩)

ژباړه: او کومو کسانو چې زموږ په لار کې جهاد کړی دی، خامخا به خپلې لارې ور ښيو او بې شکه الله د نېکانو سره (ملګری) دی!!

يعني هغه کسان چې د الله تعالی د دين په لار کې مشقتونه پورته کوي، موږ هغوی ته د خپل نزدېکت او ثواب لارې ور ښيو، چې په هغو سره دوی جنت ته رسېږي او الله تعالی د داسې نېکانو خلګو سره دی، په دُنيا کې هم او په آخرت کې هم.

که دوی ته کله په يوه کار کې شک پيدا شي، چې دا خير دی او که شر؟ نو په داسې ځايونو کې الله پاک دغو کسانو ته صحيح لارښوونه کوي.

ketabton.com - The Digital Library



نو له دې آیته معلومېږي چې څوک د دین مطابق چلېږي، ژوندیې د الله پاک په طاعت او عبادت کې تېرېږي، له هغه څخه الله پاک راضي دی.

عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم قَالَ: إِنَّ اللَّهَ إِذَا أَرَادَ بِعَبْدٍ خَيْرًا اسْتَعْمَلَهُ، فَقِيلَ: وَكَيْفَ يَسْتَعْمِلُهُ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: يُوَفِّقُهُ لِعَمَلٍ صَالِحٍ قَبْلَ الْمَوْتِ (رواه الترمذی ص: ۳۶ ج: ۲، وابن حبان ص: ۵۲ ج: ۲ ومسند الصحابة: ۳۵۱ ج: ۳۰ وقال الترمذی: حدیث صحیح).

ژباړه: له حضرت انس – رضي الله عنه – څخه روایت دی چې رسول الله – صلی الله علیه وسلم – وفرمایل: کله چې د الله پاک یوه بنده ته د خیر اراده وکړي، هغه استعمال کړي.

چا ور ته وویل: څنګه یې استعمالوي؟

!!و یې فرمایل: تر مرګ مخکې د نېک عمل توفیق ور کوي

نو چا ته چې الله پاک د ښو کارونو توفیق ور کړي، دا د الله پاک د رضاء یوه نښه ده او کله چې څوک د الله پاک په نافرمانۍ کې اخته وو، دا دلیل دی چې له هغه څخه (العیاذ بالله) الله پاک ناراض دی.

کله چې یو انسان په هغو کارو کې بوخت وي کوم چې د الله تعالی د رضاء اسباب دي، نو دا د الله پاک د رضاء علامه ده چې له دغه کس څخه الله پاک راضي دی.

**۲**: دوهمه نښه د الله پاک د رضاء دا ده چې الله پاک چا ته د رسول الله - صلی الله علیه وسلم – د مُبارکو سُنتو طریقو د تابعدارۍ توفیق ور

ketabton.com - The Digital Library



کړي او دی د سُنت مُطابق خپل ژوند تېروي، دا دلیل دی چې له دې کس څخه الله - رب العزت - راضي دی.

الله تعالی فرمايي: قُلۡ إِن كُنتُمۡ تُحِبُّونَ ٱللَّهَ فَٱتَّبِعُونِي يُحۡبِبۡكُمُ ٱللَّهُ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ {سورة آل عمران:۳۱}

ژباړه: ورته ووایه ( اې پیغمبره! - صلی الله علیه وسلم - که تاسو د الله تعالی سره مینه لرئ، زما تابعداري وکړئ! الله پاک به ستاسو سره مینه او محبت وکړي، ګناهونه به مو درو بخښي او الله پاک بخښونکی او مهربان دی!!

په دې آیت مبارک کې د رسول الله - صلی الله علیه وسلم – د تابعدارۍ دوه فائدې او انعامونه ذکر شوي دي:

.۱: د الله له لوري د بنده سره محبت

.۲: د ګناهونو وربخښل کېدل

معلومه خبره ده چې د چا سره الله پاک محبت او مینه لري، نو خامخا الله پاک له هغه څخه راضي هم وي.

۳: د الله د رضاء دریمه علامه دا ده چې څوک د الله پاک د کتاب سره تعلق ساتي.

دا هم د الله پاک د رضاء یوه لویه علامه ده لکه څنګه چې له حضرت ابوهریره - رضي الله عنه - روایت دی چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم – وفرمایل: اِقْرَءُوا الْقُرْآنَ فَإِنَّهُ نِعْمَ الشَّفِيعُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِنَّهُ يَقُولُ يَوْمَ

ketabton.com - The Digital Library



الْقِيَامَةِ يَارَبِّ حَلِّهِ حِلْيَةَ الْكَرَامَةِ فَيُحَلَّى حِلْيَةَ الْكَرَامَةِ يَارَبِّ اكْسُهُ كِسْوَةَ الْكَرَامَةِ فَيُكْسَى كِسْوَةَ الْكَرَامَةِ يَارَبِّ أَلْبِسْهُ تَاجَ الْكَرَامَةِ يَارَبِّ ارْضَ عَنْهُ فَلَيْسَ بَعْدَ رِضَاكَ شَيْءٌ (رواه الدارمي ص: ۵۲۲ ج: ۲)

ژباړه: قرآن لولئ! څکه قرآن د قیامت په ورځ ډېر ښه سپارش کوونکی دی، قرآن به وايي: اې ربه! ده (د قرآن لوستونکي) ته د عزت حُلیه (د ښائست سامان) ور واغونده! نو د عزت حُلیه به ور واغوستل شي. (بیا به ووايي) اې ربه! ده ته د عزت جامې ور واغونده! نو هغه به ور واغوستل شي.

(بیا به ووايي) اې ربه! د عزت تاج ور واغونده، اې ربه! ته ترې راضي شه! ستا تر رضاء وروسته بل څه (قیمتي او فائده مند شی) نشته! !

۴: څلورمه علامه د الله پاک د رضاء دا ده:

کله چې د انسان زړه د الله - رب العزت - له مُحبته ډک شي، دا هم د الله پاک د رضاء نښه ده.

الله پاک فرمايي: يُحِبُّهُم وَيُحِبُّونَهُ { مینه به لري الله پاک د دوی سره او دوی به د الله سره مینه لري }

په دې آیت مبارک کې الله پاک خپل محبت د دوی د مُحبت سبب ښودلی دی، یعني د دوی سره د الله پاک د میني او مُحبت لامل دا دی چې دوی د الله سره مینه لري.

ketabton.com - The Digital Library



# ۵: اخلاص، لمونځ او زکات

وَعَنْ أَنَسٍ بن مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عن رَسُولِ اللهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَنْ فَارَقَ الدُّنْيَا عَلَى الإِخْلَاصِ لِلَّهِ وَحْدَهُ لا شَرِيكَ لَهُ وَإِقَامِ الصَّلاةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ فارقها وَاللهُ عَنْهُ رَاضٍ. ( رَوَاهُ ابنُ ماجة ص: ۸ والحاكمُ فى المستدرك ص: ۳۶۲ ج: ۲ و الحديث حسن للشواهد )

ژباړه: له انس ابن مالک - رضي الله عنه – څخه روايت دی چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم – وفرمايل: څوک چې له نړۍ څخه په داسي توګه بېل شي چې په عبادت کې د الله -- سُبحانه و تعالی - لپاره اخلاص کوي، ( بل چا ته د ځان ښودني نيت نه لري ) لمونځ يې کړی وي او زکات يې ورکړی وي، په داسي حال کې به مړ شي چې الله پاک به ترې راضي وي!!

په دې حديث شريف کې په صراحت سره ذکر شوې، چې څوک دغه درې کارونه کوي، نو الله پاک له ترې راضي کېږي.

نو دا درې کارونه چې د چا په ژوند کې وو، دا د دې څرګندويي کوي چې له دغه کس څخه الله پاک راضي دی.

## ۶: شپږمه نښه دينداري ده :

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللَّهَ قَسَمَ بَيْنَكُمْ أَخْلَاقَكُمْ كَمَا قَسَمَ بَيْنَكُمْ أَرْزَاقَكُمْ وَإِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ يُعْطِي الدُّنْيَا مَنْ يُحِبُّ وَمَنْ لَا يُحِبُّ وَلَا يُعْطِي الدِّينَ إِلَّا لِمَنْ أَحَبَّ فَمَنْ أَعْطَاهُ اللَّهُ الدِّينَ فَقَدْ أَحَبَّهُ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا يُسْلِمُ عَبْدٌ حَتَّى يَسْلَمَ قَلْبُهُ وَلِسَانُهُ وَلَا يُؤْمِنُ حَتَّى يَأْمَنَ جَارُهُ بَوَائِقَهُ.(رواه احمد ص: ۱۸۹ ج: ۶ و البيهقي فى شعب الايمان ص: ۴۲۵ ج: ۱, وهو فى المشكات ص: ۴۲۵ ج: ۲)

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: له حضرت عبد الله ابن مسعود - رضي الله عنه - څخه روایت دی چې رسول الله - صلی الله علیه و سلم – وفرمایل: الله پاک ستاسو تر منځ اخلاق هم داسي تقسیم کړي دي لکه څنګه چې یې ستاسو تر منځ ستاسو روزي تقسیم کړې ده او الله پاک د دُنیا ( مال ) خوښ او ناخوښ دواړو ته ورکوي، خو دین یوازي هغه چاته ورکوي چې خوښ یې وي، نو چاته چې الله پاک دین ورکړ، په یقیني توګه هغه یې خوښ کړی دی. په هغه ذات مي دي قسم وي د چا په اختیار کې چې زما ساه ده، یو بنده تر هغه پوري مسلمان کېدی نه شي، تر څو چې یې زړه او ژبه اسلام را نه وړي، او ایمان والا نه شي کېدی تر څو چې ځنګلوری (ګاونډی یا همسایه ) د ده له تکلیفه خوندي نه وي!!

له دې حدیث څخه معلومه شوه چې څوک دیندار وي، له دې معلومېږي چې الله پاک ترې راضي دی.

نو دینداري هم د الله پاک درضاء یوه علامه ده.

**7: یوه ټولنیزه نښه** چې د ټولني سره تعلق لري دا ده چې کله باران په خپل موسم کې کېږي، دولتي مشران نېکان خلګ وي او مالداران سخیان وي، نو دا دلیل دی چې په عمومي توګه الله پاک له اکثرو انسانانو راضي دی.

په بعضو آثارو کې راغلي دي چې بني اسرائیلو له حضرت موسی - علیه السلام - څخه غوښتنه وکړه چې ته له خپل رب څخه پوښتنه وکړه چې کله له موږ راضي او کله ناراض وي ؟

الله – تعالی - موسی - علیه السلام - ته وحی وکړه او ورته و یې فرمایل: چې زه کله باران په خپل موسم کې وروم، نېکان خلګ مو

ketabton.com - The Digital Library


مشران کړم او مالونه سخیانو ته ورکړم، په دې وخت کې زه له تاسو راضي یم.

او کله چې باران بې موسمه وروم، بد خلک مو مشران کړم او مالونه مو بخیلانو ته ورکړم، په دې وخت کې زه له تاسو ناراض یم (قوت القلوب ص: ۱۳۸)

الله پاک دې موږ ته خپله رضاء را په برخه کړي آمین.

## یوه ګناه چې انسان جنت ته داخلوي

علماوو فرمایلي دي: ذَنْبٌ يُدْخِلُكَ الْجَنَّةَ،وَحَسَنَةٌ تُدْخِلُكَ النَّارَ (یوه داسي ګناه ده چې تا جنت ته داخلوي او یوه داسي نېکي ده چې تا اور ته داخلوي.)

ګناه دا ده چې څوک ګناه وکړي او هغه ګناه يې په یاد وي، د هغې له کبله په ده کې عاجزي او پښېمانتیا راشي، الله - تعالی - ته متوجه شي، توبې باسي، الله پاک په پایله کې ترې راضي شي او باالآخره يې جنت ته داخل کړي.

نو یوه ګناه يې جنت ته د داخلېدلو سبب شوه.

دوزخ ته داخلونکې نېکي دا ده: یو ښه کار وکړي، تل يې یاد ساتي چې ما خو په فلاني وخت کې داسي ښه کار وکړ، د دې یادولو له کبله يې په زړه کې لویي راشي، ځان ور ته لوی سړی معلوم شي او نورو ته په سپکه ګوري، چې نور خلګ په ګناهونو کې مشغول دي د الله تعالی نافرماني کوي او زه عبادتونه او ښه کارونه کوم!

ketabton.com - The Digital Library



په دې سره الله - جل جلاله - ناراض کړي، په پایله کې یې دغه عبادت جهنم ته ورسوي.

نو دا دی عبادت یې وکړو او د عبادت له کبله جهنم ته ورسېدی!!

حضرت عیسی – علیه السلام – فرمایلي دي چې تاسو د خلګو ګناهونو ته مه ګورئ، لکه تاسو چې خدایان یاست!

بلکې خپلو ګناهونو ته وګورئ، لکه تاسو چې بندګان یاست!

پر هغو خلګو رحم وکړئ، څوک چې په تکلیفونو کې مُبتلاء وي او د الله پاک شُکر په دې ادا کړئ چې تاسو ته یې سلامتیا در کړې ده (موطاء مالک ص: ۷۳۱ ج: ۲)

د چا په هکله له داسې فیصلې کولو باید ډډه وشي چې دا دوزخي دی او دا جنتي دی او باید پر ګناهګارانو ځان لوی و نه ګڼل شي، بلکې د هغوی لپاره دې د هدایت او سم لاریتوب دُعاګانې له الله پاک څخه وغوښتل شي.

عَنْ عِكْرِمَةَ بْنِ عَمَّارٍ قَالَ حَدَّثَنِى ضَمْضَمُ بْنُ جَوْسٍ قَالَ قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ- صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ « كَانَ رَجُلاَنِ فِى بَنِى إِسْرَائِيلَ مُتَآخِيَيْنِ فَكَانَ أَحَدُهُمَا يُذْنِبُ وَالآخَرُ مُجْتَهِدٌ فِى الْعِبَادَةِ فَكَانَ لاَ يَزَالُ الْمُجْتَهِدُ يَرَى الآخَرَ عَلَى الذَّنْبِ فَيَقُولُ أَقْصِرْ.

فَوَجَدَهُ يَوْمًا عَلَى ذَنْبٍ فَقَالَ لَهُ أَقْصِرْ فَقَالَ خَلِّنِى وَرَبِّى أَبُعِثْتَ عَلَىَّ رَقِيبًا فَقَالَ وَاللَّهِ لاَ يَغْفِرُ اللَّهُ لَكَ أَوْ لاَ يُدْخِلُكَ اللَّهُ الْجَنَّةَ.

فَقُبِضَ أَرْوَاحُهُمَا فَاجْتَمَعَا عِنْدَ رَبِّ الْعَالَمِينَ فَقَالَ لِهَذَا الْمُجْتَهِدِ أَكُنْتَ بِى عَالِمًا أَوْ كُنْتَ عَلَى مَا فِى يَدِى قَادِرًا وَقَالَ لِلْمُذْنِبِ اذْهَبْ فَادْخُلِ الْجَنَّةَ بِرَحْمَتِى وَقَالَ لِلآخَرِ اذْهَبُوا بِهِ إِلَى النَّارِ ». قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ وَالَّذِى نَفْسِى بِيَدِهِ لَتَكَلَّمَ بِكَلِمَةٍ أَوْبَقَتْ دُنْيَاهُ وَآخِرَتَهُ. (رواه ابوداود ص: ٦٧٢ ج: ٢).

ketabton.com - The Digital Library


ژباړه: له حضرت ابوهریره - رضی الله عنه – څخه روایت دی چې ویلي یې دي: ما له رسول الله - صلی الله علیه وسلم – څخه په داسي حال کې واورېدل چې ویل یې: په بني اسرآئیلو کې دوه کسان وو، چې تر منځ یې ورورولي وه، په دوی کې یوه ګناوي کولې او بل یې په عبادت کې کوښښ کوونکی وو.

عابد به تل هغه بل په ګناه باندي لیدی، نو ورته ویل به یې: له دې ګناه لاس لنډ کړه ( ځان وساته ) !

هغه به ور ته ویل: ما او زما رب سره پرېږده، آیا ته پر ما نګهبان او ساتونکی را لېږل شوی یې ؟

تر دې چې یوه ورځ یې په یوه ګناه ولیدی، نو ورته و یې ویل: له دې ګناه لاس لنډ کړه ( ځان وساته ) !

هغه ملګري یې ورته وویل: ما او زما رب پرېږده! آیا ته پر ما باندي نګهبان را لېږل شوی یې ؟ نو ده ورته وویل: په الله مي دي قسم وي چې تا ته به الله پاک بخښنه نه کوي او یا دا چې الله پاک به دي هیڅکله جنت ته نه داخلوي !

نو ( کله چې ) د دواړو روحونه واخیستل شول ( مړه شول ).

نو د الله – تعالی - په حضور کې سره یو ځای شول، نو الله – تعالی - عابد ته وویل: آیا ته پر ما خبر وې ( چې ده ته به بخښنه نه کوم، یا به یې جنت ته نه داخلوم ) ؟ یا ته د هغه څه واکمن وې چې زما په اختیار کې دی ( بخښنه او جنت ته داخلول) ؟

ګناهګار ته یې وویل: لاړ شه! زما په رحمت سره جنت ته ننوزه !

ketabton.com - The Digital Library



او د هغه بل (عابد) په اړه يې (ملايکو ته) وفرمايل: دی اور ته بوزئ!
حضرت ابوهريره – رضي الله عنه – وفرمايل: په هغه ذات مي دي قسم وي د چاپه واک کې چې زما ساه ده، يوه خبره يې وکړه، د ده دُنيا او آخرت يې ور برباد کړل!!
مطلب دا دی چې مهمه خبره دا ده چې انسان به په ځان کې عاجزي راولي، که څه هم زيات عبادتونه کوي او بل څوک گناهگار وي، بيا به هم داسي نه گڼي چې زه خو جنتي يم او هغه جهنمي دی.
يو تُرکی بزرگ چې د مولانا عبدالرحمان جامي - رحمه الله – مُريد وو، د هغه حال داسي وو، چې تل به يې په خپل سر باندي يوه رېا ليدله،حج ته ولاړ، له حج څخه فارغ شو او راغی، هغه کې فيت په ځای د دې چې زيات شي، بالکل ختم شو، خپل پير مولانا جامي - رحمه الله - ته يې خپل حالت بيان کړو.
مولانا جامي - رحمه الله – ور ته وويل چې تر حج مخکې په تا کې عاجزي وه، خپل ځان دي گناهگار باله،الله پاک ته دي عاجزي او زاری کولې، تر حج وروسته ځان بزرگ در ته معلوم شو، له دې کبله حج ستا د غُرور او لويي سبب شو، له دې امله هغه مخکينی کې فيت ختم شو (تفسير معارف القُرآن ص: ۴۹۵ ج:۱)
په قرآن کريم کې په گڼو آياتونو کې د مؤمنانو صفت داسي بيان شوی چې دوی د عبادت د کولو سره هم له الله پاکه وېرېږي او بخښنه ترې غواړي.

ketabton.com - The Digital Library


له قرآن او حدیث څخه دا خبره معلومېږي چې د الله په دربار کې هغه مات زړه چې د خپلې ګناه له امله عاجز وي، تر هغه زاهد او عابد ډېر محبوب دی چې په خپل عبادت مغرور وي.

نو باید په عبادت کې له لويي کولو ځانونه وژغورو.

## د لمانځه اهمیت

لمونځ په اسلام کې تر کلمې وروسته تر ټولو مُهم عبادت دی او د اسلام دوهم رکن دی.

د دغه عبادت اهمیت له دې جوتېږي چې له لمانځه پرته نور ټول عبادتونه په زمکه کې نازل شوي دي، یوازې لمونځ هغه عبادت دی چې فرضیت یې د معراج په شپه د اسلام ستر لارښود جناب محمد رسول الله - صلی الله علیه وسلم – ته په اسمانو کې د تُحفې په توګه ور کول شو.

او زما د نیمګړو معلوماتو مُطابق نبي - علیه السلام - ته په دغه شپه له لمانځه پرته بل عبادت نه دی ور کول شوی.

له دې د لمانځه اهمیت په ډاګه کېږي چې د دې عبادت د ور کولو لپاره الله - جل جلا له - خپل پیغمبر - صلی الله علیه و سلم - اسمانو ته وغوښت.

خو متاسفانه د دې سره سره ډېر داسې خلګ د مسلمانانو په ټولنه کې شته چې د لمانځه پرواه نه لري او په خوب، یا بل معمولي مصروفیت سره د لمانځه د قضاء کولو ناوړه جُرم کوي او د لمانځه قضاء کول ور ته معمولي کار معمولېږي، بلکې د لمانځه کول ور ته ګران وي.

ketabton.com - The Digital Library


۱: لمونځ د الله - سُبحانه و تعالی – حکم دی :

الله - جل جلاله – فرمايي: حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلَاةِ الْوُسْطَى وَقُومُوا لِلَّهِ قَانِتِينَ (سورة البقرة: ۲۳۸)

ژباړه: ساتنه وکړئ پر لمونځو او پر لمانځه مينځني ( غوره ) او الله تعالی ته په عاجزۍ سره ودرېږئ ! !

۲: الله رب العزت به د لمانځه پر پرېښودونکي په غُصه وي:

په حديث کې راغلي دي: مَنْ تَرَكَ الصَّلَاةَ لَقِيَ اللَّهَ وَهُوَ عَلَيْهِ غَضْبَانُ (رواه البزار والطبراني في الكبير وإسناده حسن، الترغيب والترهيب ص: ۲۱۴)

ترجمه: چا چې لمونځ پرېښود ، د الله پاک سره به په داسي حال کې ملاقات وکړي چې الله به ور باندي غُصه وي!!

## ۳: لمونځ د نبي عليه السلام آخرنی وصيت دی:

رسول الله - صلی الله عليه وسلم – په داسي حال کې وفرمايل چې آخيرنۍ خبري يې کولې: الصَّلَاةَ الصَّلَاةَ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ. (رواه الطحاوی فی مشکل الآثار ص: ۲۰۹ ج: ۷)

ترجمه: د لمانځه خيال ساتئ! د لمانځه خيال ساتئ او د هغه چا چې ستاسو راسته لاسونه ئې مالکان شوي دي ( يعني د مريانو ( همدا راز د مزدورانو ) خيال ساتئ، پر هغوی باندي ظلم مه کوئ، چي د دوی تر وس زيات کارونه ور باندي کوئ )

## ۴: د لمانځه ځيني ګټې:

علامه ابن قيم جوزي - رحمه الله – ليکلي دي: لمونځ د روزۍ راکښوونکی، د صحت ساتندوی، د کړاوونو دفع کوونکی، زړه ته

ketabton.com - The Digital Library


قوت ورکوونکی، د مخ روښانه کوونکی، د نفس خوشحالوونکی، د سُستیا ختموونکی، د اعضاوو بیداروونکی، د طاقت مرستندوی، د سینې خلاصوونکی، روح ته غذاء ور کوونکی، د زړه روښانوونکی، د نعمتونو ساتونکی،د عذابونو مخه نیوونکی، د برکتونو راکشوونکی، د شیطان لرې کوونکی او رحمان - جل جلاله - ته نږدې کوونکی دی (زاد المعاد في هدي خير العباد ص: ۳۳۲ ج: ۴ )

## ۵: لمونځ د ایمان نښه ده:

که غواړې چې د یوه چا مسلماني معلومه کړې، چې څومره اسلام ته ژمن دی نو دې ته پام وکړه چې لمانځه ته څومره ارزښت ور کوي ؟ په حدیث کې راغلي دي: إِنَّ بَيْنَ الرَّجُلِ وَبَيْنَ الشِّرْكِ وَالْكُفْرِ تَرْكَ الصَّلاَةِ.( رواه مسلم ص:٦١ ج:١)

ترجمه: د سړي او د شرک او کُفر تر مینځ د لمانځه پرېښودل دي!!

د حدیث مطلب دا دی چې د لمونځ پرېښودل د کفر کار دی، یا دا چې د لمانځه د پرېښودلو له امله د کافرانو په څېر د عذاب وړ دی او یا دا چې د لمانځه د پرېښودلو په پایله کې کله کله هغه کس کفر ته و رسېږي او یا دا چې څوک لمونځ پرېږدي او دا پرېښودل حلال وګڼي، نو هغه کس کافر کېږي. ( شرح النووي على مسلم ملخصًا ص: ۲۱ ج: ۱ )

د لمانځه پرېښودل د اسلام او کُفر تر مینځ د یوه پله په څېر دي، که د دې پله دې خوا وي، مسلمان دی، که ترې ور تېر شي، د کُفر کار یې وکړ، او دا وېره ور باندې شته چې بالآخره بالکل له ایمانه خلاص شي - نعوذ بالله من ذلک – تر دې چې د امام احمد ابن حنبل - رحمه الله -

ketabton.com - The Digital Library


مذهب دا دی چې بې عُذره په قصد سره د لمانځه پرېښودلو انسان کافر کېږي.

## ۶: د لمانځه پرېښودونکی به د مُجرمانو سره په دوزخ کې وي.

الله - جل جلاله – فرمايي: كُلُّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ رَهِينَةٌ، إِلَّا أَصْحَابَ الْيَمِينِ، فِي جَنَّاتٍ يَتَسَاءَلُونَ، عَنِ الْمُجْرِمِينَ، مَا سَلَكَكُمْ فِي سَقَرَ، قَالُوا لَمْ نَكُ مِنَ الْمُصَلِّينَ (سورة المدثر: ۳۸-۴۳)

ژباړه: هر نفس د خپلو کړو له امله ( په جهنم کې ) ګرو ( بند ) وي، پرته له ښي لاس والاوو ، په جنتونو کې به وي،له مجرمانو به پوښتنه کوي: تاسو څه شي اور ته داخل کړئ ؟ هغوی به ووايي: موږ لمونځ کوونکي نه وو ! !

## ۷: په لمانځه سره ګناوي ختمېږي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ وَفِي حَدِيثِ بَكْرٍ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ: أَرَأَيْتُمْ لَوْ أَنَّ نَهْرًا بِبَابِ أَحَدِكُمْ يَغْتَسِلُ مِنْهُ كُلَّ يَوْمٍ خَمْسَ مَرَّاتٍ هَلْ يَبْقَى مِنْ دَرَنِهِ شَيْءٌ ؟ قَالُوا لاَ يَبْقَى مِنْ دَرَنِهِ شَيْءٌ. قَالَ: فَذَلِكَ مَثَلُ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ يَمْحُو اللَّهُ بِهِنَّ الْخَطَايَا. (رواه مسلم ص: ۲۳۵ ج:۱).

ترجمه : له حضرت ابوهريره – رضي الله عنه – څخه روايت دی چې رسول الله – صلی الله عليه وسلم – وفرمايل: آيا تاسو فکر کړی دی چې که ستاسو د يوه تن د کور په دروازه کې يوه وياله وي، دی له هغې ويالې څخه هره ورځ پنځه ځله غُسل کوي، آيا د ده له خِيرو څخه به ( د ده پر بدن ) څه پاته شي ؟ صحابوو – رضي الله عنهم – وويل: د ده له خيرو هيڅ نه پاتېږي.

نبي – عليه السلام – وفرمايل: دا د پنځو لمونځونو مثال دی، الله – تعالی – په هغو سره ګناهونه ختموي!!

ketabton.com - The Digital Library



## ۸: د لمانځه پابندي جنت ته لار ده :

عَنْ حَنْظَلَةَ الْكَاتِبِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ حَافَظَ عَلَى الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ رُكُوعِهِنَّ وَسُجُودِهِنَّ وَوُضُوئِهِنَّ وَمَوَاقِيتِهِنَّ وَعَلِمَ أَنَّهُنَّ حَقٌّ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ دَخَلَ الْجَنَّةَ أَوْ قَالَ وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ (رواه أحمد ص: ۲۸۷ ج: ۳۰، وقال الهيثمي: رجال أحمد رجال الصحيح!! مجمع الزوائد ص: ۲۸۹ ج: ۱)

ژباړه: له حضرت حنظله کاتب – رضي الله عنه – څخه روایت دی چې ما له رسول الله – صلی الله علیه وسلم – څخه واورېدل چې ویل يې: څوک چې پر پنځو لمونځو پابندي وکړي، د رکوعګانو، سجدو، اودسو او وختونو سره (يې اداء کړي) او په دې پوه شي چې دا د الله پاک له لوري حق دي، جنت ته به داخل شي، یا يې داسي وویل: جنت ورته واجب شو!!

## ۹: لمونځ په ټولو اعمالو کې لومړنی دی چې په اړه به ئې له بنده څخه په قیامت کې پوښتنه کیږي :

عن أبي هريرة - رضی الله عنه - قَالَ: قال رَسُول اللهِ - صلی الله علیه وسلم -: إنَّ أوَّلَ مَا يُحَاسَبُ بِهِ العَبْدُ يَوْمَ القِيَامَةِ مِنْ عَمَلِهِ صَلاَتُهُ، فَإنْ صَلَحَتْ، فَقَدْ أفْلَحَ وأَنْجَحَ، وَإنْ فَسَدَتْ، فَقَدْ خَابَ وَخَسِرَ، فَإنِ انْتَقَصَ مِنْ فَرِيضَتِهِ شَيْءٌ، قَالَ الرَّبُ - عز وجل -: انْظُرُوا هَلْ لِعَبْدِی من تطوّعٍ، فَيُكَمَّلُ مِنْهَا مَا انْتَقَصَ مِنَ الفَرِيضَةِ؟ ثُمَّ تَكُونُ سَائِرُ أعْمَالِهِ عَلَى هَذَا

(رواه التِّرمِذِيُّ، وَقَالَ: حَدِيثٌ حَسَنٌ. رياض الصالحين ص: ۳۴۶).

ژباړه: له حضرت ابوهریره – رضي الله عنه – څخه روایت دی چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم – وفرمایل: چې په ټولو عملونو کې به لومړی له بنده څخه د ده د لمانځه په اړه پوښتنه کیږي، که لمونځ صحیح شو،

ketabton.com - The Digital Library


کامیاب او له عذابه خلاص شو ، که لمونځ خراب راووت، نو نا مُراده او تاواني شو.
که ئې له فرضو څه کم شول، الله –عز و جل - به وفرمایي: تاسو وګورئ ! آیا زما د بنده څه نفل شته ؟ نو له نفلو به یې د فرضو نُقصان ور پوره کړل شي، بیا به د ده نور پاته عملونه پر لمانځه باندي بناء وي ! !

## ۱۰ : د بې لمانځه حشر به د قارون، فرعون , هامان او ابي ابن خلف سره کیږي :

عَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ ذَكَرَ الصَّلَاةَ يَوْمًا فَقَالَ مَنْ حَافَظَ عَلَيْهَا كَانَتْ لَهُ نُورًا وَبُرْهَانًا وَنَجَاةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمَنْ لَمْ يُحَافِظْ عَلَيْهَا لَمْ يَكُنْ لَهُ نُورٌ وَلَا بُرْهَانٌ وَلَا نَجَاةٌ وَكَانَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَعَ قَارُونَ وَفِرْعَوْنَ وَهَامَانَ وَأُبَيِّ بْنِ خَلَفٍ (رواه احمد ص: 141 ج: 11 و الدارمی ص: ۳۹۰ ج: ۲ و البیهقی فی شعب الایمان ص: ۴۶ ج: ۳)

ژباړه :له حضرت عبد الله بن عمرو – رضي الله عنه – څخه روایت دی چې له نبي –صلی الله علیه وسلم – څخه روایت کوي چې یوه ورځ یې د لمانځه یادونه وکړه نو ویې فرمایل: څوک چې د لمانځه ساتنه ( پابندي ) کوي، د ده لپاره به لمونځ د قیامت په ورځ نور ( رڼا ) وي ( او د حساب په وخت کې به له عذابه د خلاصون ) دلیل وي او د قیامت په ورځ به د خلاصون سبب وي، او څوک چې د لمانځه ساتنه نه کوي، د ده سره به ( د قیامت په ورځ ) نه رڼا وي، نه به دلیل وي او نه به ( له عذابه د ) خلاصون ( ذریعه ) وي، او دی به د قیامت په ورځ د قارون، فرعون،هامان او اُبي ابن خلف سره وي!!
علماوو- رحمهم الله - ویلي دي چې د دغو کافرانو سره د بې لمانځه د حشر وجه دا ده چې که دی له لمانځه څخه په پاچاهي مصروف وو ،نو

ketabton.com - The Digital Library



د فرعون سره به يې حشر وي، كه په وزات مصروف وو، د هامان سره به وي، كه په مال مصروف وو، د قارون سره به وي او كه په تجارت او كاروبار مصروف وو، د ابي ابن خلف سره به يې حشر وي چې په مكه مكرمه كې د كافرانو تجار وو!!

## ۱۰: د لمانځه پرېښودونكي ته څنګه عذاب ور كول كېږي ؟

له حضرت سمرة بن جندب – رضي الله عنه – څخه روايت دى چې رسول الله - صلى الله عليه و سلم – به د سهار تر لمانځه وروسته له صحابه كرامو –رضوان الله عليهم اجمعين - څخه پوښتنه كوله چې په تاسو كې چا څه خوب ليدلى دى ؟ كه به چا ليدلى وو، هغه به بيان كړ، نبي - عليه السلام - به د هغه تعبير او معنى ور ته بيان كړه.

يو وار نبي - عليه السلام – دغسي پوښتنه وكړه، له دې وروسته يې وفرمايل چې ما يو خوب ليدلى دى: دوه كسان راغلل، زه يې د ځان سره بوتلم (له دې وروسته يې اوږد خوب بيان كړو چې په هغه كې يې جنت او دوزخ او د ډول، ډول عذابونو خلګ پكي ليدلي وو، په هغه كې يې داسي ليدلى وو چې) موږ پر داسي يوه سړي راغلو، چې ډډه يې لګولې وه، او بل سړى د يوې لويې ډبري سره ور ته ولاړ دى، ډبره به يې راواخيستله، (او په ډېر زور سره به يې ور باندي وويشت) د ده سر به يې ور باندي زخمي كړ، ډبره به ور غړېده (لري به ولاړه) نو هغه به هغه ډبره را اخيستله،بېر ته به ور ته راغلى نه وو چې سر به يې د پخوا په څېر روغ شو، بيا به يې په زوره په ډبري وويشت، لكه څنګه چې يې مخكي ويشتى وو.

نبي - عليه السلام - له خپلو ملګرو وپوښتل چې دا څوک دي ؟

ketabton.com - The Digital Library


هغوی وویل: فَإِنَّهُ الرَّجُلُ يَأْخُذُ فَيَرْفِضُهُ الْقُرْآنَ وَيَنَامُ عَنِ الصَّلَاةِ الْمَكْتُوبَةِ (بخاری شریف ص: ۱۰۴۴ ج: ۲)

ژباړه: دا هغه سړی دی چې قرآن يې لوستلی وو، بيا يې پرېښی وو او له فرض لمانځه څخه به ويده شو!! (يعني قضاء کاوو به يې)
نو د لمانځه پرېښودل د دين او دُنيا دواړو بربادول دي، بايد پوره پابندي يې وکړل شي.
الله - جل جلاله - دي ټول مسلمانان د لمانځه پابند جوړ کړي او زموږ لمونځونه او نور عبادتونه دي په خپل عالي دربار کې قبول کړي. آمين

# د مُسلمان کور بايد څنګه وي ؟

د الله تعالی نعمتونه پر انسانانو دومره زيات دي چې شمېرل يې ناشونی کار دی، لکه څنګه چې الله تعالی فرمايلي دي: وَإِنْ تَعُدُّوا نِعْمَةَ اللَّهِ لَا تُحْصُوهَا إِنَّ اللَّهَ لَغَفُورٌ رَحِيمٌ (النحل:۱۸)

ژباړه: او که تاسو د الله نعمتونه وشمارئ، نه يې شئ شمارلی، بې شکه الله ډېر مهربان، بخښونکی دی!!

څکه د الله نعمتونه پر هر بنده باندي بې شمېره دي، په دغو نعمتونو کې يو لوی او ستر نعمت کور دی.

کور د الله تعالی يو غوره نعمت دی، دا نعمت خپلو بندګانو ته الله جل جلاله ور په زړه کړی، څو دوی د شُکر په ايستلو کې هڅي وکړي. الله تعالی فرمايي: وَاللَّهُ جَعَلَ لَكُمْ مِنْ بُيُوتِكُمْ سَكَنًا وَجَعَلَ لَكُمْ مِنْ جُلُودِ الْأَنْعَامِ بُيُوتًا تَسْتَخِفُّونَهَا يَوْمَ ظَعْنِكُمْ وَيَوْمَ إِقَامَتِكُمْ. (النحل:۸۰).

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: الله تعالی ستاسو لپاره ستاسو له کورونو څخه ځای د آرام پیدا کړی او ستاسو لپاره يې د څاروو له څرمنو څخه کورونه پیداکړي دي، چې تاسو هغه ستاسو د سفر او دېره کېدلو په ورځ سپک مومئ!!

په دې آیت مبارک کې الله تعالی پر انسانانو خپل انعام بیان کړی،چې د دوی لپاره يې دوه ډوله کورونه پیدا کړي دي:

۱: هغه کورونه چې پر خپل ځای ولاړ وي، که انسان په خپل کور کې وي، نو په دې کور کې اوسېږي. په دې کې د ښار کورو ته اشاره ده.

۲: دوهم ډول کورونه خېمې دي. که یوې خوا ته څوک په سفر وزي، یا صحرایان خلګ وي، د دوی لپاره الله پاک دا ډول کورونه پیدا کړي دي،چې له یوه ځایه بل ځای ته وړل کېږي.

په دې کې د صحرا د خلګو (کوچیانو) کورو ته اشاره ده.

دا ټول د الله تعالی ستر ستر نعمتونه دي، خو متاسفانه چې د دغو نعمتونو قدر موږ اکثرو نه دی پېژندلی او نه مو يې صحیح قدر کړی دی، په دې توګه چې د الله پاک شکر مو دي اداء کړی وي.

په دې هکله دې انسان د هغه چا د حالت په هکله فکر وکړي چې کورونه نه لري، یا له خپلو کورو ایستل شوي او یا دومره ځای نه شي پیدا کولی چې په هغه کې استوګنه وکړي، چې پر هغوی څومره کړاوونه تېرېږي او څومره د ژوندانه له خوښیو څخه بې برخې دي.

ketabton.com - The Digital Library



او باید دې ته پام وکړو چې الله پاک زموږ سره څومره ستر احسانات کړي دي، نه یوازي دا چې کورونه یې راکړي، بلکي په دې کورونو کې یې ډول ډول اسانتیاوي را ته برابري کړې او ور سره یې بې شمېره نعمتونه راکړي دي: یخي اوګرمي اوبه، ښې بستري او د اوسېدو لپاره پراخ ځایونه، دا ټول د الله تعالی نعمتونه دي.

الله جل جلاله چې په دې آیت کې دا نعمت انسانانو ته ور په زړه کړی، د دې لپاره چې د دې نعمت شکر اداء کړي.

د دې نعمت شکر داسي اداء کېږي چې په خپل کور کې هغه صفات راولو کوم چې باید د یوه مسلمان په کور کې شتون ولري.

کورونه خو کافران هم لري، د یوه مسلمان او کافر د کور تر منځ فرق په څه کې شته ؟

آیا د مسلمان د کور ځانګړتیا یوازي په رنګونو او دیوالونو سره ده ؟

هیڅکلله نه، ځکه په دې کې خو ټول انسانان که متقي، پرهیزګار وي او که ګناهګار، بدعمله او یا هم کافر وي.

بلکي د نړۍ د مختلفو ځایونو خلګ ټول په دې کې سره شریک دي چې هغوی کورونه لري.

نو د مؤمن مسلمان د کور خصوصیت په څه کې دی ؟

هغه څه شی دی چې د الله - سبحانه و تعالی - د یوه فرمانبردار بنده او د ګناهګار او کافر د کور تر منځ توپیر ور باندي راځي ؟

ketabton.com - The Digital Library



که هغه ځانګړتیاوي او خصوصیات په خپلو کورونو کې راولو، ان شاء الله د الله - تعالی - د دې لوی نعمت شکر به مو څه نا څه اداء کړی وي.

د مسلمان کور په دوو شیانو سره له نورو بېلیږي.

۱: په اوسېدونکو سره.

۲: په خپلو محتویاتو سره.

د مسلمان کور ټول اوسېدونکي مسلمانان، د الله تعالی عبادت کوونکي او تابعدار وي.

او په محتویاتو سره ځکه له نورو بېلیږي چې ټول د دین په خدمت کې دي او د الله – سبحانه و تعالی - په عبادت کې مصروف وي.

په دې هکله دوه صفتونه باید یو مسلمان کور و لري:

۱: هغه څه چې په یوې مسلماني کورنۍ کې باید وي او دا کورنۍ باید ور باندي ښائسته وي.

۲: هغه څه چې یوه مسلمانه کورنۍ باید ترې پاکه او منزهه وي.

اوس به راشو هغو شیانو ته چې یوه مسلمانه کورنۍ باید ور باندي ښائسته وي او هغه باید هلته شتون ولري.

هغه دا دي:

ketabton.com - The Digital Library



## ۱: د مسلمان کور د طاعت او عبادت کور دی، باید د الله تعالی په ذکر سره آباد وي.

عَنْ أَبِي مُوسَى عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ «مَثَلُ الْبَيْتِ الَّذِى يُذْكَرُ اللَّهُ فِيهِ وَالْبَيْتِ الَّذِى لاَ يُذْكَرُ اللَّهُ فِيهِ مَثَلُ الْحَىِّ وَالْمَيِّتِ». (رواه مسلم ص: ۲۶۵ ج: ۱)

ژباړه: له ابوموسی اشعري - رضی الله عنه - څخه روایت دی چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم – فرمایلي دي: په کوم کور کې چې د الله ذکر کېږي او په کوم کې چې نه کېږي، مثال يې د مړه او ژوندي دی!!

په دې حدیث کې د هغه کور تشبیه چې د الله تعالی ذکر پکي کېږي، د هغه انسان سره ور کول شوی چې ژوندی وي، روح لري او په خپله حرکت کوي او د هغه کور مثال چې د الله ذکر په هغه کې نه کېږي، د الله تعالی له ذکره خالي وي، د مړه سره یې تشبیه ور کړې ده، چې په خپله اراده نه شي ښوربېدلی.

## { ۲ } د مسلمان کور باید په لمانځه سره آباد وي :

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ: اِجْعَلُوا مِنْ صَلاَتِكُمْ فِى بُيُوتِكُمْ وَلاَ تَتَّخِذُوهَا قُبُورًا. (مسلم ص: ۲۶۵ ج: ۱)

ژباړه: له حضرت ابن عمر – رضی الله عنهما – څخه روایت دی چې نبي – صلی الله علیه وسلم – وفرمایل: له خپل لمانځه څخه یو څه حصه په خپلو کورونو کې وکړئ او له خپلو کورونو څخه قبرونه مه جوړوئ!!

ketabton.com - The Digital Library


د دې مبارک حديث مطلب دا دی چې که تاسو په خپلوکورونو کې لمونځ کوئ، کورونه به مو د ژوندو کورونه شي،که نه نو د مړو د کورونو سره به ور ته او مشابه شي.

عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « صَلاَةُ الْمَرْءِ فِى بَيْتِهِ أَفْضَلُ مِنْ صَلاَتِهِ فِى مَسْجِدِى هَذَا إِلاَّ الْمَكْتُوبَةَ ».( رواه ابوداود ص: ۱۴۹ ج: ۱ )

ژباړه: له حضرت زيد ابن ثابت – رضي الله عنه – څخه روايت دی چې رسول الله – صلی الله عليه وسلم – وفرمايل: د سړي له فرض لمانځه پرته نور لمونځونه د ده په کور کې په دې مسجد کې تر لمانځه غوره دی!!

دا حديث سړو ته متوجه دی، يعني تاسو په کورونو کې نفلونه کوئ! ځکه د سړي په نفلي لمونځ کې هغه غوره او بهتر دی چې په خپل کور کې يې وکړي ځکه دا له رياء، ځان ښودني لېري او اخلاص ته نږدې وي.

الا المکتوبة: پرته له فرضي لمانځه څخه ځکه هغه په مسجد کې کول ضروري او د ډېر ثواب لامل دی.

خو دې ته مو بايد پام وي چې د مسلماني ښځې لپاره ټول لمونځونه په کور کې کول غوره او د ډېر ثواب لامل دی.

په کور کې لمونځ کول د اولاد لپاره هم تربيت دی،کېدی شي چې ځيني هغه ماشومان چې خپل پلرونه په کورکي په لمانځه کولو نه ويني، دا فکر وکړي چې لمونځ يوازي پر ښځو فرض دی ځکه دوی يوازي مور او نوري مېرمني ويني چې په کور کې لمونځ کوي، نو له

ketabton.com - The Digital Library



دې کبله باید سړی کوشش وکړي چې په کور کې نفلي لمونځونه وکړي.

## ۲: د مسلمان کور باید د الله تعالی د مُقدس کتاب قرآن کريم په تلاوت سره مُزين او ښائسته وي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ «لاَ تَجْعَلُوا بُيُوتَكُمْ مَقَابِرَ إِنَّ الشَّيْطَانَ يَنْفِرُ مِنَ الْبَيْتِ الَّذِى تُقْرَأُ فِيهِ سُورَةُ الْبَقَرَةِ».(مسلم ص: ۲۶۶ ج:۱)

ژباړه: له حضرت ابوهريره – رضی الله عنه – څخه روايت دی چې رسول الله – صلی الله عليه وسلم – وفرمايل: له خپلو کورونو څخه مقبري ( هديرې ) مه جوړوئ ځکه شيطان له هغه کوره تښتي په کوم کې چې سورة البقرة لوستل کيږي.!!

په دې حديث کې دا څو ټکي د پام وړ دي :

۱: د مسلمانانو کورونه د ژوندو کورونه دي، باید په قرآن کريم سره آباد وي.

مقبري ( هديرې ) خالي وي، مړي خو تلاوت نه کوي، که يې وکړي، ثواب نه پرې ور کول کيږي.

د ژوندو او د مړو د کور فرق په دې دی چې د ژوندي په کور کې عبادت کيږي او د مړه په کور کې نه کيږي.

نو باید مسلمان خپل په کور کې هغه څه وکړي چې په هغه سره يې کور د ژوندو کور جوړيږي، نه دا چې خپل کور د مړو د کور په صفاتو سره متصف کړي.

ketabton.com - The Digital Library


۲: شیطانان د قرآن سره په یوه کور کې نه شي اوسېدلی، بلکي له هغه کوره تښتي په کوم کې چې سورة البقرة لوستل کېږي.

د مسلم شریف په یوه بل حدیث کې راغلي دي: اقْرَءُوا سُورَةَ الْبَقَرَةِ فَإِنَّ أَخْذَهَا بَرَكَةٌ وَتَرْكَهَا حَسْرَةٌ وَلَا تَسْتَطِيعُهَا الْبَطَلَةُ». قَالَ مُعَاوِيَةُ بَلَغَنِي أَنَّ الْبَطَلَةَ السَّحَرَةُ. (رواه مسلم ص: ۲۷۰ ج: ۱)

ژباړه: سورهٔ بقره لولئ! ځکه د دې سورت اخیستل برکت دی او پرېښودل یې د افسوز لامل دی او د دې سورت ساحران او کوډګران طاقت نه لري!!

بطلة (یعني ساحران او کوډګران)

په دې حدیث کې دې خبري ته هم اشاره شوې چې په کوم کور کې سورهٔ بقره لوستل کېږي هغه کور به له جادو او کوډو څخه هم خوندي وي.

همدا راز ځیني خلګ له پېریانو په تکلیف وي، هغوی دي خپلي عقېدې صحیح پر الله پاک جوړې کړي او بل دي په کور کې دینداري او تلاوتونه شروع کړي، نو ان شاء الله له دغو تولو ناخوالو به خوندي شي.

دا صفات باید په یوه مسلمانه کورنۍ کې وي ځکه د مسلمان د کور ځانګړتیا له نورو په لمانځه، ذکر او د قرآن کریم په تلاوت سره ده.

نو هغه کورنۍ چې په هغې کې دا کارونه نه کېږي، قرآن پکي پرېښودل شوی، لمونځ پکي نه کېږي او د الله جل جلاله ذکر پکي نه وي، نو دا د دې ډېره لائقه او جوګه ده چې په دې کې دي شیطانان

ketabton.com - The Digital Library


او پیریان ځای ونیسي او د دوی تاتوبی دي شي چې په پایله کې به یې د کورنۍ وګړي له ډول ډول کړاوونو سره لاس او ګرېوان کېږي.

نو که څوک ځان له پیریانو او شیطانانو خوندي کول غواړي او د دُنیا او آخرت خوشحالي غواړي، هغه دي خپل کور په دین سره آباد کړي.

ځکه خوشحالي په دین کې ده،له دین څخه پرته په بل څه کې خوشحالي نشته، د دین له برکته په کور کې اتحاد،خوشحالي او روغ نیتي راځي،که دین نه وي، بیا به بدنیتې،بې اتفاقي او ناخوالي را منځ ته کېږي،او پایله به یې د ټولو خفګان او غم وي.

## د مسلمان کور باید له کومو کارو خلاص او فارغ وي ؟

د مسلمان کور باید له هر ډول ګناهونو نه پاک وي: کُفر، شرک، بې حیایي، بې ستري او نور.....

دوی باید په خپل ورځني ژوند کې تر بل هر څه اسلام ته لومړیتوب ور کړي، د خپل نفس غوښتني، رواجونه باید ټول په اسلام باندي ور عرض کړي،که کوم څه ور سره په ټکر کې وو، هغه دي پرېږدي او په اسلام دي عمل وکړي.

په ځانګړي ډول د بې ضرورته سپیانو او انځورونو ( تصویرونو ) له ساتلو څخه هم باید خپل کور پاک وساتل شي.

عَنْ أَبِي طَلْحَةَ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ «لاَ تَدْخُلُ الْمَلاَئِكَةُ بَيْتًا فِيهِ كَلْبٌ وَلاَ صُورَةٌ».(رواه البخاری ص:۴۵۸ ج:۱,و مسلم ص:۲۰۰ ج:۲)

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: له حضرت ابوطلحه - رضی الله عنه - څخه روایت دی چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم – وفرمایل: ملائکي هغه کور ته نه داخلېږي په کوم کور کې چې سپی او انځور وي!!

عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حِطَّانَ، أَنَّ عَائِشَةَ حَدَّثَتْهُ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَكُنْ يَتْرُكُ فِي بَيْتِهِ شَيْئًا فِيهِ تَصَالِيبُ إِلا نَقَضَهُ (رواه البخاری ص: ۸۸۰ ج: ۲)

ژباړه: له حضرت عائشه - رضی الله عنها – څخه روایت دی چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم – به په کورکي داسي شی له ماتولو پرته نه پرېښوده چې په هغه کې به انځورونه وو!!

په کور کې بېله ضرورته د سپي او انځورونو ساتل لويه ګناه ده، خو متاسفانه دا کارونه په اوسني دور کې ډېر زيات دي، داسي کورونه به ډېر کم وي چې له دغو شيانو خالي وي خصوصًا له انځورونو څخه، په داسي حال کې چې دا لويه ګناه او له داسي لوی خيره محرومتيا ده چې د رحمت ملائکي نه ورځي، کوم کور ته چې د رحمت ملائکي نه ورځي، هلته د غضب ملائکې ورځي، هلته عذابونه او ناخوالي راځي او هغه کور د شيطانانو او پيريانو په ټاټوبي بدلېږي، په هغي کورنۍ کې يوازي عذابونه، بد مرغۍ او ډول ډول غمونه او مصيبتونه نازلېږي.

# په اسلام کې د ښو اخلاقو ارزښت

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَكْمَلُ الْمُؤْمِنِينَ إِيمَانًا أَحْسَنُهُمْ خُلُقًا وَخِيَارُكُمْ خِيَارُكُمْ لِنِسَائِكُمْ (رواه احمد ص: ۱۱۴ ج: ۱۶ و البیهقی فی شعب الایمان ص: ۱۲۸ ج: ۱)

ketabton.com - The Digital Library


ژباړه: له حضرت ابوهريره - رضی الله عنه – څخه روايت دی چې رسول الله - صلى الله عليه وسلم – وفرمايل: په ټولو مؤمنانو کې د کامل او پوره ايمان والا هغه دی چې اخلاق يې ښه وي او په تاسو کې غوره هغه څوک دی چې د خپلو ښځو لپاره ښه وي!!

په دې حديث کې د ايمان د کمال معيار ښه اخلاق ګرزول شوي او د غوره والي لپاره يې معيار دا ګرزولی چې څوک د خپل کور لپاره ښه وي، هغه په تاسو کې غوره او بهتردی.

ځکه د نورو خلګو سره که انسان ملاقات کوي، لږ وخت ور سره تېروي، په لنډ وخت کې ښه اخلاق چلول اسان کار دی، خو په کور کې چې انسان ډېر وخت تېروي، که په هغه وخت کی انسان ښه ژوند تېر کړي، نو په رښتيا هم غوره او بهتر سړی وي.

د ښو اخلاقو د فضيلت او ارزښت په هکله ډېر آياتونه او احاديث راغلي دي چې څو يې دلته د نمونې په توګه ليکو :

الله پاک فرمايلي دي: وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٍ {القلم: ۴}

ژباړه: اې نبي (عليه السلام) بې شکه ته په لويو اخلاقو باندې يې!!

په دې ايت کې الله پاک د خپل نبي - صلى الله عليه وسلم – يو لوی صفت بيان کړی، هغه دا چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د لويو اخلاقو څښتن دی.

نو څوک چې په دې صفت کې د نبي عليه السلام تابعداري وکړي، هغه ته به هم د دې صفت فائده په دُنيا او آخرت کې په لاس ور شي.

ketabton.com - The Digital Library


په بل ایت کې فرمايي: خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِينَ (الاعراف: ۱۹۹).

ژباړه: معافي واخله، په ښو کارونو حکم کوه او له جاهلانو مخ اړوه!!

جعفر الصادق- رحمه الله - فرمايلي دي: الله تعالی په دې آيت کې خپل نبي – عليه السلام – په ښو اخلاقو سره امر کړی دی او تر دې په قرآن کې د ښو اخلاقو ډېر ښه راجمع کوونکی نشته ( تفسير قرطبي ص: ۳۴۵ ج: ۷ )

حضرت عائشې- رضی الله عنها – فرمايلي دي: إِنَّ خُلُقَ نَبِيِّ اللَّهِ -صلی الله عليه وسلم- كَانَ الْقُرْآنَ. (رواه مسلم ص: 256 ج: 1) يعني د رسول الله -صلی الله عليه وسلم – اخلاق قرآن وو ! !

يعني د کوموکارو او اخلاقو په هکله چې قرآن کريم امر کړی دی چې بايد عملي کړی شي، د هغو عملي بڼه په رسول الله - صلی الله عليه وسلم – کې موجوده وه.

يعني د رسول الله - صلی الله عليه وسلم – اخلاق او عادت مبارک داسي وو چې د کوم کار په لور قرآن کريم بلنه ور کړې، يا يې ښه ګڼلی او يا يې ستايلی دی، هغه ټول په نبي – عليه السلام - کې موجود وو او کوم عادات او کارونه چې قرآن کريم بد ګڼلي دي او يا يې ترې منعه کړې ده،له هغو يې ځان ساتلی وو، نو قرآن کريم د ده د اخلاقو بيان دی.

ژباړه: له حضرت انس - رضی الله عنه - څخه روايت دی وايي: وَلَقَدْ خدمتُ رسول اللهِ -صلی الله عليه وسلم -عَشْرَ سنين، فما قَالَ لی قَطُّ: أُفٍّ، وَلاَ قَالَ لِشَیءٍ

ketabton.com - The Digital Library



فَعَلْتُهُ: لِمَ فَعَلْتَه ؟ وَلاَ لشَيءٍ لَمْ أفعله: ألاَ فَعَلْتَ كَذا ؟ ( متفقٌ عَلَيْهِ ( رياض الصالحين ص: ۲۳۱ )

ژباړه: ما د رسول الله - صلی الله علیه وسلم – لس کاله خدمت وکړ، نو ما ته یې هیڅکله أُف ( هم ) نه دی ویلی او نه یې د داسي شي په هکله چې ما کړی وي، را ته ویلي دي چې ولي دي کوی ؟ او نه یې د داسي شي په هکله را ته ویلي دي چې ما نه وي کړی، چې ولي دي نه کوی ؟!!

په یوه حدیث کې راغلي دي: إِنَّمَا بُعِثْتُ لأُتَمِّمَ مَكَارِمَ الأَخْلاَقِ (سنن الکبری للبیهقی ص: ۱۹۱ ج: ۱۰)

ژباړه: زه د دې لپاره را لېږل شوی یم څو ښه اخلاق بشپړ کړم!!

نو له دې حدیث څخه د ښو اخلاقو اهمیت ډېر ښه جوتېږي چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم – فرمایلي دي چې زما د بعثت لوی غرض دا دی چې ښه اخلاق په دُنیا کې راولم او پوره یې کړم، دا کار یې پرته له شکه چې په بشپړه توګه سر ته و رسوی.

که اوس څوک غواړي چې زه څنګه خپل اخلاق سم کړم، هغه دي د رسول الله - صلی الله علیه وسلم – د اخلاقو او عاداتو مطابق خپل اخلاق او عادات جوړکړي، نو په یقیني توګه به دغه کس د دې فضائلو حاصلوونکی او د ښو اخلاقو څښتن وي.

عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « يَا عَائِشَةُ إِنَّ اللَّهَ رَفِيقٌ يُحِبُّ الرِّفْقَ وَيُعْطِى عَلَى الرِّفْقِ مَا لاَ يُعْطِى عَلَى الْعُنْفِ وَمَا لاَ يُعْطِى عَلَى مَا سِوَاهُ ». (رواه مسلم ص: ۳۲۲ ج: ۲)

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: له حضرت عائشه - رضی الله عنها - څخه روایت دی چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم – وفرمایل: اې عائشې! بې شکه الله پاک مهربان دی، مهربانې او نرمې خوښوي،او په نرمۍ سره هغه څه ور کوي چې په سختۍ سره یې نه ور کوي او هغه څه چې له نرمۍ پرته په بل څه نه ور کوي!!

د دې حدیث مطلب داسي دی چې الله پاک په خپله مهربان دی، له دې امله خپل مخلوق ته ډول ډول نعمتونه ور کوي، نو تاسو هم په یوه او بل مهرباني کوئ! نو الله پاک به پر تاسو مهرباني وکړي او ستاسو سره به نرمي وکړي.

عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: مَنْ أُعْطِيَ حَظَّهُ مِنَ الرِّفْقِ، أُعْطِيَ حَظَّهُ مِنْ خَيْرِ الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ، وَمَنْ حُرِمَ حَظَّهُ مِنَ الرِّفْقِ، حُرِمَ حَظَّهُ مِنْ خَيْرِ الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ(شرح السنة للبغوی ص:۳۰۷ ج:۶)

ژباړه: له حضرت عائشه - رضی الله عنها - څخه روایت دی چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم – فرمائلي دي: چا ته چې له نرمۍ څخه برخه ور کړل شوه، نو د دُنیا او آخرت له خیره برخه ور کړل شوه، څوک چې د نرمۍ له برخي محروم کړل شو، نو د دُنیا او آخرت له خیره محروم او بې برخي کړل شو!!

له حضرت عبدالله بن عمرو - رضی الله عنه - څخه روایت دی چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم – وفرمایل: إِنَّ مِنْ أَحَبِّكُمْ إِلَيَّ أَحْسَنُكُمْ أَخْلاَقًا (الحديث، رواه البخاری ص: ۵۳۱ ج:۱)

ژباړه: په تاسو کې هغه څوک ما ته ډېر محبوب دی چې اخلاق یې ښه وي!!

ketabton.com - The Digital Library



له حضرت عبدالله بن عمرو - رضی الله عنه - څخه روایت دی چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم – وفرمایل: إِنَّ مِنْ خِيَارِكُمْ أَحْسَنَكُمْ أَخْلَاقًا (رواه البخاری ص: ۵۰۳ ج: ۱، و مسلم ص: ۲۵۵ ج: ۲)

ژباړه: په تاسو کې غوره هغه دی چې اخلاق یې ښه وي ! !

عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ ان النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا مَا مِنْ شَيْءٍ أَثْقَلُ فِي مِيزَانِ الْمُؤْمِنِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ خُلُقٍ حَسَنٍ وَإِنَّ اللَّهَ لَيُبْغِضُ الْفَاحِشَ الْبَذِيءَ (رواه الترمذی ص: ۲۰ ج: ۲)

ژباړه: له حضرت ابو الدرداء - رضی الله عنه - څخه روایت دی چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم – وفرمایل: د قیامت په ورځ به د مؤمن د نېکو اعمالو په تله کې تر ټولو دروند شی ښه اخلاق دي، او الله پاک د بې حیاء او عبث خبرو کوونکو سره بُغض لري!!

عَنْ عَائِشَةَ - رضی اللهُ عنها - قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صلی الله علیه وسلم - يَقُولُ: إِنَّ الْمُؤْمِنَ لَيُدْرِكُ بِحُسْنِ خُلُقِهِ دَرَجَةَ الصَّائِمِ الْقَائِمِ. (رواه ابوداؤد ص: ۶۶۱ ج: ۲)

ژباړه: له حضرت عائشه - رضی الله عنها - څخه روایت دی چې ما له رسول الله - صلی الله علیه وسلم – څخه واورېدل چې ویل یې: مؤمن په ښو اخلاقو سره (د شپې) د عبادت کوونکي او (د ورځې) د روژه نیوونکي درجه تر لاسه کوي!!

په دې حدیث کې تاسو فکر وکړئ چې ښه اخلاق څومره زیات فضیلتونه او ثوابونه لري، نو باید د دغو فضیلتونو په حاصلولو کې ډېرې زیاتې او تونديِ هلې ځلې وشي.

ketabton.com - The Digital Library


حضرت عائشه - رضی الله عنها - ته رسول الله - صلی الله علیه وسلم – فرمايلي وو: يَا عَائِشَةُ ارْفُقِي فَإِنَّ الرِّفْقَ لَمْ يَكُنْ فِي شَيْءٍ قَطُّ إِلاَّ زَانَهُ وَلاَ نُزِعَ مِنْ شَيْءٍ قَطُّ إِلاَّ شَانَهُ.(رواه ابوداؤد ص: ٦٦٢ ج: ٢)

ژباړه: نرمي کوه ځکه کله چې په يوه شي کې نرمي موجوده شي، هغه ښائسته کړي او چې کله له يوه شي نرمي و ايستل شوه، هغه بد رنګه کړي!!

د ښو اخلاقو د اهميت او ارزښت په هکله نور هم په لوی شمېر کې آياتونه او احاديث راغلي دي،نو بايد د دغو فضائلو په حاصلولو کې کوشش وکړل شي او په ځان کې ښه اخلاق راولو.

# ښه اخلاق څه ته ويل کېږي ؟

د کومو کارونو په اختيارولو سره انسان خوش اخلاقه کېږي، دا ګڼ شمېر کارونه دي، که دا عادات په انسان کې راغلل، هغه انسان خوش اخلاقه دی.

هغه دا دي:

١: د الله پاک بندګانو ته فائدې رسول.

٢: چا ته تکليف نه رسول، بايد خلګ د ده د لاس او ژبې له ضرره خوندي و اوسي.

٣: د هر مؤمن مسلمان سره په پراخ تندي ملاقات کول.

۴: د چا په تکليف صبر او برداشت کول.

ketabton.com - The Digital Library


۵: د ایمان شُعبي او څانګي په ځان کې راوستل لکه شکر، صبر، احسان، عبادت، عاجزي او داسي نوري (چې مخکي بیان شولې)

۶: ټول کارونه د ریاء او ښودني لپاره نه بلکي د الله جل جلاله د رضاء لپاره کول.

د ښو اخلاقو په خاوند کې لاندیني صفات هم موجود وي: حیاء دار وي، ښه کارونه ډېر کوي، رښتیا وایي، لږخبري کوي، ډېر عمل کوي، له بې فائدې کارو ځان ژغوري، د مسلمانانو سره تعلق ساتي، د عزت او وقار خاوند وي، لعنت پر چا نه وایي، چُغلګر نه وي، غیبت نه کوي، تلواري نه وي، د مسلمان سره کې نه او بُغض نه ساتي، بخیل نه وي، خوشحاله اوسي او نور ټول ښه صفات په ده کې موجود وي.

که دا صفات ټول په چا کې راغلل، هغه د ښو اخلاقو خاوند دی.

## د ښو اخلاقو علامات او نښې

د ښو اخلاقو د شتون علامه دا ده چې کله ته له خلګو غائب شي، یا بلي علاقې ته ولاړ شي، نو دوی دې ارمان کوي.

بله علامه یې دا ده چې پر هیچا د هغه له خیرخواهۍ پرته عیب نه لګوي.

او د چا سره به حسد او بُغض نه کوي، یوازې د الله لپاره به د انسان دوستي او دُښمني وي، همدا راز چا ته به په سپکه سترګه نه ګوري.

د ښو اخلاقو نوري هم ګڼې علامې شته، چې هر چا ته معلومېږي.

ketabton.com - The Digital Library


## ښه اخلاق څنګه په ځان کې را وستلی شو ؟

د دې لپاره چې ښه اخلاق په ځان کې را ولو، دا کارونه باید وکړو.

۱: په ځان کې هغه صفتونه را وستل چې د ښو اخلاقو صفتونه دي.

۲: په ځان کې هغه صفتونه راوستل چې په هغو سره د انسان زړه نرمېږي. ( په دې اړه زموږ کتاب: کامیاب مسلمان ص: ۹۱ ته مراجعه وکړه! )

۳:یوه لویه او مؤثره طریقه دا ده چې د رسول الله - صلی الله علیه وسلم – په هر حالت کې تابعداري کول ځکه د انسان د اخلاقو لپاره دا لوی ترازو دی.

۴: له الله - جل جلاله - څخه غوښتل چې یا الله! ما د ښو اخلاقو خاوند جوړ کړې !

۵: بله طریقه دا ده چې له انسانه څوک خفه نه شي: د چا سره دي د ستړیا، غم او غُصې په حالت کې ملاقات نه کوي.

۶: د ښو اخلاقو فضائل مطالعه کول، یا له بل چا اورېدل او پکې فکر کول.

په دې سره به ان شاءالله د انسان اخلاق ښه شي.

ketabton.com - The Digital Library



# د ځان سره حساب

پر دې خبره زموږ د ټولو مسلمانانو عقیده او پوخ باور دی چې د انسانانو سره به حساب کېږي، دوی له دې څخه هیڅ چاره نه لري، نه ترې ځان خلاصولی شي.

داسي یوه ورځ خامخا راځي چې په هغه ورځ به د انسان ټول کړه وړه تلل کېږي، د هغو مطابق به ور ته بدله ور کول کېږي، که یې عمل سم وو، بدله به یې هم سمه وي، ثوابونه به یې په برخه وي او د ده د سمو کړو په بدل کې به ور ته تلپاتې نېکمرغي او خوشحالي ور په برخه کېږي.

خو که د چا عمل خراب وو - نعوذبالله من ذلک - بیا به هم د ده د عمل مطابق بدله ور کول کېږي او الله تعالی پر چا ظلم نه کوي.

د مجرمانو لپاره الله پاک داسي عذابونه تیار کړي چې په هغو کې به د غم او پرېشانۍ په حالت کې اوسېږي، خو هیڅ چاره به هم نه لري،داسي لوری به هم نه وي چې په هغه لوري ولاړ شي، څو له عذابه ځان خلاص کړي.

نه به چالاکي کار کوي،نه به واسطه کار کوي،نه به روپۍ فائده ور ته کوي، نه به رشوت ترې اخیستل کېږي اونه به قوم کار ور کوي.

الله - رب العالمین - په خپل مقدس کتاب کې فرمایي: وَإِنَّ الدِّينَ لَوَاقِعٌ
(سورة الذاریات: ۶)

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: یقیناً جزا ( او حساب ) ضرور واقع کېدونکی دی!!
په دغه آیت مبارک کې الله پاک فرمايي چې جزا او حساب خامخا کېدونکی دی، یعني له هر چا سره به حساب کېږي، که نېک عمله وي او که بد عمله.

عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم-: مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ إِلاَّ سَيُكَلِّمُهُ اللَّهُ لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ تُرْجُمَانٌ فَيَنْظُرُ أَيْمَنَ مِنْهُ فَلاَ يَرَى إِلاَّ مَا قَدَّمَ وَيَنْظُرُ أَشْأَمَ مِنْهُ فَلاَ يَرَى إِلاَّ مَا قَدَّمَ وَيَنْظُرُ بَيْنَ يَدَيْهِ فَلاَ يَرَى إِلاَّ النَّارَ تِلْقَاءَ وَجْهِهِ فَاتَّقُوا النَّارَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ.(متفق علیه، مشکات ص: ۴۸۵ ج: ۲)

ژباړه: له حضرت عدی بن حاتم - رضی الله عنه - څخه روایت دی چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم – وفرمایل: په تاسو کې یو تن نشته مگر ژر دی چې د هغه سره به د ده رب خبري وکړي،د الله پاک او د ده تر منځ به ترجمان نه وي او نه به داسي پرده وي چې دی پټ کړي، نو خپل ښي لاس ته به وگوري، نو یوازي هغه کارونه به ویني چې مخکي ( په دُنیا کې ) یې کړي دي او چپه طرف ته به وگوري، نو یوازي هغه کارونه به ویني کوم چې ده مخکي ( په دُنیا کې ) کړي دي، خپل د مخي خوا ته به وگوري، نو یوازي اور به ویني چې د ده مخامخ به وي، نو تاسو له اوره ځانونه وساتئ! که څه هم د خورما په یوې ټکړې سره وي!!

یعني الله پاک به د بنده سره د قیامت په ورځ په داسي حال کې مخامخ خبري کوي، چې د ده ښي لوري ته به د ده ښه کارونه حاضر وي، چپ لوري ته به یې بد کارونه حاضر وي او مخامخ به د جهنم اور ویني.

ketabton.com - The Digital Library


نو دا به ډېر د وار خطايي او رُعب حالت وي.

د الله پاک او بنده تر منځ به ترجمان او واسطه نه وي.

ترجمان به ځکه نه وي چې په ترجمانۍ سره رُعب کمیږي، کله چې د یو چا سره مخامخ خبري کېږي، نو رُعب زیات وي، خو چې واسطه راشي، بیا رُعب کمېږي.

همدا راز په حجاب او پردې سره هم رُعب کمېږي، نو دا دواړه شیان به د قیامت په ورځ د حساب او کتاب په وخت کې نه وي.

نو ځکه د الله پیغمبر - صلی الله علیه و سلم - فرمايي: چې له هغه وخت مخکي اوس له دغه اوره ځانونه وژغورئ! په کومه طریقه مو چې وس کار کوي، که نور څه نشئ کولی، نو په نیمه خورما ځانونه وژغورئ !

د دې دوه مطلبه دي:

۱: ځان له اوره وساتئ او پر چا باندي د نیمي خورما په اندازه هم ظلم مه کوئ !

۲: ځان له اوره وژغورئ! که څه هم د نیمي خورما په خیراتولو سره وي (لمعات)

یعني نیمه خورما ور کړئ او په دې سره ځان له عذابونو خلاص کړئ !

نو په دې حالت کې به الله پاک ور ته فرمايي چې تا زما څومره تابعداري کړې ده، څومره د دین مطابق چلېدلی وې او څومره دې بغاوتونه کړي وو.

ketabton.com - The Digital Library



په دې کې دي سرې فکر وکړي چې دا څومره سخت حالات د انسان مخې ته را روان دي، خو بیا هم موږ بې غمه ګرزو، سره د دې چې په دې ټولو خبرو مو ایمان راوړی دی، خو بیا هم توجه نه ور ته کوو.

که په دُنیاکې لږ څه ګرمي راشي، نو موږ ډېر سامانونه ور ته تیاروو، څو له ګرمۍ ځان وساتو، خو د قیامت د ورځې هغې سختې ګرمۍ ته مو پام نه وي، چې هغه داسې سخته ګرمي ده چې لمر به د یوه میل په اندازه ودرېږي، په داسې حال کې چې اوس لمر د ساینس پوهانو د تحقیق مطابق له زمکې څخه نه کروړه او دېرش لکه میله لرې دی، خو بیا یې هم موږ د ګرمۍ توان د ګرمۍ په موسم کې نه لرو، نو په هغه وخت کې به زموږ څه حال وي چې د یوه میل په اندازه رانږدې شي، زمکه د تبخې په څېر ګرمه وي، ورځ پنځوس زره کاله وي، جامې نه وي،نور له ګرمۍ څخه د خوندي کېدلو سامانونه هم نه وي ؟

په هغه وخت کې به مرګ نه وي،که مرګ وی، ډېر کسان به د سختۍ له امله مړه شوې وی.

له هغې سختۍ څخه د ځان د خلاصولو لپاره یوه ذریعه شته، چې هغه په دُنیا کې د دین مطابق چلېدل دي.

په حدیث کې راغلي دي:

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم -: مَنْ حُوسِبَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عُذِّبَ. فَقُلْتُ أَلَيْسَ قَدْ قَالَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ (فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا) فَقَالَ: لَيْسَ ذَاكِ الْحِسَابُ إِنَّمَا ذَاكِ الْعَرْضُ مَنْ نُوقِشَ الْحِسَابَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عُذِّبَ. (متفق عليه، مشكات ص: ۴۸۴ ج: ۲)

ketabton.com - The Digital Library


ژباړه: له حضرت عائشې - رضی الله عنها - څخه روایت دی چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم – وفرمایل: د قیامت په ورځ چې د چا سره حساب وشو، عذاب به ور کول شي.

حضرت عائشه - رضی الله عنها – فرمايي چې ما وویل: الله پاک نه وايي چې: فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا (سورة الانشقاق: ۸) ( الله پاک د هغه چا په هکله فرمايي: چا ته چې عملنامه په ښي لاس ور کول شوه: نو ژر دی چې آسانه حساب به ور سره وشي) ( یعني الله پاک خو فرمايي چې د هغه چا سره به هم حساب کېږي چا ته چې عملنامې په ښي لاس ور کول کېږي، په داسي حال کې چې هغوی خو جنتیان دي، عذاب نه ور کول کېږي، او ته وايې چې د چا سره حساب و شو، هغه ته عذاب ور کول شو ؟نو د دې آیت څه مطلب دی ؟)

رسول الله - صلی الله علیه وسلم – وفرمایل: دا ور پېښېدل دي، لیکن د چا سره چې په حساب کې سختي وشوه، هغه ته عذاب ور کول کېږي!!

یعني دا دقیق حساب نه دی، یوازي اعمال به ور ته پېش کړی شي،د دې لپاره چې الله پاک خپله مهرباني ور ښکاره کړي.

په حدیث کې راغلي دي:
عَنْ اِبْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولَ اللَّهِ -صلی الله علیه وسلم-: إِنَّ اللَّهَ يُدْنِي الْمُؤْمِنَ فَيَضَعُ عَلَيْهِ كَنَفَهُ وَيَسْتُرُهُ فَيَقُولُ: أَتَعْرِفُ ذَنْبَ كَذَا أَتَعْرِفُ ذَنْبَ كَذَا ؟ فَيَقُولُ: نَعَمْ أَيْ رَبِّ حَتَّى قَرَّرَهُ بِذُنُوبِهِ وَرَأَى فِي نَفْسِهِ أَنَّهُ قَدْ هَلَكَ قَالَ: سَتَرْتُهَا عَلَيْكَ فِي الدُّنْيَا وَأَنَا أَغْفِرُهَا لَكَ الْيَوْمَ فَيُعْطَى كِتَابَ حَسَنَاتِهِ وَأَمَّا الْكُفَّارُ وَالْمُنَافِقُونَ فَيُنَادَى بِهِمْ عَلَى رُءُوسِ الْخَلاَئِقِ هَؤُلاَءِ الَّذِينَ كَذَبُوا عَلَى اللَّهِ».(متفق علیه\ مشکاة المصابیح ص: ۴۸۵ ج: ۲)

ketabton.com - The Digital Library


يعني له حضرت ابن عمر – رضي الله عنه – څخه روايت دی چې رسول الله – صلی الله عليه وسلم – وفرمايل: الله تعالی به (د قيامت په ورځ) مؤمن ځان ته نږدې کړي او په خپل حفاظت کې به يې راولي او له خلګو به يې پټ کړي، ور ته وبه وايي: آيا فلانۍ ګناه (دي) در ته معلومه ده ؟ آيا فلانۍ ګناه (دي) در ته معلومه ده ؟ دی به ووايي: هو، اې زما ربه! (دغسې به ګناوي ور په يادوي) تر دې چې په ټولو ګناهونو به پرې اقرار وکړي، دی به د ځان سره فکر وکړي چې دی خو تباه شو! الله – تعالی – به وفرمايي: ما په تا باندي په دُنيا کې پرده اچولې وه او نن يې در بخښم، نو ده ته به د ده د نېکو اعمالو عملنامه ور کول شي.

د کفارو او منافقانو په هکله به د ټولو خلګو په وړاندي اعلان کېږي چې دا هغه څوک دي چې پر خپل خدای يې درواغ ويلي وو، خبر شئ! پر (داسي) ظالمانو د الله – تعالی – لعنت دی!!

نو د حساب په کېدنه کې کوم شک نشته، خو ليکن تول او بدلې به توپير سره لري، بيا د حساب نتيجه به يا دنېکيو زياتوالی وي، نو برخليک به يې جنتونه او خوشحالۍ وي.

او يا به په پايله کې ګناوي زياتي راووزي، نو برخليک به يې عذابونه وي (اعاذنا الله من ذلک) او يا به په پايله کې نېکۍ او بدۍ سره برابري راووزي، بيا هم نېکمرغي ده څکه له عذابه خلاص شو چې دا ډېر د خوشحالۍ ځای دی.

ځيني خلګ به داسي وي چې حساب به سخت او دقيق ور سره وشي، د ټولو ګناوو په هکله به ترې پوښتنه کېږي.

ketabton.com - The Digital Library


نو دا به هم د دوی لپاره بربادي وي، ځکه د ده عملونه که هر څومره ډېر وي، خو بیا هم د الله پاک د یوه نعمت پوره حق نه شي اداء کولی.
ځیني خلګ به داسي وي چې اسانه حساب به ور سره کېږي، دوی په حقیقت کې هغه څوک دي چې په دُنیا کې د ځان سره حساب کوي.
الله تعالی مؤمنان په دې امر کړي چې د ځانو سره دي حساب وکړي، څو ځانونه د قیامت د ورځي حساب ته تیار او په دُنیا کې د الله پاک له نافرمانۍ کولو ووېرېږي.

الله رب العالمین په قرآن کریم کې فرمایي: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَلْتَنظُرْ نَفْسٌ مَا قَدَّمَتْ لِغَدٍ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ{سورة الحشر:۱۸)

ژباړه: اې مؤمنانو! له الله پاکه و وېرېږئ! او هر کس دي وګوري چې د سبا لپاره یې څه وړاندي لېږلي دي،او له الله – تعالی - وېره کوئ، بې شکه الله – تعالی – په هغو کارونو چې تاسو یې کوئ، ښه خبر دی!!

په دغه مبارک آیت کې الله پاک درې امرونه مؤمنانو ته کړي دي:
اتَّقُوا اللّٰهَ مُراد له دې څخه تقوٰی په ایمانیاتو کې ده، یعني له هر قسم شرک او کفر څخه ځان وساتي.

۲: وَلْتَنْظُرْ نَفْسٌ مَا قَدَّمَتْ لِغَدٍ: مطلب دا دی چې د ځانو سره حساب وکړئ! او هغه ښو کارو ته فکر کوئ چې تاسو د ځانو لپاره د قیامت د ورځي لپاره او د الله تعالی په وړاندي د پېشېدو لپاره ذخیره کړي دي.

۳: لغد: مراد ترې د حساب ورځ ده.
غد په محاوره د عربو کې راتلونکې ورځي ( سبا) ته ویل کېږي، نو

ketabton.com - The Digital Library


په دې کې اشاره ده چې ټول عمر د دُنیا د یوې ورځې په څېر دی او بس سبا قیامت دی.

حضرت عمر فاروق – رضي الله عنه – په خپله خطبه کې ویلي دي: حَاسِبُوا أَنْفُسَكُمْ قَبْلَ أَنْ تُحَاسَبُوا وَزِنُوا أَنْفُسَكُمْ قَبْلَ أَنْ تُوزَنُوا، وَتَزَيَّنُوا لِلْعَرْضِ الأَكْبَرِ، يَوْمَ تُعْرَضُونَ لاَ تَخْفَى مِنْكُمْ خَافِيَةٌ. (مصنف ابن ابی شیبة ص: ۲۷۰ ج: ۱۳, کنز العمال حدیث: ۴۴۱۹۶ ص: ٦٤ ج: ۱٦ )

ژباړه: د خپلو ځانو سره حساب وکړئ مخکې له دې چې ستاسو سره حساب وشي، خپل ځانونه وتلئ، مخکې تر دې چې وتلل شئ! او ځانونه لويي پېښې ته ښائسته کړئ، په کومه ورځ چې به تاسو (د الله تعالی حساب) ور وړاندې کړی شئ، ستاسو له عمله به هیڅ راز پټ پاته نه شي!!

په دې سره به ان شاء الله تعالی له ډېرو ګناهونو انسان را وګرزي.

لکه څرنګه چې د ځان سره له حساب کولو غافل کېدل د قیامت په ورځ د حساب د سختېدلو سبب دی.

حسن بصري - رحمه الله -: ویلي دي: إِنَّ الْمُؤْمِنَ قَوَّامٌ عَلَى نَفْسِهِ يُحَاسِبُ نَفْسَهُ لِلَّهِ، وَإِنَّمَا خَفَّ الْحِسَابُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى قَوْمٍ حَاسَبُوا أَنْفُسَهُمْ فِي الدُّنْيَا، وَإِنَّمَا شَقَّ الْحِسَابُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى قَوْمٍ أَخَذُوا هَذَا الأَمْرَ عَنْ غَيْرِ مُحَاسَبَةٍ (مصنف ابن ابی شیبة ص: ۵۰۳ ج: ۱۳)

یعني مؤمن د خپل ځان سمبالوونکی دی، د ځان سره د الله لپاره حساب کوي او د قیامت په ورځ حساب په هغو خلکو آسان شوی چا چې د ځانو سره په دُنیا کې حساب کوی او پر هغو خلکو سخت شوی چا چې دغه کار (د دُنیا ژوند، کاروبار او مال) پرته له حسابه کوی!!

ketabton.com - The Digital Library


ډېرى خلګ داسي فکر کوي چې د ځان سره حساب بايد يوازي هغه وخت وشي کله چې په ګناه کې ولوېږي، يا مصيبت راشي او يا ديني غونډي او مجلسونه وي، د خوشحالۍ او سلامتيا په وخت کې ور ته پام نه کوي.

همدا راز ځيني خلګ د ځان سره حساب په دې توګه کوي چې ځان ملامتوي چې ګناهګار يم، خو د خپل حالت د بدلولو فکر ور سره نه وي.

دا دواړه تېروتني دي، هم بايد حساب پرته له استثناء په هر وخت کې وشي او د حساب په پايله کې بايد د بدلون په لټه کې شي. د بېلګي په ډول چې ماښام د ځان سره داسي حساب شروع کړي چې په نن ورځ کې دي څومره لمونځونه کړي دي ؟ څو لمونځونه دي په جماعت سره اداء کړي دي ؟ څومره دي نفل کړي دي ؟ څومره دي ذکر کړی دی ؟ څومره دي تلاوت او نور د خير کارونه کړي دي ؟ همدا راز د ګناهونو په هکله داسي د ځان سره حساب کول چې څومره نافرماني را نه شوې ده؟ او څومره د دين مطابق نه يم چلېدلی ؟ څومره غيبت را نه شوی ؟ څومره مي مسلمانانو ته تکليف رسولی ؟ څومره مي مسلمانانو ته فائده ور رسولې ده ؟ که داسي حساب د ځان سره انسان جاري کړي، نو ان شاء الله تعالی کنترول به شي او اعمال به يې د شريعت مطابق وګرزي.

ketabton.com - The Digital Library



# د قبر عذاب چا ته ور کول کېږي ؟

قبر د آخرت له پړاوونو لومړنی پړاو دی، که په دې کې ځوک کامیاب شو، د تل لپاره کامیاب دی، که ( نعوذبالله ) ناکام شو، د تل لپاره ناکام دی.

عَنْ عُثْمَان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أنه إِذَا وَقَفَ عَلَى قَبْرٍ بَكَى حَتَّى يَبُلَّ لِحْيَتَهُ، فَقِيلَ لَهُ: تَذْكُرُ الْجَنَّةُ وَالنَّارُ فَلاَ تَبْكِي، وَتَبْكِي مِنْ هَذَا؟ فَقَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ: «إِنَّ الْقَبْرَ أَوَّلُ مَنْزِلٍ مِنْ مَنَازِلِ الآخِرَةِ، فَإِنْ نَجَا مِنْهُ فَمَا بَعْدَهُ أَيْسَرُ مِنْهُ، وَإِنْ لَمْ يَنْجُ مِنْهُ فَمَا بَعْدَهُ أَشَدُّ مِنْهُ». قَالَ: وَقَالَ رَسُولُ اللهِ - صلى الله عليه وسلم -: «مَا رَأَيْتُ مَنْظَراً قَطُّ إِلاَّ وَالْقَبْرُ أَفْظَعُ مِنْهُ». ( رواه الترمذی ص: ٥٧ ج: ٢ و ابن ماجة و قال الترمذی هذا حدیث غریب، مشکات: ٢٦ ج: ١ )

ژباړه: له حضرت عثمان رضی الله عنه څخه روایت دی چې دی داسې وو چې کله به قبرته ودرېدی، دومره به یې وژړل چې ږېره به یې لونده شوله، چا ور ته وویل: ته جنت او دوزخ یادوې، نو ( دومره ) نه ژاړې او د قبر له امله ( دومره زیات ) ژاړې ؟

حضرت عثمان رضی الله عنه وفرمایل چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم – فرمایلي دي: قبر د آخرت له منازلو څخه لومړنۍ منزل دی، که څوک د قبر ( له عذابه) خلاص شو، نو وروسته حالت تر دې آسان دی او که څوک ترې خلاص نه شو، نو وروسته حالت یې تر دې زیات سخت دی.

ketabton.com - The Digital Library



او حضرت عثمان - رضی الله عنه - فرمایلي دي چې رسول الله - صلی الله صلی الله علیه وسلم - وفرمایل: ما هیڅکله ( وېرونکی ) منظر نه دی لیدلی مګر قبر تر هغه زیات وېروونکی وي!!

اوس څنګه معلومېدی شي چې چا ته په قبر کې عذاب ور کول کېږي او د کومو کړو له کبله ور کول کېږي ؟

د دې لپاره ځیني داسي کارونه شته چې څوک یې کوي، الله پاک هغه ته په قبر کې عذاب ور کوي.

مونږ یې دلته رانقلوو، د دې لپاره چې ځان ترې وساتل شي څو د قبر د عذاب مستحق و نه ګرزو. هغه دا دي :

١ : کفر او شرک.

٢ : چُغلګري.

٣ : غیبت.

۴ : له خپلو بولو ځان نه ساتل.

۵ : دُرواغ چې په خلګو کې مشهور شي.

۶ : له قرآن کریم څخه د شپې وېدېدل او د ورځې عمل نه پرې کول.

٧ : زنا .

٨ : سود .

٩ : د مېلمه له حقه انکارکول.

١٠ : په غنیمت او بیتُ المال کې خیانت کول.

ketabton.com - The Digital Library



۱۱: بې اودسه لمونځ کول.

۱۲: د مظلوم سره مرسته نه کول.

۱۳: نارینه چې د ښایست داسې سامان استعمالوي چې استعمال یې د نارینه لپاره روا نه وي.

۱۴: هغه ښځې چې د ښایست داسې شیان استعمالوي چې د ښځو لپاره یې استعمال جائز نه وي.

۱۵: د حضرت لوط علیه السلام د قوم کار کول، یعني لواطت کول.

۱۶: حرام خوړل.

۱۷: د یتیمانو مال خوړل.

۱۸: د لمانځه پرېښودل.

۱۹: د زکات نه اداء کول.

۲۰: هغه خاوند چې خپله ښځه پرېږدي چې د بل چا سره بدکاري وکړي او هغه ښځه چې خپل خاوند ته اجازه ور کړي چې بدکاري وکړي.

۲۱: هغه خطیبان چې خلګو ته تقریرونه د دې لپاره کوي چې خلګ له صحیح دین څخه واړوي. (په خپلو بیانو سره د حق مقابله کوي)

۲۲: د خلګو په عزتونو کې لوېدل.

۲۳: صحابي ته بد نسبت کول.

۲۴: بې عمله خبري.

۲۵: روژه تر خپل وخت مخکي ماتول.

ketabton.com - The Digital Library


۲۶: هغه ښځه چې له خپل اولاد څخه بې موجبه شيدې بندي کړي.

۲۷: شراب څښل: په دې کې نورنشيي توکي استعمالول هم داخل دي.

يعني که څوک نوري نشې کوي،د هغوی لپاره به هم د قبر عذاب وي.

۲۸: غلا.

۲۹: غلطه عقيده.

۳۰: د مسلمان ناحقه وژل.

دا گناوي په هغو روايتونو کې ذکر شوې دي چې علامه سيوطي - رحمه الله - په شرح الصدور ص: ۶۶-۷۶) کې ذکر کړې دي.

الله پاک دي توفيق را کړي چې له دغو کارو ځان وساتو، چې د الله پاک د عذاب مستحق نه شو. آمين

## د قبر له عذابه د خلاصون لاري

قبر ته هر څوک ور ځي او دا ډېر سخت ځای هم دی، د يوازيوالي او چينجو کور دی، د عمل صندوق دی، هلته چا ته له خپل عمل پرته نور څه په کار نه ور ځي.

د هغه ځای له سختيو د خلاصون لپاره په قرآن کريم او احاديثو کې ځيني داسي اعمال بيان شوی دي چې د هغو په اختيارولو سره انسان د قبر له سختيو او عذابونو څخه ژغورل کېږي، چې يو څو يې دلته

ketabton.com - The Digital Library


ليکو، د دې لپاره چې په دې اعمالو سره ځانونه دې ستر هدف ته ورسوو او د تل لپاره نېکمرغي او کاميابي مو په برخه شي.

۱: د الله تعالی څخه د قبر له عذابه پناه غوښتل. يعنې دُعاګاني کول، له دې امله رسول الله - صلی الله عليه وسلم – به پخپله هم له الله پاک څخه د قبر له عذابه پناه غوښتله او صحابهٔ کرامو او نور امت ته يې هم فرمائلي دي: تَعَوَّذُوا بِاللهِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ.( الحديث,رواه مسلم ص: ۳۸۶ ج: ۲ )

ژباړه: الله –تعالی - ته د قبر له عذابه پناه ورورېئ ! !

۲: بل سبب د قبر له عذابه د خلاصون شهادت دی الله - سبحانه وتعالی –شهيد ته د قبر له عذابه خلاصی ور کوي.

عَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِی كَرِبَ رضی الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لِلشَّهِيدِ عِنْدَ اللّٰهِ سِتُّ خِصَالٍ: يُغْفَرُ لَهُ فِي أَوَّلِ دَفْعَةٍ، وَيَرَى مَقْعَدَهُ مِنَ الْجَنَّةِ، وَيُجَارُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَيَأْمَنُ مِنَ الْفَزَعِ الْأَكْبَرِ، وَيُوضَعُ عَلَى رَأْسِهِ تَاجُ الْوَقَارِ الْيَاقُوتَةُ مِنْهَا خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا، وَيُزَوَّجُ اثْنَتَيْنِ وَسَبْعِينَ زَوْجَةً مِنَ الْحُورِ الْعِينِ، وَيُشَفَّعُ فِي سَبْعِينَ مِنْ أَقَارِبِهِ (رواه الترمذی وابن ماجة\مشکاة المصابيح ص: ۳۳۳ ج: ۲)

ژباړه: له حضرت مقدادبن معديکرب - رضی الله عنه – څخه روايت دی چې رسول الله - صلی الله عليه وسلم –وفرمايل: د الله تعالی سره د شهيد لپاره شپږ انعامونه دي: په اول ځل ده ته ټول ګناهونه ور بخښل کېږي، او په جنت کې چې د ده لپاره کوم ځای تيار شوی دی، هغه ور ښودل کېږي، او د قبر له عذاب څخه خلاصون ور په برخه کېږي،او د قيامت د ورځې له لويې وار خطايۍ څخه په امن کېږي،او پر سر يې د عزت تاج ور کېښودل کېږي چې يوه ملغلره يې تر دُنيا او څه چې په

ketabton.com - The Digital Library


دې دُنیا کې شتون لري، تر ټولو غوره ده،دُو اویا (۷۲) ښځې به د هغه حورو څخه ور ته په نکاح کېږي چې د غټو سترګو والا وي او د ده شفاعت به د اویا کسانو په هکله چې د ده له قریبانو څخه وي، قبول کړل شي!!

۳: څوک چې په جهاد کې پیره او څوکیداري کوي او په دې حالت کې مړ شي، د قبر له عذابه به خوندي وي.

عَنْ فُضَالَةَ بْنِ عُبَيْدٍ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: كُلُّ مَيِّتٍ يُخْتَمُ عَلَى عَمَلِهِ إِلَّا الَّذِى يَمُوتُ مُرَابِطًا فِى سَبِيلِ اللّٰهِ فَإِنَّهُ يُنَمَّى لَهُ عَمَلُهُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَيَأْمَنُ مِنْ فِتْنَةِ الْقَبْرِ (رواه الترمذی ص: ۲۹۱ ج: ۱)

ژباړه: له حضرت فضاله بن عبید – رضي الله عنه – څخه روایت دی چې رسول الله –صلی الله علیه وسلم –وفرمایل: د هرمړي پر عمل مُهر لګول کېږي (له هغه وروسته نور عمل د ده په عملنامه کې نه لیکل کېږي) پرته له هغه چا چې د الله په لار کې د پَیرې په حالت کې مړ شي، ځکه د هغه عمل تر قیامته پورې زیاتیږي، او د قبر له عذابه خوندي کېږي!!

۴: د سورة الملک ( تبارک الذي ) لوستل دا هم د قبر له عذابه د خلاصون یو مؤثر سبب دی.

په حدیث کې دي: هِيَ الْمَانِعَةُ هِيَ الْمُنْجِيَةُ تُنْجِيهِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ (رواه الترمذی ۱مشکات ص: ۱۸۸ ج: ۱)

یعني سورة الملک خلاصوونکې ده، ویونکی د الله پاک له عذابه خلاصوي ! !

ketabton.com - The Digital Library



عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ سُورَةً مِنَ الْقُرْآنِ ثَلَاثُونَ آيَةً شَفَعَتْ لِرَجُلٍ حَتَّى غُفِرَ لَهُ وَهِيَ تَبَارَكَ الَّذِي بِيَدِهِ الْمُلْكُ (رواه أحمد والترمذي وأبو داود والنسائي وابن ماجه\مشكات ص:١٧٨ ج:١)

**ژباړه:** له حضرت ابوهريره - رضى الله عنه - څخه روايت دى چې رسول الله - صلى الله عليه وسلم - وفرمايل: په قرآن كريم كې يو سورت دى، د يوه سړي لپاره يې شفاعت وكړو، تر دې چې هغه ته بخښنه وشوه او هغه سورت: تبارک الذي بيده الملک دى!!

عَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ لَا يَنَامُ حَتَّى يَقْرَأَ الم تَنْزِيلُ وَتَبَارَكَ الَّذِي بِيَدِهِ الْمُلْكُ (رواه أحمد والترمذي والدارمي وقال الترمذي: هذا حديث صحيح.\ مشكاة المصابيح ص:١٨٨ ج:١)

**ژباړه:** له حضرت جابر - رضى الله عنه - څخه روايت دى چې نبي - صلى الله عليه وسلم - به تر هغه پورې نه ويده كېدى، تر څو چې الم تنزيل (الم السجده) او تبارک الذي بيده الملک، يې لوستله!!

نو د دې حديث له امله بايد سړى كوشش وكړي چې دا دواړه سورتونه هره شپه ولولي.

**٥:** د مرګ ډېر يادول: څكه چې څوک مرګ ډېر يادوي، الله پاک به يې د قبر له سختۍ څخه وژغوري.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْوِي ذَلِكَ عَنْ رَبِّهِ عَزَّ وَجَلَّ أَنَّهُ يَقُولُ: وَعِزَّتِي لَا أَجْمَعُ عَلَى عَبْدِي خَوْفَيْنِ وَأَمْنَيْنِ إِذَا خَافَنِي فِي الدُّنْيَا أَمِنْتُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَإِذَا أَمِنَنِي فِي الدُّنْيَا أَخَفْتُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ (رواه البيهقي في شعب الايمان ص:٤٨٣ ج:١ وابن حبان في صحيحه ص:٤٠٦ ج:٢)

ketabton.com - The Digital Library


ژباړه: له حضرت ابوهريره – رضي الله عنه – څخه روايت دی چې رسول الله – صلی الله عليه وسلم – له خپل رب – عز و جل – څخه روايت کوي چې وايي: زما دي پر خپل عزت قسم وي، زه به پر خپل بنده دوه وېري (د دنيا او د اٰخرت)او دوه امنه (بې غمۍ) نه جمعه کوم، کله چې بنده له ما څخه په دُنيا کې و وېرېدی،په آخرت کې به يې په امن (بې غمه) کړم او کله چې په دُنيا کې له ما څخه په امن (بې غمۍ) کې وو، د قيامت په ورځ به يې ووېروم!!

نو له مرگ او آخرت څخه وېره د قبر او آخرت له عذابونو څخه د خلاصون يوه لار ده.

۶: په صدقو او خيراتونو سره هم سړی د قبر له عذابه ژغورل کېږي:

له حضرت عقبه ابن عامر - رضی الله عنه - څخه روايت دی چې رسول الله - صلی الله عليه وسلم – وفرمايل: إِنَّ الصَّدَقَةَ لَتُطْفِيءُ عَنْ أَهْلِهَا حَرَّ الْقُبُوْرِ، وَإِنَّمَا يَسْتَظِلُّ الْمُؤْمِنُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِيْ ظِلِّ صَدَقَتِهِ(رواه الطبرانی فی الکبير والبيهقی، الترغيب والترهيب للمنذری ص:۱۰ ج:۲)

ژباړه: صدقه (خيرات) له خپل خاوند څخه د قبر گرمي ختموي او مؤمن به د قيامت په ورځ د خپلي صدقې په سيوري کې وي!!

۷: په کاروبار کې اسانې کول:

عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ-صلی الله عليه وسلم-: إِنَّ رَجُلاً كَانَ فِيمَنْ قَبْلَكُمْ أَتَاهُ الْمَلَكُ لِيَقْبِضَ رُوحَهُ فَقِيلَ لَهُ: هَلْ عَمِلْتَ مِنْ خَيْرٍ؟ قَالَ: مَا أَعْلَمُ. قِيلَ لَهُ انْظُرْ قَالَ: مَا أَعْلَمُ شَيْئًا غَيْرَ أَنِّي كُنْتُ أُبَايِعُ النَّاسَ فِي الدُّنْيَا وَأُجَازِيهِمْ فَأُنْظِرُ الْمُوسِرَ وَأَتَجَاوَزُ عَنِ الْمُعْسِرِ فَأَدْخَلَهُ اللّٰهُ الْجَنَّةَ (متفق عليه) وفی رواية لِمُسْلم نحوه عن عقبة بن عامر وأبی

ketabton.com - The Digital Library



مسعود الأنصاري "فَقَالَ اللهُ أَنَا أَحَقُّ بِذَا مِنْكَ تَجَاوَزُوا عَنْ عَبْدِي. (مشكاة المصابيح ص: ۲۴۳ ج:۱)

ژباړه: له حضرت حذيفه - رضی الله عنه - څخه روايت دی، چې رسول الله - صلی الله عليه وسلم – وفرمايل: چې تر تاسو مخکې يو سړی وو، ملائکې ور ته راغلې، د دې لپاره چې روح ترې واخلي، نو ده ته وويل شول: تا څه ښه کار کړی دی ؟

ده وويل: ما ته نه دی معلوم !

بيا ور ته وويل شول: ته وګوره! ده وويل: ما ته خو بل څه عمل نه دی معلوم، يوازې دا را ته معلوم دی چې ما به د خلګو سره په دُنيا کې کاروبار کوی، نو ما به مالدار ته مُهلت ور کوی ( چې کله به مي پور پرې باندې شو ) او تنګلاسي ( غريب ) ته به تر خپل حق ور تېرېدلم، نو الله پاک جنت ته داخل کړو!!

د مسلم په يوه بل روايت کې راغلي دي چې الله پاک وويل: زه په دې کار تر تا ډېر حقدار يم، زما بنده ته تر ګناهونو ور تېر شئ!!

۸: له ګناهونو توبه ايستل.

۹: د مسلمانانو جنازه: جنازه الله پاک ته سفارش دی، چې يا الله! دا مړی وبخښه! خو افسوز چې د اکثرو کسانو سره دا فکر نه را ګرزي، چې زه الله پاک ته په سفارش ولاړ يم.

زموږ غفلت او د آخرت هېره دې اندازې ته رسېدلې ده چې يو مړی ښخوي، خلګ د قبر پر غاړه ناست وي، ګپې کوي.

په دې حالت کې مو هم توجه د مرګ او آخرت خوا ته نه اوړي.

ketabton.com - The Digital Library



۱۰: څوک چې د جُمعې په ورځ یا شپه کې مړ شي، د ده لپاره به د قبر عذاب نه وي.

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَمُوتُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ أَوْ لَيْلَةَ الْجُمُعَةِ إِلَّا وَقَاهُ اللَّهُ فِتْنَةَ الْقَبْرِ ( رواه احمد ص: ۱۴۷ ج: ۱۱)

ژباړه: له حضرت عبد الله عمرو – رضي الله عنه – څخه روایت دی چې نبي – صلی الله علیه وسلم – وفرمایل: کوم مسلمان چې د جمعې په ورځ یا شپه مړ شي، الله تعالی به یې د قبر له عذابه وساتي!!

۱۱: څوک چې د نس( ګیډې ) د درد له امله مړ شي، د قبر له عذابه به خوندي وي.

په حدیث شریف کې راغلي دي: مَنْ قَتَلَهُ بَطْنُهُ لَمْ يُعَذَّبْ فِي قَبْرِهِ (مسند احمد ص: ۲۶۲ ج: ۴، صحیح ابن حبان ص: ۱۹۵ ج: ۷)

ژباړه: څوک چې د نس درد و وژلو، هغه ته به په قبر کې عذاب نه ور کول کېږي!!

۱۲: د الله تعالی ذکر او یادول:

حضرت معاذ بن جبل - رضي الله عنه – فرمایلي دي: مَا عَمِلَ الْعَبْدُ عَمَلًا أَنْجَى لَهُ مِنْ عَذَابِ اللهِ مِنْ ذِكْرِ اللهِ. (رواه مالك والترمذی وابن ماجه. مشکاة المصابیح ص: ۱۹۹ ج۱)

ژباړه: بنده هیڅ داسي عمل نه دی کړی چې د الله تعالی له عذابه دي د ده لپاره د الله – تعالی - تر ذکر زیات ژغورونکی وي!!

همدا راز ځیني نور اسباب هم شته لکه: تکلیفونه چې کله صبر ور باندي وکړل شي او ثواب یې وګټي، همدا راز د زنکدن سختي: په

ketabton.com - The Digital Library



دې سره هم الله پاک انسان پاکوي، ګناوي ور ختموي، د مسلمانانو دُعاء او استغفار د ده لپاره، د اولاد له خوا د مور او پلار له طرفه خیراتونه کول، هر وخت په اوداسه سره ګرځېدل او پر بنده باندي د الله تعالی رحمت، زموږ د پیغمبر جناب محمد رسول الله - صلی الله علیه وسلم – شفاعت د خپل امت په هکله، د ملائکو دُعاګاني او استغفارونه د مؤمنانو لپاره، پر مؤمنانو باندي شفقت او مهرباني: دا هم د قبر له عذاب څخه د خلاصون یو مؤثر سبب دی.

همدا راز د الله پاک رحمت: د الله پاک رحمت ډېر پراخ دی، د ډېرو سترو جرمونو سره سره هم کله کله بنده د الله تعالی د رحمت له امله وبخښل شي.

دا څو اسباب دي چې په احادیثو کې د قبر له عذابه د خوندي کېدلو په اړه ذکر شوي دي.

الله پاک دي موږ ته توفیق راکړي چې په دې باندي عمل وکړو او ځانونه د قبر له سختیو وژغورو. آمین

# ایمان څنګه له انسانه ځي ؟

ایمان تر ټولو ستر او قیمتي دولت دی، د ایمان په څېر ارزښتناک بل هیڅ یو نعمت نشته، خو بیا هم ځیني کسان له ایمانه بې برخي کېږي او پر ځای یې کُفر یا مُنافقت رامنځته کېږي،د دې درې لاملونه دي:

۱: د ایمان څراغ هغه وخت روښانه،بلېږي او رڼا ور کوي کله چې داسي توکي ور ته چمتو شي چې په هغو سره دغه څراغ بلېږي.

ketabton.com - The Digital Library


د ایمان څراغ په بل اوسېدو کې او له دغي رڼا په استفاده کولو کې اور ته ور ته دی، لکه څنګه چې اور بوټو ،غازو ، تېلو او داسي نورو د سونګ توکو ته اړتیا لري چې اور پرې بلېږي، که د اور لپاره هغه توکي تیار نه شي، په دې هر څوک پوهېږي چې اور بیا بل نه پاته کېږي، بلکي سمدستي مړ کېږي، رڼا یې ختمېږي او له رڼا یې فائده نه اخیستل کېږي.

داسي د ایمان مثال هم دی.

ایمان علم او نېک عمل ته اړتیا لري

د دین په هکله به ځان خبروي او بیا به عمل ور باندي کوي.

که څوک ایمان دغسي پرېږدي، یوازي دا خبره کوي چې زه مسلمان یم، نور نه د دین په خبرو سر خلاصوي او نه د عبادت کولو هڅه کوي، نه له بل چا د دین خبري اوري او نه خپله مطالعه د دین په هکله کوي،نه په دین باندي عمل کوی.

د ایمان د رڼا لپاره چې کوم توکي ضروري دي، د هغو د تیارولو کوښښ نه کوي،نو د ایمان رڼا ختمېږي،دغه بله ډېوه مري او پر ځای یې د کفر، شرک او نفاق تیارې راځي.

دې مثال ته قرآن کریم هم اشاره کړې ده. الله تعالی فرمایي: مَثَلُهُمْ كَمَثَلِ الَّذِى اسْتَوْقَدَ نَارًا فَلَمَّا أَضَاءَتْ مَا حَوْلَهُ ذَهَبَ اللَّهُ بِنُورِهِمْ وَتَرَكَهُمْ فِي ظُلُمَاتٍ لَا يُبْصِرُونَ (البقرة: ۱۷)

ketabton.com - The Digital Library


ژباړه: د دوی مثال د هغه چا په شان دی چې اور یې بل کړ،خو کله یې چې چاپیریال روښانه کړ،الله - جل جلاله - د دوی ( د لیدلو ) نور واخیست او دوی یې په داسې تیارو کې پرېښودل چې څه نه ویني!!
منافقانو په ابتداء کې ایمان راوړ، د ایمان رڼا یې په آمنا سره حاصله کړه، لکه سړی چې اور بل کړي، منافق د ایمان په ذریعه د دُنیافائدې لاس ته راوړلې، په غنیمتونو کې برخه ور کول کېده، په زکاتونو او خیراتونو کې حصه ور کول کېده، د مسلمانانو له لوري په امن شول، خو بیا یې د هغه ایمان صحیح مراعت و نه کړ، د ایمان د رڼا د بل ساتلو لپاره یې مواد نه ور ته تیارول،چې په ترخ کې یې رڼا ختمه او سوځېدل یې پاته شول.

نو د ایمان د خاوند لپاره ضروري ده: که غواړي، چې د ایمان څراغ یې بل واوسي، د علم نافع او د نېک عمل کوښښ دې وکړي .

.که څوک دې ته فکر نه کوي، نو ایمان یې نه شي ور سره پاته کې دلی

که څوک دیني علم حاصل کړي، بیا به هم د دین خبرې اورېدل، یا مطالعه کول جاري ساتي، یوازې په دې به اکتفاء نه کوي چې دا خبرې مې اورېدلې دي، بلکې نوې نوې اورېدل یا مطالعه کول ضروري دي .

له دې امله به جناب محمد رسول الله - صلی الله علیه و سلم – د جمعې په ورځ خطبه ویله، په دې خطبه کې به وعظ او نصیحت وو، مسائل به یې هم پکې بیانولې .

ketabton.com - The Digital Library


د دې وجه دا ده چې د دين د خبرو اورېدل ضروري دي او په لږ تر لږه په اونۍ کې يو ځل اورېدل يا مطالعه کول يې ضروري دي.
له دې امله الله - جل جلاله - په خپل سپېڅلي کتاب قرآن کريم کې

فرمايلي دي: وَذَكِّرْ فَإِنَّ الذِّكْرَىٰ تَنفَعُ الْمُؤْمِنِينَ (الذاريات: ۵۵).

ژباړه: او نصيحت کوه ځکه چې نصيحت يقينًا مؤمنانو ته گټه رسوي!!

په دې آيت مبارک کې الله پاک فرمايي چې نصيحت مسلمانانو ته فائده رسوي، دا بې گټې کار نه دی چې څوک وو ايي: دا خبري خو مو ډېري اورېدلې دي .
۲ – د ايمان مثال د يوې شنې ونې په څېر دی، چې مېوه، گلان، ښېخ، .شاخونه او خوندور بوی لري

د دې وني اصل او ښېخ صفاء ساتل، له هغو وابښو، چې ونه کمزورې کوي او تاوان ور ته رسوي، د دې ونې هر وخت اوبه کول او له غلو يې ساتل.

دا کارونه به يې مالک کوي، بيا به له خپلي وني ښخه مېوه تر لاسه کوي او دا ونه به ده ته فائده او حاصل ور کوي .

که څوک يو فصل وکري، بيا يې خيال نه ساتي، نه اوبه ور کوي او نه يې له تاواني وښو او نورو شيانو ساتي، نه يې له غلو ساتي، بس يوازي کښښت يې وکری، نور يې پرېښود .

ketabton.com - The Digital Library



نو په دې خو هر څوک پوهېږي چې داسې فصل به نه یوازې دا چې خاوند ته ګټه و نه کړي، بلکې دغه خواري، ستړیا او تُخم به یې هسې عبث او بې ځایه لاړ شي.

ځکه داسې کښت خو به ډېر ژر وچ شي او که وچ نه شي، نو مېوه به و نه کړي او که یې وکړه، غله به یې یوسي، ده ته به څه ترې په لاس ور نه شي.

ایمان هم دا غواړي چې د وحی په سپېڅلو اوبو وپالل شي؛ د قرآن، احادیثو، د دین د علم او نېک عمل په وسیله تازه او ژوندی وساتل شي. د شبهاتو، بدعاتو او ګناهونو څخه دې د توبې په ساتنه خوندي کړل شي، او له افراط او تفریط څخه دې پاک او د اعتدال په رڼا کې سمبال کړل شي.

همداسې ایمان له انسان سره پاتې کېږي، په آخرت کې په ګټه ورځي، له عذاب څخه د خلاصون او جنت ته د رسېدو سبب ګرځي.

خو که دا پاملرنه ونه شي، نو د ایمان دا ونه ژر وچېږي او کمزورې کېږي.

د دې لپاره د الله تعالی د ذات او صفاتو معرفت او د آخرت د ورځې یاد ډېر ضروري دی؛ ځکه چې کله انسان دا یقین ولري چې الله تعالی یې ګوري او یوه ورځ به د خپلو اعمالو حساب ورکوي، نو پر دین عمل کول ورته اسانېږي.

ketabton.com - The Digital Library


دې مثال ته الله پاک په قرآن کريم کې داسي اشاره کړې ده الله جل جلاله فرمايي: أَلَمْ تَرَ كَيْفَ ضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا كَلِمَةً طَيِّبَةً كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ أَصْلُهَا ثَابِتٌ وَفَرْعُهَا فِي السَّمَاءِ ٢٤ تُؤْتِي أُكُلَهَا كُلَّ حِينٍ بِإِذْنِ رَبِّهَا وَيَضْرِبُ اللَّهُ الْأَمْثَالَ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ (سورة ابراهيم: ٢٥،٢٤)

ژباړه: آيا ته نه ګورې چې الله – تعالى - د سپېڅلې کلمې مثال څنګه بيان کړی دی ؟ لکه يوه ښه ونه چې جرړې يې ( په زمکه کې ) کې کلکي ( ښخي ) وي، او څانګې يې په اوچت طرف کې وي، چې هر وخت د خپل رب په حکم سره خپلې مېوې راوړي او الله خلګو ته دا مثالونه ( ځکه ) بيانوي چې ښايي هغوی پندترې واخلي !!

په دې آيت مبارک کې الله - جل جلاله- د توحيد د کلمې لپاره مثال بيان کړی دی.

د مثال حاصل دا دی: لکه څنګه چې د خورما ونه د ډېرو فائدو والا ده، بېخ يې کلک دی، څانګې يې له زمکې څخه د اسمان خوا ته پورته دي او د دې ونې مېوې په هر وخت کې په مختلفو ډولونو سره موجودې وي.

همدا راز د مؤمن ايمان او عقيده ده: د دغې عقيدې بېخ کلک او مضبوط دی، په شکونو او شُبهاتو سره له مينځه نه ځي، دغه عقيده په زړه کې ده او له دغې عقيدې څخه چې کوم عملونه پيدا کېږي، د اسمان خوا ته د قبوليت لپاره خېږي، د دغې عقيدې برکات او فائدې په هر وخت کې تر لاسه کېږي هم په دُنيا کې ، هم په قبر کې او هم په آخرت کې.

ketabton.com - The Digital Library



کشجرة: د بخاري شریف په حدیث کې راغلي دي چه له دغي وني څخه د خورما ( کجورو ) ونه مُراد ده ( بخاري ص: ۲۸۱ ج: ۲ )

طیبة: صورت یې خوندور دی، ډېري فائدې پکښې شته، په پاڼو او لرگو ټولو کې یې فائدې شته.

د وني په مثال سره لکه څنگه چې مو مخکې وویل، دې خبري ته اشاره ده چې لکه څنگه چې د دې وني ترقي او تازگي په اوبو ور کولو سره راځي، همدا راز د مؤمن ایمان هم د دین په خبرو سره تازه کېږي او قوي کېږي.

همدا راز د وني د قیام او درېدو لپاره درې شیان ضروري دي:

۱: بېخ ۲: تنه ۳: ښانگې.

همدا راز د ایمان لپاره چې خاوند له عذابونو خلاص کړي او جنت ته یې و رسوي، هم درې شیان ضروري دي :

۱: د زړه یقین او باور.

۲: په ژبې سره د ایمان اقرار کول.

۳: او عمل په اندامونو سره.

دغه درې شیان چې کله موجود وي، بیا به ایمان څوک له ناکامۍ بریالیتوب ته رسوي،خو که دغه درې صفات موجود نه وي، نو د ایمان پاته کېدل داسې گران دي لکه څنگه چې د وني پاته کېدل د هغو درو شیانو د نه شتون په وخت کې ناشونی او گران کار دی.

ketabton.com - The Digital Library


**۳ - مؤمن به تل د الله جل جلاله په ذکر کې مشغول اوسي، په هېڅ حالت کې به له الله جل جلاله څخه نه غافله کېږي.**

که يې زړه بيدار وي او که نه، چې کله دی هميشه د الله - **جل جلاله** - د احکامو په عملي کولو اخته وي، نو په داسې حال کې نفاق د ده زړه ته لار نه شي پيداکولی.

د دې بر خلاف منافق داسې وي، چې کله که لږ رنځا ور ته پيدا شي،څه دُنيوي گټه په يوه عبادت کې ويني، نو عبادت کوي، خو که نه وي، بيا د عباداتو او دين پرواه نه لري، نو په دې وخت کې د ده زړه ته نفاق لار پيدا کوي او په داسې طريقه يې زړه ته ور ننوزي، چې ده ته يې احساس نه کېږي،د ده فکر هم نه راځي چې دا په ما کې منافقت راغلی دی، تر دې چې منافقت يې په زړه کې ښه محکم او کلک شي.

هغه وخت يې آثار او نښانې څرگندې شي.

نو په دغه وخت کې بيا ور ته د توبې توفيق هم غالبًا نه ور کول کېږي.

د دې وجه دا ده چې د ده عبادت او د الله يادول دوام نه لري، کله چې خلک په يو ځای کې شتون و لري، دی هم عبادت کوي، تسپې اړوي،لمونځونه کوي، اوږدې اوږدې رکوعگانې او سجدې کوي، خو که خلگ نه وي، غافل وي، بيا يې نه الله - **جل جلاله** - په ياد دی او نه يې آخرت ته پام وي.

نو د دې په نتيجه کې چې له الله تعالی څخه شرم او حياء نه لري، عبادت د مخلوق په خاطر کوي، د الله تعالی رضاء يې پکښې مقصد

ketabton.com - The Digital Library



نه وي، الله پاک يې په زړه کې د سزا په ډول منافقت ور داخل کړي او بالآخره له ايمانه محروم شي او له دې دُنيا خالي لاس آخرت ته لاړ شي.

مطلب دا چې مسلمان بايد تل د الله پاک په عبادت کې مصروف وي، داسي به نه کوي چې په کال کې يوازي د روژې په مياشت کې عبادت کوي او نوري مياشتي آزاد وي، يا په اونۍ کي يوازي د جمعې په ورځ کې لږ عبادت کوي، نوري ورځي آزاد وي، بلکي هر وخت بايد د دين په پابندۍ کې ژوند تېر کړي او له الله پاکه هيڅکله توجه او فکر وا نهړوي.
الله پاک دې مونږ ټولو ته توفيق را کړي چې د ايمان د غوښتنو سره سم کارونه وکړو او الله پاک دې موږ او ايمان نه سره جلا کوي.

## شيطان څنګه څوک د الله له لارې اړوي؟

شيطان د انسان ښکاره او خطرناک دښمن دی؛ داسې دښمن چې د انسان دين خرابول غواړي او هڅه کوي چې هغه د الله تعالی له اطاعته وباسي او د مخالفت په لاره کې يې واچوي، تر څو يې د ځان په څېر په تلپاتې عذاب کې اخته کړي. په دې کار کې شيطان پوره تجربه لري.

که يو انسان پنځوس کاله په يو کار بوخت وي، نو د هغه ټولې پټې او ښکاره لارې ور ته معلومېږي. نو ابليس—عليه اللعنة—له هغه وخته چې د الله تعالی له رحمته وشړل شو، بې له دې بل کار نه لري چې انسانان بې‌لارې کړي. د همدې اوږدې مودې په ترځ کې يې د انسان د ګمراه کولو لپاره بې‌شمېره چلونه او طريقې زده کړې دي.

ketabton.com - The Digital Library



هغه د خپل هدف لپاره له هر ممکن کوښښ څخه کار اخلي او هره هغه لاره ازمويي چې انسان د الله له لارې واړوي او په نافرمانيو کې يې اخته کړي.

تقريباً شيطان لس داسې دامونه لري چې په هغو سره انسان غولوي او خپلې لومې ته يې راکاږي.

هغه دا دي:

## ۱: شيطان غواړي چې په انسان باندي کفر او شرک وکړي .

که په دې کار کې کامياب شو، نو د دښمنۍ اور يې يخ او په آرام شي.

ځکه که شيطان دا کار په انسان وکړو، شيطان خپل مقصد ته ورسېدی.

بيا که دغه سړی هر څومره ښه کارونه کوي، فائده نه ور ته کوي او الله پاک يې عبادتونه نه قبلوي، هسي به ځان ډېر ستړی کړي خو د الله په دربار کې يې هيڅ عبادت د قبلېدلو جوگه نه دی.

الله پاک فرمايي: وَقَدِمْنَا إِلَىٰ مَا عَمِلُوا مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنَاهُ هَبَاءً مَنْثُورًا (الفرقان:۲۳)

ژباړه: او هر څه عمل چې دوی کړی وو، موږ ور وړاندي شولو، نو هغه مو دوړه دوړه والوزول!!

دا آيت مبارک د يوه سوال جواب دی، هغه دا چې کافرانو ته الله پاک عذابونه ور کوي، په داسي حال کې چې دوی ښه کارونه هم کړي دي،

ketabton.com - The Digital Library


خیراتونه یې کړي وو او همدا راز نور ګڼ شمېر عبادتونه یې کړي دي، نو دوی ته ولي عذاب ور کول کېږي ؟

جواب و شو چې هغه ښه کارونه د دوی د شرک او کفر له امله بې فائدې او برباد دي.

## ۲: شیطان کوشش کوي چې بنده په شرک اصغر ( ریاء ) کې اخته کړي.

شیطان دا کوشش کوي چې د ده نیت ور خراب کړي، داسي نیت یې په عبادت کې ور پیدا کړي چې خلګ مي وویني، نو وبه وایي چې ګوره دا داسي ښه سړی دی،داسي ښه کارونه کوي.

د خلګو مخته عبادت کوي، خو په یوازي والي کې یې نه کوي، یا د خلګو مخته په اطمینان سره اوږد لمونځ کوي، خو چې یوازي شي بیا یې په تلوار سره کوي، یا یو عبادت یوازي وکړي او بیا یې خلګو ته تذکره کوي چې زه داسي عبادتونه کوم.

که په دې سره شیطان بریالی شو، نو هم به د ده عبادت ور برباد کړي او هم به یې په ګناه کې اخته کړي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- «قَالَ اللَّهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى أَنَا أَغْنَى الشُّرَكَاءِ عَنِ الشِّرْكِ مَنْ عَمِلَ عَمَلاً أَشْرَكَ فِيهِ مَعِي غَيْرِى تَرَكْتُهُ وَشِرْكَهُ».(رواه مسلم ص:۴۱۱ ج:۲)

ژباړه: حضرت ابوهریره – رضي الله عنه – ویلي دي چې رسول الله – صلی الله علیه وسلم – وفرمایل: الله – تبارک و تعالی – فرمایلي دي:

ketabton.com - The Digital Library



زه په ټولو شريکانو کې له شراکته ډېر وېزار يم: څوک چې داسي کار وکړي، چې په هغه کې يې زما سره بل څوک شريک کړ، زه هغه او د هغه شراکت پرېږدم!!

يعني په دُنيا کې خلګ يو کار کوي، نو د ځان سره بل څوک شريک کړي او په ګډه کار کوي.

الله – سُبحانه و تعالی - فرمايي: زه شريک ته اړتيا نه لرم، زه د کارونو په تر سره کولو کې د بل چا مرستي ته اړتيا نه لرم او له داسي شريک څخه وېزار يم.

همدا راز په عبادت کې هم له شراکته وېزار يم.

که څوک يو عبادت وکړي او په هغه کې زما سره بل څوک شريک کړي، نو زه به هغه د ده د شريک سره پرېږدم.

يعني زه د هغه عبادت ثواب نه ور کوم.

په دې کې دي سړی د ځان سره فکر وکړي چې څومره د تأسف ځای دی چې څوک په دُنيا کې ځان په عبادتونو کړوي، ستړی وي، خپل مال مصرفوي، جهاد کوي او يا نور د خير کارونه کوي، خو د قيامت په ورځ به بيا هم د الله پاک په دربار کې خوار او ذليل ولاړ وي.

او پر ځای د ثواب به يې عذاب په برخه وي، له دې امله چې د ده په عبادت کې اخلاص نه وو، نورو ته يې ځان ښودنه مقصد وه، څو خلګ ده ته ښه سړی، سخي،مجاهد او عابد ووايي!! د داسي سړي

ketabton.com - The Digital Library


په حقیقت کې په الله پاک، د قیامت په ورځ او په حساب او کتاب باندې صحیح یقین نشته او یا ترې غافل دی.

ځکه څوک چې د دغو ټولو خبرو یقین و لري، هغه بیا ولې په خپل عبادت کې د مخلوق ستاینه غواړي، په داسې حال کې چې د مخلوق له ستاینې هیڅ نه جوړیږي.

ځکه نور خلک خو هم د ده په څېر دي، څوک به ترې ښه او څوک هم بد وي، د هغوی بد او ښه ویل ور ته ګټه نه رسوي، نو انسان باید دې ته پام وکړي چې دی خو د الله تعالی بنده دی، الله پاک به د ده د عمل بدله ور کوي، خلک یې نه ور کوي.

**۳: شیطان کوشش کوي چې بنده په عبادت باندې مغرور کړي.**

په زړه کې یې داسې فکر ور پیدا کړي چې زه خو ډېر ښه سړی یم، داسې عبادتونه کوم، بس جنت زما لپاره دی، نور خلک ګناهګار دي او زه د الله پاک په عبادت کې مصروف یم، نو زه ډېر ښه سړی یم.

په داسې حال کې چې د مؤمنانو صفت دا دی چې دوی به په خپلو عبادتونو باندې نه مغروره کېږي.

که هر څومره عبادت کوي، بیا به هم له الله پاکه وېرېږي چې داسې نه وي دغه عبادت مي قبول نه شي.

علماوو فرمايلي دي: إِنَّ فِي الْعِبَادَاتِ آفَاتٍ مَا لَا تَحْتَاجُونَ مَعَهَا إِلَى الْمَعَاصِي.

ژباړه: بېشکه په عبادتونو کې داسې آفتونه (او خرابوونکي شیان) شته چې له هغو سره تاسو ګناهونو ته اړتیا نه لرئ!!

ketabton.com - The Digital Library



يعني د عذاب لپاره دا هم پوره ده چې عبادت په سمه توګه نه کوي، ګناه ته ضرورت نشته.

ځکه بنده چې کله عبادت وکړي نو د ده په عبادت کې ډېري نیمګرتیاوي وي،ریاء او ځان ښودنه پکې وي، تکبر او لویي ور سره وي،اخلاص پکي کم وي، د سنت تابعداري پکي کمه وي او همدا راز عاجزي الله ته پکي کمه وي.

نو دغه ټولي نیمګړتیاوي په عبادت کې وي، نو په داسي حال کې په دې عبادت باندي د الله پاک حق نه اداء کېږي.

د مؤمنانو صفت الله - جل جلاله - داسي بیان کړی دی چې دوی د شپې زیاته حصه په عبادت کې تېروي خو بیا هم: وَبِالْأَسْحَارِ هُمْ يَسْتَغْفِرُونَ(الذاريات:١٨).

ژباړه: او د پېشنمي په وخت کې يې بخښنه غوښتله!!

يعني په خپل عبادت باندي غرور نه کوي، بلکي د عبادت د کولو سره هم په خپلي کمزورۍ باندي اقرار کوي.

په دې کې اشاره ده چې که هر څومره ځوک ډېر عبادتونه کوي، بیا به هم په خپل عبادت باندي مغروري نه کوي.

نو له دې امله باید بنده له الله پاکه ووېرېږي او له الله پاکه د خپل عبادت د نیمګړتیا له امله بخښنه وغواړي.

ketabton.com - The Digital Library



خو شیطان دا کوشش کوي چې پر ځای د دې چې دی د نیمګړتیاوو له امله بخښنه وغواړي، بر عکس یې په عبادت مغروره کوي او په دې توګه یې د عبادت له فائدې بې برخي کوي.

**۴: څلورم دا چې د انسان په زړه کې تکبر او لويي ور واچوي،** د هغه تکبر او لويي له امله کله داسي هم پیښیږي چې خپله خطاء او تېروتنه ور ته ښکاره شي، خو بیا هم حق ته نه ور ګرزي او نه یې قبلوي، لامل یې یوازي تکبر او لويي وي.

دا یې نفس نه قبلوي چې خپله تېروتنه ومني.

نو د دې تکبر او لويي له کبله شیطان په دې بریالی شي چې دی د حق مقابلې ته چمتو او په غلطه خبره کلک کړي او د حق له قبلولو را وګرزوي.

دا کار په دې زمانو کې زیات شته، که تاسو فکر وکړئ ډېر داسي عالمان شته چې سره د دې چې خپله خطاء ور ته معلومه شي، بیا هم پرې ولاړ وي، لکه د غلطو ډلو عالمان په دې پوه دي چې زموږ عقیده او کړنلاره د شریعت سره اړخ نه لګوي، خو بیا هم تر مرګه پر هغه لار روان وي.

دا طریقه زموږ په مشرانو علماء کرامو – رحمهم الله – کې نه وه، هغوی به چې حق چېرته ومونده قبلوی به یې.

حضرت امام اعظم ابوحنیفه – رحمه الله – فرمایلي دي: **تعلمت نسک الحلق من الحلاق** (وقایة الانسان ص: ۱۹۹)

ketabton.com - The Digital Library


**يعني ما د سر خريلو طريقې له نايي زده کړلې ! !**

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « لاَ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ كَانَ فِى قَلْبِهِ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِنْ كِبْرٍ. قَالَ رَجُلٌ إِنَّ الرَّجُلَ يُحِبُّ أَنْ يَكُونَ ثَوْبُهُ حَسَنًا وَنَعْلُهُ حَسَنَةً. قَالَ « إِنَّ اللَّهَ جَمِيلٌ يُحِبُّ الْجَمَالَ الْكِبْرُ بَطَرُ الْحَقِّ وَغَمْطُ النَّاسِ. (رواه مسلم ص: ٦٥ ج: ١)

**ژباړه:** له حضرت عبدالله بن مسعود - رضی الله عنه - څخه روايت دی چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم – وفرمایل: هغه څوک به جنت ته نه داخلیږي د چا په زړه کې چې د ذرې په اندازه لويي وي.

يوه سړي وويل: يو کس دا غواړي چې د ده دي ښائسته جامې وي او ښائسته څپلۍ دي يې وي (نو آيا دا لويي ګڼل کيږي ؟)

رسول الله - صلی الله علیه وسلم – وفرمایل: الله ښائسته دی، ښائست خوښوي (يعني دا لويي نه ده) لويي د حق ردول او د خلګو سپک ګڼل دي!!

يعني په چا کې چې دا دوه صفتونه وي، هغه متکبر او لويي کوونکی دی: يو دا چې حق خبره نه مني او بل دا چې خلګو ته په سپکه ګوري!!

دا دوه صفتونه که په چا کې د ذرې په اندازه پيدا شول، له جنته محروم شو.

نو د داسي چا په اړه شيطان هدف ته و رسېدی په دې چې انجام به يې جهنم وي – العياذ بالله – څوک چې د حق منلو ته د تکبر او لويي له امله نه چمتو کيږي.

ketabton.com - The Digital Library


**۵**: د شیطان کوشش دا وي چې بنده په داسي عبادت کې اخته کړي چې د هغه نه الله پاک حکم کړی وي، نه یې له نبي اکرم - صلی الله علیه وسلم - څخه ثبوت وي، نه یې له صحابوو څخه ثبوت وي او نه هم د مجتهدینو په اجتهاد کې د هغه کار ثبوت وي، نو عبادت به هم کوي خو الله پاک ته به د قبول وړ نه وي.

ځان به ستړی کړي، خو نه یوازي دا چې د عبادت فائده به و نه ویني بلکي گناه به ور پسي ولیکل شي.

**۶: شیطان کوشش کوي چې بنده په لویو گناهونو کې مُبتلاء کړي.**

که په دې کار سره بریالی شو، دا گناوي ور ته وړې ښکاره کړي، د امیدونو دروازې پرې را خلاصي کړي،ور ته وایي چې اوس خو ځوان یې! وروسته به توبه وباسي، اوس خپل طبیعت سموه،هر څه چې کوې کوه یې، بیا به توبه و باسې!

په داسي حال کې چې مرگ خودا نه غواړي چې دا پربړده تر اوسه یې ارمانونه پاته دي، مرگ نه نمبر لري او نه مشر او کشر ته گوري او نه یې هم وخت معلوم دی.

نو هوشیار هغه دي چې ځان مرگ ته تیار کړي او د دُنیا په فاني ژوند باندي دوکه نه شي.

ketabton.com - The Digital Library



**۷: د شیطان بل کوشش دا وي چې بنده په وړو ګناهونو کې اخته کړي.**

او ور ته وايي: دا خو دومره ګناه نه ده، له لويو ګناهونو خو دي ځان ساتلی دی، دا خو په لمانځه او اوداسه سره هم له منځه ځي !

تر دې چې داسي اندازې ته يې ورسوي چې د لويو ګناهونو والا (چې له الله پاکه وېرېږي او پر خپلو کړو باندي پښېمان وي) تر ده غوره شي ځکه چې لويه ګناه هم په توبې سره ختمېږي او وړه ګناه چې څوک تل کوي، له هغې څخه لويه جوړيږي.

او بل دا چې د الله پاک ناراضتيا معلومه نه ده، چې په کومه ګناه الله پاک ډېر ناراضه کېږي.

**۸: شيطان کوشش کوي چې بنده په مباح کارونو کې مُبتلاء کړي،** څو په دې سره يې وخت ور ضائع کړي او له عباداتو يې را وګرزوي.

نو وختونه هسي عبث ورباندي تېر کړي او موقع يې له لاسه و وزي.

ځکه دغه ورځ چې پر تا تېره شوه، بيا تر قيامته پوري ببر ته نه را ګرزي.

ketabton.com - The Digital Library


**۹: شیطان کوشش کوي چې بنده په داسي عبادتونو کې مشغول وساتي، چې ثواب يې کم وي.**

په دې سره يې له راجح او غوره عبادته راګرزوي او په داسي کارونو کې يې اخته کوي چې که څه هم ثواب لري، خو ثواب يې کم وي.

**۱۰: د امتحانونو راتلل .**

که څوک له مخکي ټولو دامونو را تېر شو او شیطان په خپلو ټولو پلانونو کې ناکام شو، نو بيا به پر مؤمن باندي خامخا امتحانونه راځي، په داسي حالت کې شیطان ته بيا موقع په لاس ور ځي او کوښښ کوي چې داسي خبره يې تر خولې وباسي چې الله پاک ترې ناراض کړي، يا ور باندي د بې صبرۍ خبري کوي او يا يې له عبادتونو را وګرزوي.

نو انسان به په دې حالاتو کې له الله پاکه دُعاګاني غواړي او د صبر او استقامت کوښښ به کوي. الله جل جلاله فرمايي:

الم، أَحَسِبَ النَّاسُ أَنْ يُتْرَكُوا أَنْ يَقُولُوا آمَنَّا وَهُمْ لَا يُفْتَنُونَ، وَلَقَدْ فَتَنَّا الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَلَيَعْلَمَنَّ اللَّهُ الَّذِينَ صَدَقُوا وَلَيَعْلَمَنَّ الْكَاذِبِينَ (العنکبوت:۱-۳)

ژباړه: الم. آيا خلګو داګڼلې چې دوی به دغسي پرېښودل شي کله چې ووايي: موږ ايمان راوړی او څه ازمايښت يې نه کېږي او حال دا دی چې له دوی مخکي خلګ مو ازمايلي دي، نو الله خو به حتمًا دا ښکاره کوي چې چا رښتينولي کړې او خامخا به دروغجن هم ښکاره کوي!!

ketabton.com - The Digital Library


یعني یوازي په دې نه شئ خلاصېدلی چې تاسو د ایمان دعوه وکړه چې موږ مسلمانان یو، بلکي د دې سره به پر تاسو خامخا امتحانونه راځي، مصیبتونه او تکلیفونه به در باندي راځي، په دې سره مو الله پاک امتحان اخلي چې تاسو د ایمان په دعوه کې رښتیني یاست او که دروغجن یاست ؟ ځکه چې په امتحان سره مُخلص او غیر مُخلص سره بېلېږي.

د دې مثال داسي دی تاسو فکر وکړئ! د پسرلي په موسم کې هره ونه شنه وي، هر ډول نباتات او واښه تازه وي، خو د ژمي په موسم کې سره بېلېږي، د صبر ونې یوه یوه پاته شي او نوري ټولي زېړي او پاڼې یې ولوېږي.

تر دې مخکي نه معلومېدلې، د صبر ونې په نورو کې ورکي وي، خو د ژمي په موسم کې معلومي شولې.

همدا راز د خوشحالۍ او راحت په وخت کې مُخلص او مُنافق نه سره معلومېږي، خو چې امتحانات راشي، تکلیفونه او مصیبتونه راشي، په دې وخت کې مُخلص او مُنافق سره بېلېږي.

که په دې وخت کې څوک کلک په دین پاته شو، هغه مُخلص مؤمن دی.

دا د شیطان دامونه دي په کومو کې چې انسان راګیروي او د الله پاک له عبادته یې محروموي.

الله پاک مو دي په خپل فضل او کرم سره له دغه ستر او خطرناک دُښمنه وساتي.

ketabton.com - The Digital Library



# د یوې ښځې خبرې ټولې قرآني وې

د یوې ښځې په زړه پورې واقعه در سره شریکوم چې له قرآن کریم پرته به یې نورې خبرې نه کولې، د هرې خبرې ځواب به یې په قرآن کریم کې لټوی.

دې قصې ته سوچ وکړئ! چې دې ښځې ته الله پاک څومره عجیبه پوهه د قرآن کریم ور کړې وه او څومره د حساب او کتاب فکر او غم ور سره وو.

له دې باید عبرت واخیستل شي او په قرآن کریم باندې د ځان پوهولو او عمل کولو هڅې وشي او هم باید د خپلو خبرو په اړه دا په فکر کې ولرو چې زموږ ټول کړه وړه او خبرې لیکل کیږي.

په دې قصه کې دا خبره هم ده چې د الله پاک خاص بندګان څومره له الله پاکه ویره لري، چې له دې ویرې چې زما له خولې بدې خبرې و نه وزي، بیا به سزاراکول شي، له قرآنه پرته یې له نورو خبرو ځان ساتی.

له دې باید دا درس واخلو چې د خپلو خولو سره احتیاط شروع کړو.

په دې واقعه کې ډېرې نورې فائدې هم شته.

حضرت عبدالله بن مبارک - رحمه الله - فرمایلي دي چې زه د حج په اراده د کعبې شریفې په لور روان شوم، زه په دې لار روان وم چې یو ځای مې یو تور شی تر سترګو شو، ور ته ځیر شوم، داسې را ته معلوم شو چې دا ښځه ده چې د وړی ټیکری یې پر ځان اچولی دی، ورغلم او ور ته و مې ویل: السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.

ketabton.com - The Digital Library


هغې را ته په ځواب کې وویل: سَلَامٌ قَوْلًا مِنْ رَبٍّ رَحِيمٍ (یس:۵۸)

ژباړه: سَلام دي وي، وینا به کېږي د مهربان رب له لوري!!

عبدالله بن مبارک: پر تا دې الله - جل جلاله - رحم وکړي، په دې ځای کې څه کوې ؟

ښځه: مَنْ يُضْلِلِ اللَّهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ (الاعراف:۱۸۶).

ژباړه: له چا چې الله لار ورکه کړي، نو د هغه په لاره برابروونکی نشته!!

عبدالله بن مبارک: زه پوه شوم چې له دې لاره ورکه ده، نو ورته و مې ویل: چیري روانه یې ؟

ښځه: سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَى بِعَبْدِهِ لَيْلًا مِنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الْأَقْصَى (الإسراء:۱)

ژباړه: پاکي ده د الله لپاره (له هر ډول شرک او عیبه) داسي ذات دی چې د شپې یې خپل بنده له مسجد حرامه مسجد اقصی ته بوتلو !!

عبدالله بن مبارک: زه پوه شوم چې دې حج کړی او بیت المقدس ته روانه ده.

عبدالله بن مبارک: تا دلته څومره وخت تېر کړی ؟

ښځه: ثَلَاثَ لَيَالٍ سَوِيًّا (مریم: ۱۰ )

ژباړه: درې شپې، په داسي حال کې چې برابر به یې!!

عبدالله بن مبارک: زه ستا سره ډوډۍ نه وینم چې ته یې وخوري ؟

ketabton.com - The Digital Library



ښځه: وَالَّذِي هُوَ يُطْعِمُنِي وَيَسْقِينِ (الشعراء: ٧٩) ژباړه: او هغه الله ما ته خوراک او څښاک راکوي!!

عبدالله بن مبارک :ته اودس په څه شي کوې ؟

ښځه: فَلَمْ تَجِدُوا مَاءً فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا (المائدة:٦)

ژباړه: که مو اوبه پیدا نه کړې، نو پر پاکه خاوره تیمم ووهئ!!

عبدالله بن مبارک: زما سره ډوډۍ شته، غواړې چې ډوډۍ وخورې ؟

ښځه: ثُمَّ أَتِمُّوا الصِّيَامَ إِلَى اللَّيْلِ (البقرة:١٨٧)

ژباړه: بیا پوره کړئ روژې تر شپې پورې!!

عبدالله بن مبارک: زه پوه شوم چې روژه یې ده بیا مې ور ته وویل: دا خو د روژې میاشت نه ده ؟

ښځه: وَمَنْ تَطَوَّعَ خَيْرًا فَإِنَّ اللَّهَ شَاكِرٌ عَلِيمٌ (البقرة:١٥٨)

ژباړه: چا چې په خوشحالۍ سره نېکي وکړه، نو یقینًا الله تعالی قبلوونکی او پر هر څه پوه دی!!

عبدالله بن مبارک: موږ ته په سفر کې د روژې ماتول جائز دي.

ښځه: وَأَنْ تَصُومُوا خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ (البقرة:١٨٤).

ژباړه: د روژې نیول ستاسو لپاره ډېر ښه دي که تاسو پوهېږئ.

عبدالله بن مبارک: ولې زما سره داسې خبرې نه کوې لکه څنګه چې زه ستا سره خبرې کوم ؟

ketabton.com - The Digital Library



ښځه: مَا يَلْفِظُ مِن قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ (سورة ق:١٨)

ژباړه: انسان څه خبره له خولي نه باسي مګر د هغه سره څوکېدار تيار شته. ( يعني هره خبره د انسان ليکل کېږي )

عبدالله بن مبارک: ته له کومو خلکو څخه يې ؟

ښځه: وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولَئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُولًا (الإسراء:٣٦)

ژباړه: په هغه څه پسي مه روانېږه چې پر هغه ستا علم نه وي، يقيناً غوږونه، سترګي او زړونه د دې ټولو په هکله به له انسانه پوښتنه کېږي!!

عبدالله بن مبارک: ما غلطي وکړه، ما ته بخښنه وکړه ؟

ښځه: لَا تَثْرِيبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ يَغْفِرُ اللَّهُ لَكُمْ وَهُوَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ (يوسف:٩٢)

ژباړه: هيڅ ملامتيا پر تاسو نن نشته، الله دي تاسو ته بخښنه وکړي!!

عبدالله بن مبارک: غواړې چې زه دي له ځان سره سوره کړم، څو خپله قافله لاندي کړې ؟

ښځه: وَمَا تَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ يَعْلَمْهُ اللَّهُ ( البقرة: ١٩٧ ) ژباړه: کوم د خير کار چې تاسو کوئ پر هغه الله پوه او خبر دی!!

عبدالله بن مبارک: نو ما خپله اوښه چوکړه ( کښېنوله ).

ښځه: قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ (النور:٣٠)

ژباړه: مؤمنانو ته ووايه: خپل بعضي نظر کوز ( کښته ) ساتئ!!

ketabton.com - The Digital Library



عبدالله بن مبارک: ما خپلي سترګي هغې ته له کتو کښته کړې او ور ته و مي ویل: سوره شه! کله چې یې د سوربېدلو اراده وکړه اوښه وتښتېدله، کالي یې پرې شول نو و یې ویل: وَمَا أَصَابَكُمْ مِنْ مُصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُو عَنْ كَثِيرٍ (الشورى: ٣٠)

ژباړه: تاسو ته چې کوم مصیبت در رسېږي هغه ستاسو د هغو کړو له امله دی چې تاسو په خپلو لاسو کړي دي!!

عبدالله بن مبارک: ته صبر وکړه، تر څو زه اوښه وتړم.

ښځه: فَفَهَّمْنَاهَا سُلَيْمَانَ.(الآية،سورةالانبياء:٧٩)

ژباړه: د هغې فیصلې پوهه موږ سلیمان – علیه السلام - ته ور کړه!!

عبدالله بن مبارک: نو ما اوښه و تړله او ور ته و مي ویل: سوره شه کله چې سوره شوه و یې ویل: سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ, وَإِنَّا إِلَى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُونَ (الزخرف: ١٣-١٤)

ژباړه: د هغه ذات لپاره پاکي ده چې زموږ لپاره یې دا تابع کړې دی،حال دا چې موږ یې را ټنیګوونکي نه وو.او موږ خامخا د خپل رب طرفته بېر ته ور تلونکي یو!!

عبدالله بن مبارک: نو ما د اوښې زمام ونیوی، په منډه روان شوم او اوازونه مي کول.

ښځه: وَاقْصِدْ فِي مَشْيِكَ وَاغْضُضْ مِنْ صَوْتِكَ (لقمان: ١٩)

ژباړه: په خپل رفتار کې میانه روي کوه او خپل آواز کښته کړه!!

ketabton.com - The Digital Library



عبدالله بن مبارک: نو ورو ورو روان شوم او د ځان سره مي په ترنم ( ښه اواز ) شعرونه شروع کړل.

ښځه: فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ (المزمل:٢٠)ژباړه: ولولئ هغه چې تاسو ته له قرآن څخه آسان وي!!

عبدالله بن مبارک: يقيناً تا ته ډېر لوی خير در په برخه شوی دی.

ښځه: وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُولُو الْأَلْبَابِ (البقرة:٢٦٩)

ژباړه: يوازي د صافو عقلو خاوندان نصيحت قبلوي!!

عبدالله بن مبارک: چې لږ لاړو ور ته و مي ويل: ته خاوند لرې ؟

ښځه: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَسْأَلُوا عَنْ أَشْيَاءَ إِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ (المائدة:١٠١)

ژباړه: اې د ايمان خاوندانو: د هغه شيانو په هکله پوښتنه مه کوئ چې که در ته ښکاره شي، پرې خفه کېږئ!!

عبدالله بن مبارک: نو زه چپ شوم او بيا مي تر هغه پوري چې قافلې ته رسېدو، ور سره خبري و نه کړې.

نو ما ور ته و ويل: دا قافله ده، په دې کې ستا څه دي ؟

ښځه: الْمَالُ وَالْبَنُونَ زِينَةُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا (الكهف:٤٦)

ژباړه: مالونه او زامن د دُنيوي ژوندانه ښائست دي!!

عبدالله بن مبارک: زه پوه شوم چې اولادونه لري.

بيا مي ور ته وويل: دوی په حج کې څه کوي ؟

ketabton.com - The Digital Library


ښځه: وَعَلَامَاتٍ وَبِالنَّجْمِ هُمْ يَهْتَدُونَ (النحل:١٦)

ترجمه: او ( موږ ) نښانې (پیدا کړې دي ) او په ستورو سره دوی لار پیدا کوي!!

عبدالله بن مبارک: زه پوه شوم چې دوی لار بلد دي ( خلکو ته لاره ښيي ) نو دا مې خیمو او عمارتونو ته و رسوله او ور ته و مې ویل: دا خیمې دي په دې کې ستا څوک دي ؟

ښځه: وَاتَّخَذَ اللَّهُ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا ( النساء: ١٢٥ )

ژباړه: ابراهیم - علیه السلام - الله جل جلاله خپل دوست نیولی دی!!

وَكَلَّمَ اللَّهُ مُوسَى تَكْلِيمًا (النساء:١٦٤)

ژباړه: د موسی - علیه السلام - سره الله پاک خبري کړې دي!!

يَا يَحْيَى خُذِ الْكِتَابَ بِقُوَّةٍ وَآتَيْنَاهُ الْحُكْمَ صَبِيًّا (مريم:١٢)

ژباړه: اې یحیی - علیه السلام - کتاب په کلکه سره ونیسه!!

عبدالله بن مبارک: نو ما نعرې کړې: اې ابراهیمه! اې موسی،اې یحیی! نو د سپوږمۍ په څېر ځوانان مې ولیدل،چې مخامخ را روان وو ، کله چې دوی کښېناستل، مور یې ور ته وویل :

ښځه: فَابْعَثُوا أَحَدَكُمْ بِوَرِقِكُمْ هَذِهِ إِلَى الْمَدِينَةِ فَلْيَنْظُرْ أَيُّهَا أَزْكَى طَعَامًا فَلْيَأْتِكُمْ بِرِزْقٍ مِنْهُ وَلْيَتَلَطَّفْ وَلَا يُشْعِرَنَّ بِكُمْ أَحَدًا (الكهف:١٩)

ketabton.com - The Digital Library


ژباړه: د دې پیسو سره له تاسو یو تن ښار ته ولېږئ! و دې ګوري چې کوم یو له دوی څخه پاک (حلال) خوراک والا دی، نو له هغه څخه دې خوراک راوړي!!

عبدالله بن مبارک: نو یو له دوی څخه ولاړ او ډوډۍ یې راوړه او ما ته یې مخې ته کړه.

ښځه: كُلُوا وَاشْرَبُوا هَنِيئًا بِمَا أَسْلَفْتُمْ فِي الْأَيَّامِ الْخَالِيَةِ (الحاقة:۲۴)

ژباړه: خورئ او څښئ په خوشحالۍ سره د هغو کړو له امله چې تاسو په تېرو ورځو کې کړي دي!!

عبدالله بن مبارک: اوس ستاسو خوراک پر ما حرام دی، تر څو چې تاسو ما ته ستاسو له حالته خبر رانه کړئ.

نو د ښځې زامنو ویل: دا زموږ مور ده، له څلوېښتو کالو راهیسي یې له قرآن کریم پرته خبره نه ده کړې، د دې وېرې له امله چې په هغې به الله - تعالی- ناراضه شي، الله پاک چې څه غواړي پر هغه قادر دی.

عبدالله بن مبارک: ما و ویل: ذَلِكَ فَضْلُ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ (الجمعة:۴)

ژباړه: دا د الله تعالی فضل دی، چا ته چې وغواړي هغه ته یې ور کوي، الله د لوی فضل خاوند دی. (لطائف النساء ص: ۱۰- ۱۴، مجلة الفاروق عربي ص: ۱۳،۱۴، العدد: ۷۲)

ketabton.com - The Digital Library



# د څلورو مذهبونو شرعي حیثیت

په دې له فتنو ډکه زمانه کې، چې له هر لوري د ګمراهۍ بادونه چلېږي او د امت فکري وحدت له ګواښ سره مخ دی، یوه خطرناکه او منظمه فتنه دا هم راټوکېدلې ده چې مسلمانان له خپلو ثابتو فقهي مذهبونو څخه جلا کړي، د ائمۀ مجتهدینو په اړه بدګوماني خپره کړي، او د تقلید او د څلورو مذهبونو له منظم نظام څخه یې بې برخې کړي.

یوه ډله راپاڅېدلې ده چې شپه او ورځ د مذهبونو پر ضد تبلیغات کوي. د دوی د دعوت خلاصه دا ده چې: دا څلور مذاهب ګواکې د قرآن او سنتو مخالف دي، ټول مقلدین په ضلالت کې دي، او یوازې دوی (چې ځانونه "سلفیان او اهل حدیث" بولي) پر حق دي او همدوی د قرآن او حدیث حقیقي پیروان دي.

دوی په جرأت دا دعوه هم کوي چې د دغو څلورو ستر امامانو هېڅ ضرورت نشته، هر څوک کولای شي په خپله د قرآن او حدیث څخه احکام واخلي؛ که څوک عربي نه پوهېږي، نو د قرآن ترجمه او د حدیث کتابونه دې واخلي او له هغو څخه دې مسائل استخراج کړي!

دا ډول خبرې له علمي واقعیت څخه لرې دي او د مسلمانانو تر منځ د اختلافاتو د راټوکېدو پرته بله ګټه نه لري.

ketabton.com - The Digital Library



حقیقت دا دی چې مذاهب د قرآن او حدیث مقابله نه ده، بلکې د هغو شرح، تفسیر او منظم تطبیق دی. دا هغه فقهي نظام دی چې د امت د سترو علماوو د ژور فهم، دقیق اجتهاد او اوږدې څېړنې پایله ده.

د قرآن او حدیث څخه مستقیم استنباط د هر چا کار نه دی؛ ځکه په احادیثو کې صحیح، ضعیف، موضوع او منسوخ روایات شته، او د دې تر منځ تفریق کول د ژور علم او تخصص غوښتنه کوي. سربېره پر دې، ډېر داسې موارد شته چې احادیث ظاهراً یو له بل سره تعارض لري؛ له ځینو یو حکم څرګندېږي او له ځینو بل. د دې متعارضو نصوصو تر منځ جمع، تطبیق او ترجیح کول د هر چا د وس کار نه دی.

که فرضاً دا دروازه هر چا ته پرانیستل شي، نو د دین په باب به بې‌پروايي او نفس‌پرستي عامه شي. هر څوک به هغه حکم اخلي چې د ده له خواهش سره موافق وي، او هغه به پرېږدي چې سخت وي. په دې توګه به دین د نفس تابع شي، نه دا چې نفس د دین تابع وي.

له همدې امله، د امت جمهور علماوو دا خبره واضحه کړې ده چې د څلورو مذاهبو څخه د یوه پابندي کول نه یوازې جائز، بلکې ضروري او لازمه ده.

د قرآن او حدیث مثال د سمندر په څېر دي، چې قسم قسم ملغلرې او قیمتي جواهر پکې شته.

خو په دې هر عاقل انسان پوهېږي چې له سمندر څخه د جواهرو رااېستل د هر چا کار نه دی؛ دا کار یوازې هغه ماهر غوّاص کولای شي

ketabton.com - The Digital Library


چې لامبو يې په ماهرانه توګه زده وي. که د چا لامبو زده نه وي، او سمندر ته په دې وجه ورټوپ کړي چې "زه خپله ملغلرې راباسم،د بل چا را ايستل شوې ملغلري نه غوارم، نو نتيجه يې هر چا ته معلومېږي چې نه يوازي ملغلري به راو نه باسي بلکي ځان به هم غرق کړي.

همدا حال د قرآن او حديث دی؛ هر حکم پکې شته، خو استنباط يې د هر چا د وس کار نه دی.

د دې لپاره د داسې امام تابعداري ضروري ده چې د دين په دقائقو، اصولو او رموزو کې مهارت ولري—لکه دا څلور ستر امامان، او په ځانګړې توګه امام اعظم ابو حنيفه - رحمه الله -

نو حقيقت دا دی چې دا مذاهب د قرآن او سنتو خلاصه او منظم فهم دی، او د دوی ټول مسائل له همدې سرچينو څخه اخيستل شوي دي. څوک چې غواړي پر قرآن او حديث عمل وکړي، هغه بايد د يو معتبر مذهب په چوکاټ کې عمل وکړي

د تقليد د مفهوم د لا وضاحت لپاره څو بېلګې کفايت کوي:

لکه په لمانځه کې امام او مقتدي. دواړه د الله عبادت کوي، خو مقتدي د امام تر شا ولاړ وي. که څوک ووايي چې مقتدي د امام عبادت کوي او د الله تعالى عبادت نه کوي، نو دا خبره ښکاره باطله ده. همدا راز مقلد هم د الله او د هغه د رسول تابع دی، خو د امام د تشريح او وضاحت په رڼا کې.

ketabton.com - The Digital Library


بل مثال د مذهب د تابعدارۍ د ډاکټر او مریض مثال دی: که یو ناروغ د طب له علمه ناخبر وي او د متخصص ډاکټر پر ځای په خپله خوښه او اټکل دوایاني خوري، نو پایله به یې د ناروغۍ زیاتوالی او هلاکت وي.

همدا راز په خپل سر پرته له اهلیته، د خپل خواهش مطابق له قرآن او حدیث څخه مسائل را ایستل د تباهۍ او بربادۍ سبب دی.

بله خبره دا ده چې په دین کې دوه شیان دي:

۱: سند

۲: معنی.

د حدیث په سند محدثین پوهېږي او په معنی یې فقهاء ښه پوهېږي.

امام ترمذي - رحمه الله - لوی مُحدث دی هغه پخپله لیکي:

وَكَذٰلِكَ قَالَ الْفُقَهَاءُ، وَهُمْ أَعْلَمُ بِمَعَانِي الْحَدِيثِ (ترمذی ص: ۹۳ ج: ۱)

ژباړه: او دغسې فقهاوو ویلي دي او دوی د حدیثو په معناوو تر بل چا ښه پوهېږي!!

د مذهب د پرېښودلو د زیان په هکله مناسبه بولو چې په خپله د دوی خبره رانقل کړو.

ketabton.com - The Digital Library



مولوي محمدحسين بټالوي يو غير مقلد عالم دی، ليکلي دي: د پنځويشتو کالو له تجربې څخه موږ ته دا خبره معلومه شوې ده چې کوم خلګ د بې علمۍ سره د مجتهد مطلق او مطلق تقليد پرېښودونکي ګرزي، هغه اسلام ته سلام کولوسره کښېني، د کُفر، ارتداد او فسق اسباب نور هم په کثرت سره موجود دي، مګر د ديندار د بې دينه کېدلو لپاره د بې علمۍ سره د تقليد پرېښودل لوی او درووند سبب دی.

د اهل حديثو (غير مقلدينو) ډله چې د بې علمۍ يا کم علمۍ سره د مطلق تقليد د پرېښودلو دعوه کوونکې ده، هغوی دي له دغو پايلو څخه و وېرېږي. د دغي ډلي عوام آزاد او خپلواک کېدو سره روان دي.( رساله اشاعة السنة نمبر: ۲ جلد: ۱۱ په حواله د احسن الفتاوی ص: ۴۱۰ ج: ۱)

يعني دی په خپله وايي چې د مذهب پرېښودل موږ ته په تجربه معلومه شوه چې باالآخره پايله يې د اسلام پرېښودل ګرزي او نوموړی ليکي چې زموږ عوام په دين کې خپلواک او آزاد دي، په خپل طبيعت چلېږي!!

غير مقلدينو (سلفيانو) څو آسانه مسئلې را نېولې دي، خپل مستعار ژوند يې د دغو څو مسائلو بيان ته وقف کړی او پر هغو دومره زيات ټينګار کوي چې له خپلوځانو پرته ټول په غلطه بولي.

هغه دا دي:

ketabton.com - The Digital Library



۱: رفع اليدين ( په لمانځه کې رکوع ته د تلو او ترې را پورته کېدو په وخت کې لاسونه پور ته کول.

۲: آمين په زوره ويل.

۳: په امام پسي الحمد لله ويل.

۴: وتر يو رکعت او ۳، ۴، ۵، ۷، ۹. دوی خو وايي چې وتر له يوه تر نهو پوري طاق رکعتونه دي، خو که له دوی و پوښتئ! چې رښتيا ووايه! تا په کال کې څو ځله يو رکعت وتر کړي او څو ځله نهه ۹ رکعته ؟

نو له جوابه به يې همدا خبره در ته معلومه شي چې کله انسان د مذهب له پابندۍ ووتی، بيا به خامخا په آسانه مسئلو عمل کوي، ځکه دوی تل يو رکعت کوي، کوم چې يې د نفسي خواهش مطابق اسان دی.

۵: تراويح اته رکعاته کول.

۶: د سنتو خيال نه ساتل.

۷: په وينه اودس مات نه بولي.

۸: د ماپشين او مازيگر او همدا راز د ماښام او ماخوستن لمونځونه کله چې يې خوښه شي، يو ځای کوي.

ketabton.com - The Digital Library



دا څو مسئلې دي، چې دوی ور باندي ډېر زيات ټينګار کوي او د دغو مسئلو له امله پر نورو مسلمانانو فتواوي لګوي.

د دوی لويه لاسته راوړنه دا ده چې ځانونه يې د مذهب له پابندۍ خلاص کړي دي.

ځکه په مذهب کې خو پابندي ده، په خپل طبيعت نه شي چلېدلی، دوی ته ور باندي عمل کول ګران دی.

امام الهند حضرت شاه ولی الله دهلوي - رحمه الله - ليکي: إِنَّ فِي الْأَخْذِ بِهَذِهِ الْمَذَاهِبِ الْأَرْبَعَةِ مَصْلَحَةً كَبِيرَةً، وَفِي الْإِعْرَاضِ عَنْهَا مَفْسَدَةً كَبِيرَةً (عقد الجيد ص: ٣٦)

يعني په دغو څلورو مذهبونو کې په يوه په عمل کولو کې لوی مصلحت دی او په مخ اړولو کې ترې لوی فساد دی!!

مطلب مي دا دی چې دا څلورمذهبونه د قرآن او حديث تشريح ده او مسائل يې له قرآن او حديث څخه را ايستل شوې دي.

نو څوک چې غواړي په قرآن او حديث عمل وکړي، هغه دي د مذهب تابعداري وکړي.

دغه څلور سره مذهبه په عقيده کې سره يو دي، يوازي په فرعي مسائلو کې اختلاف سره لري.

ketabton.com - The Digital Library


علامه تاج الدين سبکي – رحمه الله – په دې هکله ليکلي دي: وَهَٰذِهِ الْمَذَاهِبُ الْأَرْبَعَةُ -وَلِلَّهِ تَعَالَى الْحَمْدُ- فِي الْعَقَائِدِ وَاحِدَةٌ، إِلَّا مَنْ لَحِقَ مِنْهَا بِأَهْلِ الِاعْتِزَالِ أَوِ التَّجْسِيمِ، وَإِلَّا فَجُمْهُورُهَا عَلَى الْحَقِّ، يُقِرُّونَ عَقِيدَةَ أَبِي جَعْفَرٍ الطَّحَاوِيِّ الَّتِي تَلَقَّاهَا الْعُلَمَاءُ سَلَفًا وَخَلَفًا بِالْقَبُولِ (معيد النعم و مُبيد النقم ص: ٣٢)

ژباړه: د الله تعالی لپاره تعريف دی چې دغه څلور سره مذهبه په عقيده کې يو دي، پرته له هغه چا چې د معتزلوو او مجسّموو سره يو ځای شوي دي، له هغو پرته د څلورو مذهبو اکثريت پر حق دي، او ټول د هغي عقيدې اقرار کوي کومه چې ابوجعفر الطحاوي – رحمه الله – (د العقيدة الطحاوية په نوم سره ليکلې) کومه چې مخکينو او وروستنو ټولو علماوو منلې ده!!

د تقليد د موضوع د تفصيل لپاره تقليد کی شرعي حيثيت د شيخ الاسلام مفتي محمد تقي عثماني صاحب او تُحفة المناظر د محترم استاذ حضرت مولانا ډاکټر منظور احمد مينګل صاحب – حفظهما الله – ته مراجعه وکړئ!

# د توبې اهميت

له انسان څخه ګناه کېږي، خو غوره هغه څوک دی چې بېر ته له ګناه توبه باسي.

الله - جل جلاله - پر خپلو بندګانو ډېر لوی احسان کړی دی چې د دوی د مرضونو لپاره يې علاج پيدا کړی دی.

ketabton.com - The Digital Library



مرضونه يې ګناوي دي او علاج يې توبه ده.

الله - رب العزت - ته توبه ايستل داسي عمل دی چې هيڅ مسلمان ترې بې پرواه کېدی نه شي، د هر مسلمان توبې ته اړتيا شته، هره ورځ يې ور ته ضرورت شته چې بايد الله پاک ته توبه و باسي.

الله پاک هم انسانانو ته په قرآن کريم کې په مختلفو مقاماتو کې د توبې ترغيب ور کړی دی.

الله – تعالى – فرمايي: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا تُوبُوا إِلَى اللَّهِ تَوْبَةً نَصُوحًا عَسَى رَبُّكُمْ أَنْ يُكَفِّرَ عَنْكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَيُدْخِلَكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ (التحريم:٨)

ژباړه: اې د ايمان خاوندانو: توبې و باسئ الله تعالى ته د اخلاص توبه، اميد دی چې ستاسو رب به له تاسو ستاسو بدۍ لرې کړي او تاسو به جنتونو ته داخل کړي چې لاندې به ترې ويالې بهېږي!!

له مخکيني آيته معلومه شوه چې د الله پاک له عذابه په پلمو څوک نه شي خلاصېدلی، نو په دې آيت کې فرمايي چې يوه لار د خلاصون شته او هغه الله - جل جلاله - ته په اخلاص توبه کول دي.

او دا طريقه خپلې کورنۍ او اولاد ته بيانول، څو هغوی هم له دې لارې ځان له عذابونو څخه وژغوري.

توبة نصوحًا :

دا د نصح څخه اخيستل شوی د خيري څخه پاکول.

يا د نصاحت څخه اخيستل شوی ( د جامې ګنډل )

په اولې معنی سره مطلب دا دی چې په اخلاص سره توبه کول.

ketabton.com - The Digital Library


او د دوهمي معنی په اعتبار سره مطلب دا دی چې د گناه له امله چې د الله - جل جلاله - سره د بنده تعلق پرې شوی دی، نو انسان باید داسي توبه و باسي چې هغه تعلق بېر ته وگنډل شي.

نو په توبې ایستلو سره الله - جل جلاله - ټول د ایمان خاوندان امر کړي او ور ته ویلي یې دي چې دا له عذابونو څخه د خلاصون یوازینۍ لار ده.

عَسَى رَبُّكُمْ أَنْ يُكَفِّرَ عَنْكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ ( الآية ) د عسی د لفظ ترجمه د امید ده او مُراد ترې وعده ده (چې د انسان د توبې له امله یې ور سره الله - جل جلاله - کوي ) خو له دغي وعدې څخه یې د امید په لفظ تعبیر کړی، په دې سره یې اشاره کړې چې که توبه وي او که نور ښه کارونه،دا یو هم د جنت او مغفرت قیمت نه دی او نه پر الله پاک دا لازمه ده چې څوک ښه کارونه وکړي هغه دي خامخا جنت ته داخل کړي ځکه د ښو کارونو یوه بدله خو انسان ته په دُنیا کې ده ته د ور کول شویو نعمتونو له امله ور کول شوې ده، بلکي جنت ته داخلول د الله پاک فضل او مهرباني ده (تفسیر معارف القرآن ص: ۵۰۶ ج: ۸ )

یعني د توبې او ښو کارونو سره به هم سړی نه بېغمه کېږي.

علامه ابن کثیر - رحمه الله – فرمایي: عسی ( امید ) د الله له لوري واجبوونکی دی (تفسیر ابن کثیر ص: ۲۶۱ ج: ۶ )

(یادونه: دا دواړي معناوي صحیح دي )

توبه ایستل پر هر چا باندي په هر حالت کې فرض عین دي په خاصه توگه د گناه کولو په حالت کې .

ketabton.com - The Digital Library


په بل ځای کې الله - جل جلاله – فرمايي: ﴿ وَتُوبُوا إِلَى اللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَا الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾ (النور:۳۱)

ژباړه: اې مؤمنانو! تاسو ټول په ګډه سره الله ته توبه و باسئ! د دې لپاره چې برى مو په برخه شي!!

له دې آيت مبارک څخه يوه دا مسئله هم را وزي چې توبه يوازې د هغه چا لپاره نه ده چې ګناه ترې شوې وې، بلکې هر څوک به توبې باسي، که نېک عمله دى او که بد عمله.

ځکه توبه يو مستقل عبادت دى له دې امله الله پاک ټولو مؤمنانو ته د توبې ايستلو امر کړى دى، په مؤمنانو کې د حضرت ابوبکر صديق - رضي الله عنه - په څېر خلګ هم راغلل، هغوى ته هم دا حکم دى چې توبه و باسئ، د دې لپاره چې تاسو کامياب شئ!

په حديث شريف کې د استغفار او توبې ډېر زيات فضيلتونه راغلي دي، رسول الله - صلى الله عليه وسلم – فرمايلي دي: طُوبَى لِمَنْ وَجَدَ فِي صَحِيفَتِهِ اسْتِغْفَارًا كَثِيرًا (رواه ابن ماجة ص:۲۷۹)

ژباړه: د هغه چا لپاره خوشحالي ده چې په عملنامه کې يې ډېر استغفار و موندى!!

جناب محمد رسول الله - صلى الله عليه وسلم – فرمايلي دي: يَا أَيُّهَا النَّاسُ تُوبُوا إِلَى اللَّهِ فَإِنِّي أَتُوبُ فِي الْيَوْمِ إِلَيْهِ مِائَةَ مَرَّةٍ (مسلم ص:346 ج:2)

ژباړه: اې خلکو! تاسو الله – تعالى - ته توبه و باسئ! په يقيني توګه زه هم په ورځ کې سل ځله توبه باسم!!

ketabton.com - The Digital Library


په دې حديث کې د توبې ډېر اهميت ته اشاره شوې ده،ځکه رسول الله - صلی الله عليه وسلم – له ګناهونو معصوم او پاک دی، هغه سل ځله په ورځ کې توبه باسي، نو موږ ته خو په کار ده چې تر دې زياتې توبې و باسو.

او بايد انسان د عبادت تر کولو و روسته هم توبه و باسي او له الله پاکه په عبادت کې د خپلې نيمګړتيا له امله بخښنه وغواړي.

پر انسانانو باندې دا د الله – جل جلاله - ډېر لوی فضل او احسان دی چې د دوی توبه قبلوي، ګناهونه يې ور بخښي او داسې يې پاکوي لکه بالکل چې يې ګناه نه وي کړې په حديث کې راغلي دي: التَّائِبُ مِنَ الذَّنْبِ كَمَنْ لَا ذَنْبَ لَهُ (ابن ماجة ص: ۳۱۳)

ژباړه: له ګناه څخه توبه ايستونکی د هغه چا په څېر دی چې ګناه يې له سره کړې نه وي!!

د توبې په هکله بايد سړی له تلواره کار واخلي ځکه يو خو د مرګ نېټه معلومه نه ده او بل دا چې علماء کرامو فرمايلي دي چې د توبې ځنډول هم ګناه ده.

که څوک غواړي چې الله – تعالی - ته توبه و باسي، هغه بايد لومړی توبه و پېژني، هغه شرائط و پېژني، له کومو پرته چې توبه ارزښت نه لري او په خپله توبه کې يې بايد مراعت کړي :

ketabton.com - The Digital Library



# د توبې تعریف :

د توبې لغوي معنی د گرزېدلو او رجوع کولو ده، مطلب له گناهونو گرزېدل دي.

او د قرآن او سنت په اصطلاح کې توبه د دې نوم دی چې سړی په خپلې مخکینۍ گناه پښېمان شي او په راتلونکي کې د هغې گناه خوا ته د نه تلو کلک عزم وکړي (تفسیر معارف القرآن ص: ۵۰۵ج: ۸)

# د توبې شرطونه

په توبه کې درې مرتبې دي:

۱: تر ټولو لویه او لومړنۍ مرتبه له کُفر څخه د ایمان په لور ور گرزېدل دي.

۲: په دوهمه مرتبه کې له کبائرو (لویو) گناهونو څخه توبه کول دي.

۳: په دریمه مرتبه کې له وړو گناهونو څخه توبه کول دي.

دغه درې سره مرتبې باید په عمل کې راوستل شي.

د توبې لپاره پنځه شرطونه دي، که په دغو شرائطو توبه برابره وه، هغه توبه فائده منده او د قبول وړ ده، که دغه شرطونه په توبه کې موجود نه وو، هغه توبه د قبلېدلو وړ نه ده.

هغه شرائط دادي:

ketabton.com - The Digital Library



۱: **اخلاص**: داسي توبه ایستل چې یوازي د الله تعالی ذات، د هغه رضاء او له هغه د خپلو گناهونو بخښنه غوښتل به یې مقصد وي. ریاء او خلگو ته په توبه سره ځان ښه سړی معرفي کول به یې مقصدنه وي، نه به خلګو ته ځان په توبې سره نږدې کول غواړي، نه به په توبې سره له ځانه د چا د تکلیف د لري کولو مقصد لري، لکه له حکومته ځان خلاصول، یا له بل چا ځان خلاصول چې هغه ور ته سزا ور کوي.

که دا نور مقصدونه څوک په توبه کې و لري، نو نه دا توبه ده، نه ثواب لري او نه الله پاک په داسي توبې سره گناهونه بخښي.

۲: **له کومي ګناه چې توبه باسي، د هغې په کولو به پښېمانه کېږي ځکه چې په پښېمانتیا سره په توبه کې صداقت راځي.**

داسي به نه وي چې یوه ګناه کوي وایي: بیا به توبه و باسم، د داسي توبې قبلېدل هم بعید وي ځکه په داسي توبه کې پښېمانتیا نه وي، په داسي حال کې چې پښېمانتیا د توبې د قبولیت لپاره شرط ده.

۳: **له کومي گناه چې توبه باسي، هغه به پرېږدي .**

داسي به نه کوي چې په ګناه کې لګیا وي او په خوله وایي چې توبه مي ده خدایه! داسي توبه هم د قبلېدلو پر شرائطو برابره نه ده.

ځکه د توبې مُهم شرط یې نه دی پر ځای کړی، چې له هغه پرته توبه هیڅ اعتبار نه لري.

د ګناه پرېښودل که د ناروا کار په پرېښودلو کېدل، هغه کار به پرېږدي.

ketabton.com - The Digital Library


که داسي ګناه وه چې د فرض یا واجب د پرېښودو له کبله وه، د هغې ګناه پرېښودل داسي کېږي چې هغه فرض یا واجب به اداء کوي لکه د بېلګي په توګه چا د خپل مال زکات نه وي ور کړی،اوس غواړي چې توبه و باسي،نو د ده د توبې د قبلېدلو لپاره دا شرط دی چې د کومو کلونو زکاتونه یې نه وي ور کړي، هغه به اداء کوي.

که ګناه داسي وه چې د بل چا د حق سره یې تعلق وو، د چا حق ور باندي وو ،قرض یې وي، یا یې له چا څه شی غلا کړی وي، یا یې یو شی په زور له چا اخیستی وي، نو د ده د توبې د قبلېدو لپاره دا شرط دی چې حقدار ته به د هغه خپل حق ور رسوي، یا به له هغه معافي غواړي، که هغه معافي وکړه، صحیح ده.

همدا راز د چا غیبت یې کړی وي،یا یې په چا پوري تُهمت لګولی وي او یا یې چا ته بد ویلي وي! نو د دې توبه دا ده چې له هغه به معافي غواړي، که هغه معافي وکړه، بیا به یې توبه صحیح وي، له دې پرته نه قبلېږي.

**۴: داسي عزم به کوي چې په راتلونکي کې به دا ګناه بیا نه کوم.**

که څوک داسي توبه و باسي چې په راتلونکي کې یې داسي نیت وي، چې کله په دې کار و توانېږم، بیا به یې کوم، نو دا توبه هم صحیح نه ده.

**۵: داسي وخت به وي چې په هغه کې توبه قبلېږي.**

که د توبې د قبلېدو وخت نه وو، بیا هم توبه فائده نه لري.

ketabton.com - The Digital Library



لکه د غَرغَرې په وخت کې چې کله د انسان ساه د وتو په حالت کې وي او تر ستوني پورې رسېدلې وي، په داسې وخت کې توبه نه قبلېږي لکه څنګه چې الله پاک فرمايي: وَلَيْسَتِ التَّوْبَةُ لِلَّذِينَ يَعْمَلُونَ السَّيِّئَاتِ حَتَّىٰ إِذَا حَضَرَ أَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ إِنِّي تُبْتُ الْآنَ ( النساء: ١٨ )

ژباړه: د هغه خلګو لپاره توبه نشته، چې پر لپسې بد کارونه کوي، تر دې پورې چې کله له هغو د يوه تن د مرګ نيټه را و رسېږي، وايي: اوس مې توبه و ايسته!!

همدا راز د لوېديځ له خوا د لمر له راختو مخکې به توبه باسي.

له دې و روسته هم توبه نه قبلېږي لکه څنګه چې الله پاک فرمايي: يَوْمَ يَأْتِي بَعْضُ آيَاتِ رَبِّكَ لَا يَنفَعُ نَفْسًا إِيمَانُهَا لَمْ تَكُنْ آمَنَتْ مِن قَبْلُ أَوْ كَسَبَتْ فِي إِيمَانِهَا خَيْرًا (الانعام:١٥٨)

ژباړه: په کومه ورځ چې ستا د رب کومې مخصوصې نښانې را ښکاره شي، بيا به يوه داسې چا ته د هغه ايمان هيڅ ګټه و نه رسوي چې مخکې يې ايمان نه وي را وړی، يا يې په خپل ايمان کې نېکي نه وي کړې!!

له دغو نښانو مُراد د مغرب له لورې د لمر راختل دي لکه څنګه چې په ډېرو احاديثو کې دا خبره راغلې ده، نو بيا که يو کافر ايمان راوړي، ايمان يې د قبول وړ نه دی، که مسلمان له ګناهونو توبه باسي، هم ترې نه قبلېږي.

وصلى الله تعلى على سيدنا محمد وآله واصحابه واتباعه اجمعين.

و سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَنَّ لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ، أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

پای

ketabton.com - The Digital Library


# د ليکوال نور آثار

١ : کامياب مسلمان ( پښتو، چاپ شوی )

٢ : کامياب مسلمان (اردو)

٣ : عيسى عليه السلام په اسلام او عيسائيت کې ( چاپ شوی )

۴ : صبح وشام کے مسنون اذکار اردو طبع شده

۵ : د سهار او ماښام مسنون اذکار ( پښتو ، چاپ شوی)

٦ : اسلام اور عيسائيت (اردو)

٧ : سيرة النبي – صلى الله عليه وسلم – ( نا چاپ )

٨ : عقائد الاسلام ( ناچاپ )

٩ : له ځانه جوړ شوي مشهور حديثونه ( نا چاپ )

١٠ :ارشاد العامة في المحاضرات الهامة ( غير مطبوع )

١١ : القول السديد لرد من انکر التقليد ( نا چاپ )

١٢ : مستند مسنون اذکار او دُعاګاني ( نا چاپ )

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*